# داسي
# هم
# کيږي

پروفېسر فضل کريم ناشاد



DMCA.com
PROTECTED & MONITORED

**Uploading to other domains or freeware drives is prohibited**

Pukhto.Net
پښتو

# داسې هم کېږي

پروفیسر فضل کریم ناشاد ټانه ملاکنډ ایجنسی

بسم الله الرحمن الرحيم

# ټول حقونه د مصنف سره خوندي دي


| | | |
|---|---|---|
| کتاب | : | داسې هم کيږي |
| مصنف | : | پروفېسر فضل کريم ناشاد |
| خپلې خبرې | : | مصنف |
| تاثرات | : | پروفېسر محمد نواز طائر تانړه |
| رنګ په رنګ (ديباچه) | : | زرنوش شهاب تانړه |
| تاثرات | : | پروفېسر ثروت وهاب ګرلز کالج تانړه |
| تاثرات | : | نقيب احمد جان کبل سوات |
| کمپوزنګ | : | سعيد احمد انجم |
| تعداد | : | **500** |
| قيمت | : | **180** يو سل اتيا روپۍ |
| تاريخ اشاعت | : | ستمبر **2013** |
| د ملاوېدو پته | : | يونيورسټي بک ايجنسي پېښور |
| | | اکرام بک سيلرز مينګوره |
| | | زاهد بک سيلرز تانړه ملاکنډ |
| | | ظفر بک سيلرز تانړه ملاکنډ |
| | | اداره فروغ تعليم پېښور صدر |


جان کتاب کور کبل سوات
نقيب احمد جان اينډ برادرز حاجي اقبال پلازه کبل سوات فون: 6961 951 345 92+
e-mail: naqibahmed@hotmail.com , naqibahmadjan@yahoo.com

# تړون

دهغـه ټولـو انسـانانو پـه نـوم څـوک چـې پـه زړۀ کښـې د جملـه انسانانو سره بغېر د څه طمعې، لالـچ او پرې جنبې مینـه لری. او په زړۀ کښې د هر انسان د پاره زبردسته خېر خواهی لری.

چـې د خلقـو خېـر خـواهی لـرې پـه زړۀ کښـې
مبـارک شـه بادشـاهی لـرې پـه زړۀ کښـې
(خوشحال خان)

فضل کریم ناشاد

# داسې هم کیږي


| صفحه نمبر | عنوان | نمبر شمار |
|---|---|---|
| 10 | پېژندګلو | 02 |
| 13 | خپلې خبرې (مصنف) | 03 |
| 15 | تاثرات ( پروفېسر محمد نواز طائر صېب تاڼه) | 04 |
| 23 | رنګ په رنګ (زرنوش شهاب تاڼه) | 05 |
| 29 | تاثرات (پروفیسر ثروت وهاب ګرلز کالج تاڼه | 06 |
| 32 | داسې هم کیږي او ناشاد صېب (نقیب احمد جان کبل سوات ) | 07 |
| 36 | د مار او د نولي جنګ | 08 |
| 37 | What he syasدے څه وائي | 09 |
| 38 | ګران دے او اسان دے | 10 |
| 39 | د هوټل د نوکر مینه | 11 |
| 40 | اوس ټول خو راباندې مه بخښه کنه | 12 |
| 41 | پښتانه د چا مشري نه مني | 13 |
| 42 | په دوزخ کښې د پښتنو په دېګ سر نه وو | 14 |
| 43 | د انګریز ډپټي کمشنر فیصله | 15 |
| 44 | که د پل صراط د هال وی نو ابئ خو ترې غورزیدلی واخله | 16 |
| 45 | دا ټانګه ما لس روپئ جرمانه کړه | 17 |
| 46 | ولې ته د کابل نه ئې | 18 |
| 47 | سم څملئ | 19 |
| 48 | ماشوم دکاندار په ژړا شو | 20 |
| 49 | شیطان خو په مونږ چرته حلوه ونه خوړۀ | 21 |
| 50 | که زر وی که طائع زر وی خو چې زر وی | 22 |
| 51 | مستې منګے بر وړے دے زړۀ مې دلبر وړے دے | 23 |
| 53 | د چوک یادګار په ځائے په چوکیدار مضمون | 24 |

| | | |
|---|---|---|
| 54 | دا يو ترې زما ځانله دا نور په تاسو واړه | 25 |
| 55 | سرکاري روټۍ | 26 |
| 56 | داسې هم کيږي | 27 |
| 58 | واوړۀ راواوړۀ ببو دغه نانا دے | 28 |
| 59 | ډانډچ د کم | 29 |
| 60 | ته مونږ تاسې کالج ته سبق له ليږلے ئې شاعرۍ له مو نه ئې | 30 |
| 62 | پټهان د ډز نه نه ويريږي | 31 |
| 63 | د فلمي ګانې پيروډي | 32 |
| 65 | د فټ بال د مېچ نه تور جوړ شو | 33 |
| 69 | د ملا بهادر اودس مات شو | 34 |
| 71 | زر تاجه فلم لګېدلے دے | 35 |
| 72 | موږ ورته ماويز بولی | 36 |
| 73 | مونږ چاړاګان نه پرېږدو | 37 |
| 74 | د غنمو بوجۍ او سودائي | 38 |
| 75 | دا ستاذانو حلوه او پيشو | 39 |
| 76 | د ماشومانو ښکلي عادتونه | 40 |
| 77 | دا خو سمه دمه قالدره ده | 41 |
| 78 | کشور حسين شاد باد | 42 |
| 79 | لالا مار دے شل راوړۀ | 43 |
| 80 | قائد اعظم چې ستا په عمر کښې وو پاکستان ئې جوړ کړے وو | 44 |
| 81 | بيا د دې خلقو سره مه ګرځه | 45 |
| 82 | يو مې ځواني بل مې د سرو شونډو خندا دۀ | 46 |
| 85 | ابۍ يو سټ | 47 |
| 86 | که لګی بوتل به لګی | 48 |
| 88 | ميرا سفيده بھاگ گيا ہے | 49 |
| 89 | وېګن کښې شاته يو سړی وئيل هغه مړی خپه را ښکته کړه | 50 |

| | | |
|---|---|---|
| 91 | د هټلر پرائمری تعلیم کمزورے دے | 51 |
| 92 | څه چې تاسو اغستي دی هغه ستاسو دی<br>او څه چې مونږ اغستي دی هغه زمونږ دی | 52 |
| 93 | ادریس علیه السلام په جنت کښې پاتې شو | 53 |
| 95 | حجاج بن یوسف او د عبد الله بن هلال جادوګر ملاقات | 54 |
| 98 | لونګ کرم خوک دے | 55 |
| 99 | ناشاده نور ورته منت مه کوه | 56 |
| 101 | په موټر وے به ځو خو غوټه درسره غټه راواخله | 57 |
| 103 | ماله ښځه رائې نه راکوی نو لفټ به څه راکړی | 58 |
| 104 | د تاني کالج د پرنسپل مرزا منظور احمد<br>او د ټیلی فون اپریټر یو بل ته کنځل او بدې ردې | 59 |
| 105 | ایک پٹھان آیا تھا۔ سنہ خورم سنہ خورم کرتا تھا۔ سب کچھ کھا گیا | 60 |
| 106 | جبلوسس کلاس میں بیٹھا تھا۔ اور استاد انگو پڑھا رہا تھا | 61 |
| 107 | هلکانو ته دا پته نه لګی چې مونږ څه وایو<br>او د دې چغو او جلوس څه مطلب دے | 62 |
| 109 | زۀ مسلمان یم . د هندو وزیر په پیروی کښې استعفی نه ورکوم | 63 |
| 111 | دا لس ځناور به جنت ته ځی | 64 |
| 112 | ستا په خدائے پاک د حفاظت یقین نشته | 65 |
| 113 | په کرفیو کښې تیښته او د مستریانو سره په کار کښې شاملیدل | 66 |
| 115 | رښتیا خبره دا ده چې تعلیم ښه شے دے | 67 |
| 117 | ہمارے ہوٹل کے ملازم بڑے بے وقوف ہے | 68 |
| 119 | پس د دې نه ستا نوم پاکستان شو | 69 |
| 120 | یو خو د کابل مُلا دے دا پکښې لابل مُلا دے | 70 |
| 121 | د دیدن برخه درنه غواړم ما وئیل وئ وئ بنګړی مې مات شو | 71 |
| 122 | چپلو!!!! یہ بچوں کا انسپکٹر ہے | 72 |
| 123 | په مولو کښې دې کاڅرې منډلې دی | 73 |

| | | |
|---|---|---|
| 124 | په کافرو جنت حرام دے | 74 |
| 125 | کافر چرګ به دې پوخ کړے وو | 75 |
| 126 | د شیطان دعویٰ | 76 |
| 127 | ہالٹ اباوٹ ٹرن Halt About Turn | 77 |
| 128 | د حضرت موسی علیه السلام او د شیطان ملاقات | 78 |
| 129 | ابلیس د نوح ﷺ په کشتۍ کښې څنګه داخل شو | 79 |
| 130 | چې زۀ سړے یم زۀ دې راشم کنه | 80 |
| 131 | د تېمرګرې کالج طالب علمان د کراچۍ په شادی هال کښې | 81 |
| 132 | مری سادگی دیکھ کیا چاہتا ہوں | 82 |
| 133 | شہادت کی انگلی پر | 83 |
| 134 | ماقبوله کړی وی او قبوله کړی مې ده | 84 |
| 135 | د جوارګر کوزه لاسلونے | 85 |
| 136 | مونږ سحر وختی په خړه کښې د مسافرو نه غلا کوو | 86 |
| 137 | هغه ښځه پرې خبرشوه؟ | 87 |
| 138 | ما خو د مړی جنازه کړی ده | 88 |
| 139 | ستا سره زما دوستی د ډیوټۍ د حده پورې وه | 89 |
| 141 | دواړه یو شان یو | 90 |
| 142 | چرګ نن په چُټۍ دے | 91 |
| 143 | ګډ شه ورته ، ګډ شه ورته | 92 |
| 144 | تا ته پته شته ؟ دې هلک زما سره ګستاخی کړی ده ته څنګه د ده سفارش له راغلے ئې | 93 |
| 146 | د ډاکوانو نه ببزه جوړه شوه | 94 |
| 147 | که د نهه نهه کالو دوه جینکۍ وی نو خبر دے ؟؟؟ | 95 |
| 148 | بیا مې توبه دۀ د جینکو سره به هېڅ کله هم چېړ نه کؤم دا تولې زمونږ خویندې دی | 96 |
| 150 | د پیشو او د منږک د شمنی ختمه شوه | 97 |

| | | |
|---|---|---|
| 98 | په بټ خیله کښې پنځه زره د کانونه دي | 151 |
| 99 | تا ته لاډېر عمر پاتې دے | 152 |
| 100 | دا سوے کال به تېر شي خو ستا دا سوے پتون به مې هېر نه شي | 153 |
| 101 | تم نے کوئی خواب تو نہیں دیکھا؟ | 154 |
| 102 | مونږ دواړهٔ ملائک یو خوراک نهٔ کوُو | 155 |
| 103 | زما نه خو کلیمه هېره شوه | 147 |
| 104 | تا قسم اوخوړو ډالرې تا پټې کړې دي | 158 |
| 105 | خدایه دښمن مې تباه کړے<br>د یوې ښځې په حج کښې خبرې کول | 159 |
| 106 | خدا کی کوئی شان سے لے جائے | 160 |
| 107 | دا دے د خوبه دے ــــ په خوب کښې ئې دا خبرې کولې | 161 |
| 108 | تاپه د غوث بابا په خله کښې پرته ده | 162 |
| 109 | تا د خلقو وینې راغونډې کړې دي او ماله ئې راکوې | 163 |
| 110 | بیا به په تیاره کښې د زمکې شي له ګوتې نه وروړم | 164 |
| 111 | ملخیه یو ځل بچ شوے، بل ځل بچ شوے ، په دریم ځل راګېر شوے | 165 |
| 112 | اباسین صېب یو غزل خو راته اووایه | 166 |
| 113 | د جمیل یوسفزی (په څپر سنډا) زما په نظر کښې (مزاحیه) | 168 |

# پېژندګلو

| | | |
|---|---|---|
| نوم | : | فضل کریم ناشاد (عرف سپین دا) |
| تخلص | : | ناشاد |
| د پلار نوم | : | صوبیدار فضل هادی خان |
| کلې | : | تاڼه ملاکنډ |
| د نیکه کلې | : | شېرخانه |
| د مور د طرف نیکه: | | بره بازدره |
| تاریخ پېدائش: | | یکم فروری 1948ء |
| محله ډنډه | : | تاڼه |
| تعلیم قابلیت | : | ایم اے پښتو 1972ء<br>پېښور یونیورسټی<br>ایم اے اردو 1971ء<br>پېښور یونیورسټی |
| ملازمت | : | جنوری 1968ء تا جون 1968 ء<br>جی جی بی استاذ ورتېر ملاکنډ<br>جون 1968 ء تا اکتوبر 1971 ء<br>جونئیر کلرک پاپولېشن پلاننګ ملاکنډ<br>24 اګست 1977ء تا جولائی<br>1978ءلیکچرار پښتو ګورنمنټ<br>کالج وانا جنوبی وزیرستان<br>جولائی 1978 ء تا دسمبر 1980ء<br>لېکچرار پښتوګورنمنټ کالج تېمرګره<br>جون 1990 ء تا مئی 2000 ء لېکچرار<br>اسسټنټ پروفېسر پښتو درګۍ کالج |

مئی 2000ء تا جنوری 2008ء اسسټنټ
پروفېسر/ ایسوسیټ پروفېسر ګورنمنټ
کالج تانړه ملاکنډ
ریټائرمنټ یکم فروری 2008ء
ګرلزکالج اکتوبر 1998ء تا 2000ء تانړه
د تانړې بوائز کالج نه به بیا هم ګرلز کالج
ته د 2008ء پورې کلاسونو اغستو له تلم
د دسمبر 2009ء نه تر جنوری 2012ء
پورې زهٔ په سباؤن هائیر سیکنډرې
سکول رنګ محله کښې استاذ ووم

| | | |
|---|---|---|
| اولنے چاپ کتاب | : | پئیلې ملغرې 1983ء |
| دویم کتاب | : | د مشکو نافې 1987ء |
| دریم چاپ کتاب | : | د مینې اور 2007ء |
| څلورم چاپ کتاب | : | ستا منزل منزلونو کښې یمه 2012ء |
| پنځم چاپ کتاب | : | هم دا کتاب |
| فون | : | 0932441976 |
| موبائل | : | 03469424662 |

ادبی هلې ځلې : په 1962ء کښې اول ځل د شهېدانو خوا ته په یوه مشاعره کښې شامل شوم. بیا به د ملاکنډ ادبی ټولنې زیر نګرانی په مختلفو مشاعرو کښې ما برخه اغسته. چې محمد اسلام اجملی صېب شیر محمد مېنوش. رحمت شاه سائل ، محمد اسلام ارمانی ، زر نوش شهاب، صابر سرهندی ، فضل وهاب کامل ، رضاشاه رضا ، شېرزمان سیماب ، عبد الحکیم قادری ، خورشېد روشن ، او داسې نورو به په کلی کښې ګډون کؤو. بیا د 1996ء خواؤ شا تانړه ادبی ټولنه جوړه شوه. چې دا شاعران ادیبان پکښې اهم عهدیدران وو. حبیب الرحمان افګار ، شیرزمان سیماب ، فضل معبود صائم ، شهباز محمد

شهباز ، ډاکټر غلام حسین یاس ، جمیل تاج ، دا ټولنه اوس هم فعال ده. مختلف پروګرامونه کوی مونږ پکښې ګډون کؤو. د دې نه علاوه د صوبې په اکادمی ادبیات پېښور ریډیو، پاکستان پېښور، . پاکستان ټیلی ویژن سینټر پېښور، پښتو اکیډمی پېښورکښې مې په مختلفو پروګرامونو کښې برخه اغستې ده. او چې کله دعوت راکړی نو څم ورله درحمان ادبی جرګه پېښور یاران قلم ادبی ملګری اله ډنډ، د بټ خیلې د پام او د مل ادبی ټولنے (اله ډهنډی) ادبی تنظیمونه او د ضلعې انتظامیې زیر نګرانی او د سوات د ادبی تنظیمونو زیر نګرانی په مختلفو پروګرامونو کښې مې هم برخه اغستی ده. او د دوئ په بلنه هر یو ته څان رسؤوم. دکاروان پښتو، جمهور اسلام پېښور، اباسین اسلام اباد، او په نورو پښتو رسالو کښې مې وخت په وخت غزلې ، نظمونه وغیره چاپ شوی دی.د خیبر پختونخوا په اخبارونو لکه انجام پېښور، بانګ حرم پېښور، شهباز پېښوراو هېواد اخبار کښې مې وخت په وخت غزلے نظمونه او مقالے چاپ شوی دی. د انټرنېشنل اسلامک یونیورسټې دعوی اکیډمی اسلام اباد په بلنه مې په یو ورکشاپ کښې برخه اغستی وه. چې یوه هفته جاری وه. پروفېسر عبدالحق نسیم پروفېسر غلام یوسف یوسف او پروفېسر محمد نواز طائر صېب مې وخت په وخت رهنمائی کړی ده. پروفېسر محمد اسلام ارمانی صېب مې هم په څنې موقعو کښې رهنمائی کړی ده .

# خپلې خبرې

(داسې هم کيږي) په پښتو ادب کښې زما پنځم او په نثر کښې اولنے کتاب دے. ما چې په خپل ژوند کښې څه لطيفې يا علمي، ادبي او معلوماتي خبرې اوريدلې دي. هغه لوستونکو ته په دې غرض وړاندې کؤم چې د مزاحيه خبرو نه خوند واخلي. او د علمي ، ادبي او معلوماتي خبرو نه خبر شي. او فائده ورته هم وشي. ما خپل پوره پوره کوشش کړيد ے چې زۀ سل په سله صحيح خبرې لوستونکو ته وړاندې کړم خو کيد ے شي چې څنې خبرې سل په سله رښتيا نه وي. او څه کمے زياتے پکښې وي. او خامخا به وي. نو زۀ د لوستونکو نه د دې کمې زياتي د پاره بخښنه غواړم. طمعه لرم چې لوستونکي به ما له غوريزې مشورې راکړي. ډيرې خبرې داسې وي چې هغه په خله وئيلې شي خو په ليکلو کښې نه شي راويستے. د داسې خبرو نه ما ډډه کړې دۀ. د داسې خبرو نه مې هم ډډه کړې ده. چې يا پکښې د چا سپکاو ے کيږي. يا پرې څوک بدګڼي. د هر بنده د عزت نفس خيال مې ساتلے دے. او پکار هم ده. د مذهبي کتابونو څنې خبرې مې پکښې په دے غرض شاملې کړې دي. چې د مذهب متعلق خلق د بعضې بنيادي خبرو نه خبر شي. خو دا خبرې دومره دلچسپې دي. چې لوستونکي ترې خوند هم اغستے شي. زۀ د هغه ټولو ليکوالو شکريه ادا کؤم چا چې زما سره د دې کتاب په ترتيب او اشاعت کښې مدد

کړے دے.زرنوش شهاب صېب زما په کتاب خوندور ليکل کړی دی. هغوئ د ملا بهادر د اودس په قيصه کښې د خپلو معلوماتو مطابق نوره اضافه هم کړی دهٔ. چې د قيصې خوند ئې نور هم سېوا کړے دے. د دې ليکلو د پاره د هغوئ ډېره ډېره مننه. زهٔ د نقيب احمد جان صېب کبل سوات ډېره شکريه ادا کوم چا چې د خپلو مصروفياتو باوجود ما له وخت راکړو. او زما په کتاب ئې نه صرف ديباچه وليکله. بلکې په ترتيب کښې ئې هم زما مدد اوکړو. د پروفېسر ثروت وهاب ډېره ډېره مننه چا چې په اردو ژبه کښې په دې کتاب خپل خوندور تاثرات ليکلی دی. او زما حوصله افزائی ئې کړی ده. زهٔ د جناب پروفېسر محمد نوازطائر صېب بې حده احسان مند يم. چا چې په خپل روايتی انداز کښې زما په کتاب په زړهٔ پورې تاثرات ليکلی دی. د کتاب د کمپوزنګ د پاره د جناب سعيد احمد انجم ډېره ډېره مننه چا چې د کتاب کمپوزنګ ډېر په ښکلی ډول کړے دے.

فقط

والسلام

پروفېسر فضل کريم ناشاد

محله ډنډه تانه ملاکنډ

# داسې هم کېږي

تېره ورځ چې زۀ د هاغه قرئې نه سترړے ستومانه بېرته خپل کلی ته را ورسېدم نو لوږ مازيګر وو. لاسم ټيکاؤ شوے نه ووم چې رينګ راته اوشو. هيلو....ما ورله څه سترړے نا خواله شان غږ ورکړو. وئيل ئې زۀ ناشاد خبرې کوم پروفيسر ناشاد فضل کريم ته په کوم ځائے کښې ئې زۀ ستا خوا له درځم خپل نوے کتاب دروړم چې څه ورباندې وليکې. ما وئيل ناشاد صېب زۀ خو اوس په دې ساعت ايله په چړات راوړېدلے يم. د دواړو غاړو لويه لاړ مې وهلی ده. ټوله ورځ مې بې ارامه تېره کړې ده. ستاسو کلی بازدرې ته تلے ووم ايله اوس بېر ته را ورسېدم. او موبائل مې کېښودو. زۀ د څه لږ شان ارام په نيت پرېوتم په بالښت مې سر کېښودو لا مې سترګې پوره ورغلې نه وې چې کشر هلک راته ور وټکوو وئيل ئې هغه پروفېسر صېب راغلے دے. ما وئيل د چايو اوبو مدار ئې اوکړه او ورته اووايه که څه سوال جواب ئې هغه دې درته هم اوکړي. وايه هغه اوس په خوب ورغلے دے ډېر سترړے وو څه چائې ډوډۍ ئې هم نه دی کړې.

زما د عذر څه داسې بې ځايه نه وو. زۀ هم د هغوئ د هاغه بد مرغه کلی نه بېرته راستون شوے ووم. چرته چې تېره جمعه د

نمانځه په وخت په دوو جماتونو کښې د بمونو چاودنې شوې وے. ډېر غريبانان چې د نمانځه د پاره راټول شوی وو پکښې بې ګناه بې قصوره ټوک و ستری شوی وو. څه پکښې مړه وو څه ژوبل وو. حادثه بې شانه د لخراش وه. خپل پردی ټول په دې د لګدازۀ واقعه ډېر زيريدلی او خفه شوی وو. په ټول ملک کښې هر پله دا غم انګېزه خبر خور شوے وو. دا د مئ 2013 ع لسمه نيټه وۀ. صبا ته په ټول ملک کښې اليکشن کېدونکے وو. ما ته دغه وخت د پېښور په خوا کښې په دواوه کښې د سو ټمارې کلی د سيد بو علی شاه د خُلې هاغه خبره را په ياد شوه چې وئيلی ئې وو چې:

کور ته راغلم فکر وړے وومه ځان ته

ځان مې جوړ کړو د ادم درخو بيان ته

وئيل ئې پېښور ته تلې ووم. هلته خبر شوم چې په عمرا خان پسې لښکر دے. دۀ پريکړے په چترال د انګريز دے په دغه موقع دغې نو موړی اولسی شاعر د ادم خان درخانۍ هاغه رومانی داستان د پېښور د يو کتب فروش سيدان شاه د پاره ليکلے وو. هم په دغې حواله ئې د 1895 عيسوی کال د يوې تاريخی واقعې په پس منظر کښې د باز درې د دغه کلی ذکر د قيصې په اغاز کښی راوړے وو. باز دره هغه کلے دے چې دغه رومانی داستان ورسره منسوب دے. او د دې مخه ئې د زمانو راسې لکه د هير رانجها د تخت

هزارې په درناوی او احترام ذکر کولې شی. ولې نن د دغه انګیزې حادثې دا پیښه هم د دې کلی په برخه وه. دا ولې؟ دا په کوم ګناهٔ؟ دلته خو نه اورنګ وو او نه فیرنګ او نه پکښې چرې چا د چا ملاسته غوا پاڅولې ده. دا خو د غرونو په مینځ یوه ځان ته ګوټ ته پرته دامن او د صلحې امن و اشتی ټاټوبے وو. ولې د جمعې په مبارکه ورځ پکښې دوهٔ پخوانی جماتونه په بمونو والوزولے شول. او نمانځه له راغلی واړه زاړه او زلمی ئې پکښې څه څوک په دائمی خوب اودهٔ کړل او څه د پاتې عمر د پاره معذور او مات ګوډ کړل. داسې خو به چرې کافرانو هم نه وی کړی. زهٔ په دې موقع د خپلو څو تنو ملګرو سره د غمرازۍ او عیادت په نیت بازدرې ته تلے ووم. څهٔ لږ شان امدادی رقم چې مو په ټولنه د یو بل نه راټول کړے وو هغه مو هم په طور د څه لږ ډېر امداد هلته رسولے وو. دا زمونږ انسانی فرض وو. مونږ د خپل کلی د مواخات ټولنې له خوا خپل دغه امداد د غریبۍ په دې موقع سر ته د رسولو څه دغه اهتمام کولے شو. نور مو د دعا نه بغیر د وس نه بهر وهٔ. مازیګر نژدې وو چې مونږ بېرته خپل کلی ته را ورسېدو. برخوردار عسکر سره د یوې کڅوړې بېرته زما کمرې ته رانننوتو وئیل ئې پروفیسر صېب خو لاړ شو ولې دا څه ئې راکړل د دې سره ئې یو لیکلے خط هم پرېښودو. ما اول هاغه خط اولوستو چې پکښې ئې لیکلی وو. سلامونه ستاسو د سترېوالی د احساس تر مخه ستاسو په ارام کښې ما خلل اچول مناسب ونه ګڼل په دې وجه کتاب ما ستاسو برخوردار ته حواله کړو او لاړم. نن سبا د چاپ کېدو په مرحله کښې

دے. زرنوش شهاب پرې خپل تاثرات لیکلی دی. د هغې فوټوسټیټ مې هم راوړی دی. په دی خپل تاثرات اولیکئ. یوه هفته پس به ئې زۀ تپوس اوکړم. بخښنه غواړم

فقط

والسلام.

پروفېسر فضل کریم ناشاد تانه

ملاکنډ ایجنسی.

زما هلک ما ته دا هم اووئیل چې پروفېسر صېب راته په تلو تلو کښې دا هم اوئیل چې دا یو څو لطیفې مې راجمع کړی دی اووئې ګورئ او لیکل دی وربانديې اوکړی. زۀ په فکر کښې پرېوتم. په دې زړۀ کښې مې وئیل چې دۀ ته لاګوره. ریښتیا دی چې شاعران دی کنه ګنې نور عالم په څه دے او اسلم په څه دے خلق ئې د کلی غم ژاړی او دے په لطیفو سر دے. بازدره دړې وړې شوی ده او ناشاد لکه د روم د بادشاه شپیلۍ غږوی. دے خو هم د بازدرې کلی د یوې درنې کورنۍ غړے دے. په دې څه که خپل کور ئې دلته په تانه کښې هم دے. نوم خو ئې د بازدرې سره تړلے دے. په زړۀ کښې مې پرې کبیده خاطر شوم. بیا هم ما د پروفېسر د لطیفو دغه مجموعه څه سر سری شان واړوله راواړوله سمه مې او نه لوستله. یو اړخ ته مې هاغه کښوړه

کېښوده. دا مې خيال وو چې ګڼې دا به ئې د جميل يوسفزئي د هاغې کتاب په جواب کښې انتقاميه څه اخوا ديخوا خبرې راټولې کړې وې او کتاب به ورنه مرتب کړے وي. خپل د زړۀ بړاس به ئې وربانديې ويستلے وي. زما په نظر کښې دا هم يوه ټريجډي کاميډي شان وه. چې د دوو پروفېسرانو تر مينځه راز يګيدلې دۀ. او اوس ورسره زۀ هم لکه چې مخ ووم. ولې دا خو هم د پښتو ادب يوه برخه کېدے شوه. خيال مې دا وو چې د هرې خبرې يو وخت وي. ما د دې نه وړاندې هم په دې حقله هغه تر خپله رائې په کرات مرات سرګند کړے وو ولې اوس په دې موقع راته خپله يوه هائيکو رامخې ته کېده چې:

بازدرې هاغه دې هم رود هغه دے
نه ادم خان نه درخانئ شته پکښې
څکه نغمې د رباب خوند نه کوي

ولې اوس ماحول ټول بې خونده او بې مزې شوې وو. زۀ څو ورځې په دې شش و پنج کښې ووم. ولې انکار مې کولے نه شو. په دې چې د ناشاد د مخ راباندې ډېر ګران وو. او بيا يوه ورځ چې په خود کښې شوم او اړخ مې بدل کړو نو په قول د ناشاد چې کله سملاستم نو د کتاب خوند ټوټې مې ځان ته رامخکښې کړې. اوس ئې پوره په غور او انهماک لوستو ته کېښناستم. اول مې د ښاغلي زرنوش شهاب نقطه نظر وربانديې ولوستو. هغه چې کوم حقائق په دې باب له رابرسېره کړې وو دا واقعې چې هم دلچسپ وو او هم فکر انګېز وو. خپل دا کتاب لکه چې ښاغلي پروفېسر د بازدرې د دې غېر متوقع



Pukhto.Net

حادثې نه وارېندې سر ته رسولے وو. مسوده ئې مکمل کړې وه. ټول ضروری اقدامات ئې من و عن سر ته رسولی وو. اوس خبره تش چپائۍ ته پاتې وه. او ما له ئې د دې مسودې یو نقل په دې غرض راوړے وو چې وئې لولم او خپل تاثرات ورباندې ولیکم. د ناشاد ذهن او فکر ډیر متوازن او متنوع هم دی او زرخېز هم هغه دا غوښتل چې په دې میدان کښې هم څه سبقت تر لاسه کړی. د دې ذکر ئې دا ګاهو نه راسره کړے هم وو ولې باور مې نه وو. ما تشه دا ګڼلی وه چې د خپلې هاغی انتقامی جذبې راپارولے دے. نور څه نه دی. ولې کله چې بیا زهٔ د دې لوستو ته کېښناستم نو پوهه شوم چې په دې کښې څه نور هم ډېر څه دی. په خپله بدګمانۍ څه نادم شان شوم. خپل ځان مې وکړولو. پوهه شوم چې بدګمانی واقعې ښه شے نه دے. کله نا کله سړے د دې د لاسه تیندک هم وخوری پروفیسر صیب یو ډېر ساده مزاج، مخلص او پاک زړے ، نیک طبیعته انسان دے. څه اوشو که زمونږ ددې د نوی صوبې منتخب شوی وزیر اعلی پرویز خټک په شان چې په بهر که څوک هر څنګه وی ولې په کور کښې ورباندې ښځه زوروره وی. مونږ ټول دغه شان یو ولې په چا تېره ده او په چا تیریږی. ناشاد غریب هم په دغه کشتۍ کښې په سفر دے. ډېرې قیصې لطیفې ئې د خانګی ژوند په باب له ډیرو ته یادې دی. زهٔ هم ورنه څو څو واره لطف اندوز کړے شوے یم. ولې په خپل دې کتاب کښې مې داسې څه نه دی راوړی. هسې خو د لېدو اورېدو پکښې ډېر څه راجمع کړی دی او زهٔ ئې د خپلې حافظې د قوت قائل کړے یم.

دومره ډېر څه د خپل ذهن په دغه بخڅه کښې جمع کړی دی چې سړے ورته حېران شی. بې شکه چې دا د یو ښه استاذ مربی لار ښود او مدرس هاغه صفات دی چې په ډېر کم چا کښې موندے کیږي. مونږ چې کله د خپل یو پخوانی استاذ او معلم عبد المالک خان خبرې کؤو نو د هغه د فلسفیانه مزاج او ښیرازه فکر معترف کیږو. په دے چې هغه د خپل وخت یو مثالی او قابل تقلید شخصیت وو. هغه یو دروند مشر وو. هم ئې ناسته پاسته د درنو په شان وۀ او هم ئې خبرې اترې داستاذۍ او بالغ نظرۍ وې.

پروفېسر ناشاد هم د خپل مزاج نه ډېر بوله، پاکباز او ساده انسان دے. زړۀ ئې هر کله دا غواړی چې هر هغه څه دې په نورو هم پېرزو کړی کوم څه چې د هغه په نظر کښې قابل تقلید دی یا ورنه د تیندک خوړلو کومه خطره راوړېدې شی. کوم څه چې ئې په تجربه کښې راغلی وی هغه نورو ته رسول غواړی. د هغه راټولې کړې او لیکلی خوند ټوټې هسې په ظاهره خو ټوقې معلومېږی ولې په حقیقت کښې لکه د کاڼی کرښې چې وی. چې د لوستو خو دی ولې د ورانېدو نه دی. زۀ پروفېسر ناشاد ته د هغه په دې بدله نثری کاوش تبریک وارِندې کوم. په دې چې په پښتو ادبیاتو کښې نه خو لا کوم نامی ګرامی فکاهی راپېدا شوے دے او نه په دې هنر داسې څوک پوهه دی. نه چا چرې ملا نصیر الدین پېژندلے دے او نه د حاجی بابا اصفهانی په لاره یون کړے دے. په پښتو ادب کښې لکه د اردو هندۍ ژبې کوم اکبر اله ابادی ، کرنل محمد خان، سموډور شفیق

الرحمن ، جستس کیانی مجید لاهوری یا ځنې نورو داسې ټوک د اوچتې پائې فکاهیه نګاران په نظر راځی او نه ټوک د کچکول خاوندان داسې موجود دی چې نوم ئې د ذکر وړ وی. تش یو لیونے فلسفی عبد الغنی خان داسې وو چې په خپلو ګډوډوئې خپل ځان په هر چا منلے وو. ولې د هغه نظر او فکرونه یا خود خانی وو او یا بیا سیاسی وو. داسې نه وو چې فولکوری خوند ټوټې ورنه سازیدے شوې. نو اوس که د پروفېسر ناشاد دا راجمع کړی لطیفې داسې وی چې هم د ادب په دائره کښې دننه وی او هم فولکوری خوندونه لری نو دا به بې شکه چې د هر چا د کتو او اورېدو وی. هم به ورنه زده کړه کیږی او هم به ورنه خوند او مزه اغستې کیږی. په مصداق د رحمن بابا د دې شعر چې:

هم نغمې کاندی هم رقص کا هم خاندی
د رحمن په شعر ترکې د باګرام

د پروفېسر ناشاد په حق کښې مې دا دعا ده چې اللہ کرے زورِ قلم اور زیادہ. امین

وما علینا الاالبلاغ
محمد نواز طائر
ټیکاؤ منزل
**01-06-2013**

# رنګ په رنګ

رنګ په رنګ يوه ډېره ښکلې روزمره ده. چې په خپل انداز کښې په ډېرو موقعو په کار راوستې شي. په محاوراتي انداز کښې هم استعمالېدے شي. رنګ په رنګ روزمره استعمال شي او که د محاورې په توګه په کار راوستې شي. وسعيې معنې او مفهوم لري. رنګ هسې هم رنګ وي او بيا چې ورسره بل رنګ ملګرے شي. نو هر يو شے رنګينه شي او په معنی او په مفهوم کښې ئې وسعت پيدا شي.

خوشحال خان خټک وائي:

چې په باغ کښې رنګا رنګ ګلونه وشي
غنيمت ده د ګلونو تماشه هم
ارغوان که بنفشه که شقائق وي
زيبائي لري يو ځائے جدا جدا هم

رښا هم د اووه رنګونو نه جوړه ده. چې مثال ئې د بوډۍ د ټال دے. پروفېسر فضل کريم ناشاد صېب په خپل دې نثري کتاب داسې هم کيږي کښې لکه چې د بوډۍ د ټال ټول رنګونه راغونډ کړي دي. او د رښا په لور ئې ګامونه پورته کړي دي. دا کتاب رنګ په رنګ د طنزو مزاح نه ډکې خوندورې وړې وړې نثري فن پارې لري. په دې کښې داسې واقعات هم شته چې په ښاغلي ليکوال پخپله تېر شوي دي. او داسې خبرې هم چې د بل کس يا نا معلوم سړي په حواله ذکر شوي

دی. دا ټولې فن پارې د بشپړ مطلب او مقصد ائينه دارې دی. د پښتنې رواياتو تاريخ او ټول ژوند ژواک په حقله د ملګری ناشاد دا کتاب ګټه ور او په زړهٔ پورې معلومات هم لری. ليکوال ډېر په چل چل کښې د کار مقصدی خبرې کړی دی. د بيان انداز ئې دلکش او خوږ دے. د دې ټولو نثری فن پارو سر خطونه لوستونکی متوجه کوی او په دې ئې مجبوروی چې خامخا ئې اوګوری. د مثال په ډول دا سر خطونه ملاحظه کړئ.

که د نهه نهه کالو دوهٔ جينکۍ وی نوخېر دے؟
د ملا بهادر اودس مات شو.
په دوزخ کښې د پښتنو په دېګ سر نه وو
يو مې ځوانی بل مې د سرو شونډو خندا ده

او داسې نور پکښې سر خطونه چې د لوستونکی پام راګرځوی. دا ټولې وړې وړې نثری فن پارې د طنز و مزاح په خوږو الوده او معموره دی. چې زمونږ ژوند ژواک ورسره ژوری اړيکی لری. د ناشاد صېب په وړمبی شعری کتاب پيئلې ملغلرې باندې د ديباچې ليکلو په وخت ډاکټر سلمی شاهين دا ټپه هم ليکلی ده.

ته بختور ئې سوداګره
چې ملغلرې خرڅوې شمېرې خالونه

خو زهٔ وايم چې ناشاد صېب خو وړاندې تش خالونه شمېرل ملغلرې خرڅول خو ئې اوس شروع کړل. ځکه چې په دې کتاب

کښې لیک هره فن پاره د ملغلرې سیال ده. د دې وزن معلومول هم څه اسان کار نه دے. رحمان بابا وائي:

در ګوهر په تله نه دی چا تللی
د رحمان شعر ګوهر دے څه ئې تولې

کم از کم زما سره داسې پېمانه نشته چې د داسې خوند تړتو څه قطعي معیار وټاکم. دا فیصله خو به لوستونکی او د راتلونکی وخت نقادان او څېړنوال کوی. چې مونږ څومره په اوبو کښې یو.

واوره راواوره ببو دغه نانا دے

یوه فوک سندره دهٔ چې پخوا به سندر غاړو د حجرې په مئیلسونو کښې وئیله. د جوش نه ډکه دا سندره به هر چا وئیله او هر ځائے به وئیلے شوه. د دې سر خط لاندې لیکلی شوی خوندوره واقعه یوه داسې رنګ تړته ده. چې د خوند او رنګ په غر لکه د سپوږمۍ ولاړه ده. په دې نثر پارو کښې داسې واقعات هم شته. چې ښاغلی لیکوال ته په محکمهٔ تعلیم کښې د یو پروفېسر په توګه د اوږد ملازمت په دوران کښې پېښ شوی په نظر راغلی او یا ئې اوریدلی دی. دا ټولې تعلیمی علمی او ادبی دی. خو د خوند او رنګ امېزش پکښې هم په نظر راځی.

د فټ بال د میچ نه ټور جوړ شو

چې د ناشاد صېب په کالج کښې د نوکرۍ د وړمبی وخت واقعه ده. دا نثر پاره دا خبره په ګوته کوی. چې ناشاد صېب په هر چا

اعتماد کوي. خو داسې اعتماد کله نا کله د زيان او تاوان سبب وګرځي. لکه چې د ناشاد صېب سره د فټ بال ميچ له د اصلي لوبغاړو په ځائے عام طالب علمان تلي وو. او دغسې د فټ بال ميچ په ټور کښې بدل شو.

د ملا بهادر اودس مات شو

د دې سر خط لاندې ليکلي شوی فن پاره د سوات د علاقې يو لوک داستان دے چې د مشرانو نه سينه په سينه تر مونږ رارسېدلے دے. د ملا بهادر اودس زمونږ په ټولنه کښې د يومتل شکل هم اختيار کړے دے. خبره خو ټوله په کتاب کښې په تفصيل سره بيان شوی ده. وائی چې کله ملا بهادر په خپل دم نيمبولا ښاپېرے په کوزه کښې بند کړو. لا سېزلے ئې نه وو. د نيمبولا خوئيندې ښاپيرۍ خپل کور ناستې د خپلې مور نه اجازت غواړي. چې لاړې شي. او خپل ورور د ملا بهادر د عتاب نه بچ کړي. دغه مذکور په ټپو کښې داسې بيان شوے دے. چې ورنه دا پته هم لږي چې ښاپېرو به خپل ورور ته باز دادا وئيلو.

مور اجازت راکه چې ځمه
د ملکی دم کرکښې سرې دی يو تر بله
بېګا مې داسې خوب ليدلے
د باز دادا د کټ چاپېر لړم مارونه
بېګامې داسې خوب ليدلے
د باز دادا د پګړۍ ګل وريژېدونه

کله چې مور اجازت ورکړو او ښاپيرۍ د ملا بهادر په خدمت کښې حاضرې شوې. نو په کوزه کښې د بند کړې شوی وروروفرياد ئې تر غوږو شو. زارۍ منتونه ئې کول او داسې ګويا شوې. مُلا راپورته راته ګوره

د بزغلې د ګېډې شنه مې دی خالونه
که مشرۍ دی خوښه نه وی
دا کشرۍ به په نکاح کښې درکوونه
مُلا د زلفو مې واکدار شه
خو باز دا دا راله ازاد کړه چې مونږ ځونه
چې باز دادا د دام ازاد شی
په سر سرتوره يم منت درته کؤمه

د نيمبولا څه انجام شو. د مُلا بهادر څه انجام شو. دغه ټول بيان په کتاب کښې ښه په تفصيل سره راغلے دے.

جلوس کلاس میں بیٹھا تھا اور استاد انکو پڑھا رہا تھا۔

په يوه خوند وره نثر پاره کښې پورته ليک د اُردو دا جمله د انتهلی جنس د يو افسر د رپورټ جمله ده. چې د کالج طالب علمان د څه لږ ډېر احتجاج نه پس کلاسونو ته واپس شو. او پړهائی شروع شوه. يوازې دا خبره نه ده چې د جلوس لفظ ليکل نه وو پکار. بلکې په دې فن پاره کښې د طنز و مزاح او په ژوند د تنقيد عنصر هم موجود دے. چې ليکوال څومره په چل چل کښې خپل اصلی مقصد ته راغلے دے. په دې ټولو نثر پارو کښې مونږ ته د خپل ژوند ثقافتی اړخونه په نظر

راځي چې ورنه د ليکوال د ژورې مشاهدې او په عام ژوند د تنقيدي شعور پته لګي. چې دا په لاړه روان ساده باده ناشاد په چاپېرچل څومره نظر ساتي.

په ادبي حواله د ناشاد صېب نوم په لر او بر خور دے. يو متحرک بنيادم دے. د کوم کار د کولو اراده چې وکړي خامخا ئې سر ته رسوي. د کلي غم ښادي ښه په راستې کوي. د ډېرو ادبي جرګو غړے ، صدر او سرپرست پاتې شوے دے. بلها ادبي منډې ترړې ئې وهلې دي. پرېمانه ادبي خدمات ئې تر سره کړي دي. شعري مجموعې ئې هم چاپ کړي دي. د ريډيو ، ټي وي ، پښتو رسالو او اخبارونو سره ئې هم تړون پاتې شوے دے. زۀ د ناشاد صېب ادبي او علمي خدمات د علامه اقبال د دې شعر مصداق ګڼم.

وہی جواں ہے قبیلے کی آنکھ کا تارا
شباب جسکا ہے بے داغ ضرب ہے کاری

زۀ نور ستاسو او د دې کتاب په مينځ کښې ديوال نه جوړېږم. خو په تلو تلو کښې ښه په وياړ او باور سره دا وينا کوم. چې د ملګري ناشاد دا کاوش به اولس خوښ کړي. د کتاب لوستلو نه پس به په دې خبره قائل شي. چې د پښتو په نثري ادب کښې دا يو منفرد کتاب دے. بس دا رنګ په رنګ ناشاد او دا رنګ په رنګ کتاب ستاسو په لاس کښې دے.د خدائے په امان ـــــــــ ډېره مننه

زرنوش شهاب

تاڼه ملاکنډ ايجنسي

نېټه: 14-05-2013

# تبصرہ از مس ثروت وہاب

پروفیسر فضل کریم ناشاد اُردو اور پشتو کے ایک اچھے شاعر ہے۔ لیکن پشتو کے ایک اچھے نثر نگار بھی ہے۔ اس کا اندازہ (داسې هم کيږي) کتاب دیکھنے کے بعد ہوا۔ سنجیدہ اور غیر معمولی موضوعات پر لکھنا اتنا مشکل فن نہیں۔ لیکن معمولی واقعات و موضوعات کو دلچسپ اور منفرد انداز میں لکھنا مشکل فن ہے۔پطرس بخاری (کتے) مضمون لکھ کر شہرت کے آسمان تک پہنچ گئے۔ اور بہت سارے ادیب و شاعر فلسفیانہ سنجیدہ موضوعات پر لکھ کر بھی وہ مقام حاصل نہ کرسکے۔ ذہن اور قابل نگاہیں زندگی کی سپاٹ حقیقتوں کے علاوہ اُن مضحکہ خیز واقعات تک بھی پہنچ جاتی ہیں۔ جہاں عام انسان کی نظریں نہیں پہنچ پاتیں۔پروفیسر فضل کریم ناشاد (سپین دا) نے بڑی سادگی اور معصومیت کے ساتھ اُن واقعات کو پیش کیا ہے۔ جن کو پڑھنے کے بعد قہقہہ مار کر ہنسنے کا موقع تو نہیں ملتا۔ لیکن ہونٹوں پر ایک مسکراہٹ ضرور آجاتی ہے۔ میری نظر میں یہ کتاب تین حصوں پر مشتمل ہے۔



Pukhto.Net

(۱) آپ بیتی

(۲) لطائف

(۳) مذہبی واقعات

پہلا حصہ پڑھ کر بہت مزہ آیا۔ جہاں سپین دا شریر شاگردوں کے جال میں پھنستے ہیں۔ اور پیچ ٹور میں بدل جاتا ہے۔ کبھی شریر شاگرد کی شکل میں اساتذہ کا ناک میں دم کرتے ہیں۔ اپنی زندگی کے دلچسپ واقعات کو بے ساختگی کے ساتھ پیش کرتے ہیں۔ زندگی کا گہرا تجربہ اور مشاہدہ ہم اُن کی کتاب میں دیکھتے ہیں۔ اپنے دوستوں کا تذکرہ وہ بہت پیار سے کرتے ہیں۔ واقعات پر اُن کی گرفت مضبوط ہے۔ ہم اُن کی زندگی کے واقعات سے لطف اندوز بھی ہوتے ہیں۔ اور بہت کچھ سیکھنے کا موقع بھی ملتا ہے۔ کتاب کا دوسرا حصہ لطائف پر مبنی ہے۔ آجکل کے اس دور میں جہاں ہر طرف بے چینی ہے۔ ہر آنکھ نم اور ہر دل مضطرب ہے۔ مسکراہٹ ہونٹوں سے غائب ہے۔ ایسے حالات میں کی دکھی دل کو خوش کرنا، ہونٹوں پر مسکراہٹ لانا عین عبادت ہے۔ اور سپین دا اپنے قلم کے ذریعے یہ خدمت سرانجام دے رہے ہیں۔ البتہ کچھ لطائف پڑھتے وقت فنی و فکری بے اعتدالی کا

احساس بھی ہوا۔ ایسا محسوس ہورہاتھا۔ جیسے سپین داجلد از جلد
اس مضمون سے جان چھڑانا چاہتے ہیں ۔ جس سے تھوڑی بہت
تشنگی کا احساس ہوا۔ مذہبی واقعات پڑھ کر ہمارے علم میں
اضافہ ہوا۔ یہ وہ واقعات ہیں جو ہمارے جذبۂ ایمان کو
تقویت دیتے ہیں ۔ وہ ناصحانہ انداز جس کی وجہ سے کبھی کبھی
بوریت کا احساس ہوتا ہے۔جو ادبیت کو متاثر کرتا ہے۔ وہ سپین دا
کے انداز میں نہیں وہ بڑی سادگی سے اور دلچسپ انداز میں مذہبی
واقعات بیان کرتے ہیں ۔ ہماری یہ دُعا ہے ۔کہ اللہ سپین دا
کو اچھی صحت دیں تاکہ وہ ہمارے لئے اچھی کتابیں لکھ سکے ۔اور ہم ان کے
گہرے اور اچھے مشاہدے سے مستفید ہو سکیں۔

آمین

پروفیسر ثروت وہاب

گورنمنٹ گرلز کالج تھانہ

ملاکنڈ ایجنسی

Pukhto.Net

# داسې هم کيږي او ناشاد صيب

طنز و مزاح په ادبياتو کښې هاغه ليک يا تحرير ته وائي چې په لوستو ئې د قاري په شونډو کله مُسکا خوره شي او کله په برق برق وخاندي. بيا په طنز او مزاح کښې لږ توپير دے. هغه دا چې طنز نشتريت لري. څوک چې د طنز ښکار کيږي هغه د سپکاوي ښکار کيږي. طنز نګار تېره چاړه لري چې خپل ښکار پرې ډېر په بې دردئ سره غوڅوي. طنز نګار په خپله په اوچته دړه ناست وي او په

نورو خلکو پورې خندا او پشاړې کوي . د دې برعکس مزاح نرمي لري . خوږه پسته ژبه لري او بله دا چې مزاح نګار لکه د طنز نګار په اوچته دړه نه وي ناست هغه هم د دغه اولس يو فرد ځان شمېرى په کوم اولس چې تهقاله کوي . يا مونږ داسې هم وئيلے شو چې طنز او مزاح د معاشرې لوړې جورې ، کينې کوز ، او خامۍ کوتاهۍ د ليک په صورت کښې په ګوته کؤل دى خو توپېر دا لرى چې طنز نګار ځان د دې لوړو جورو ، کينې کوز ، او خامو کوتاهو نه لرې او پاک ګڼى او نور اولس په دې کښې ابته او ککړ ګڼى له دې سوبه په اولس خو نيوکې او اعتراضونه کوى او ځان پکښې نه شمېرى بل اړخ ته مزاح نګار ځان هم د دې اولس يو وګړے ګڼى او د عام اولس سره سره په خپلو خاميانو او غلطيانو هم خاندى . د طنز نه د نفرت بوئ راځى او مزاح د همدردۍ پهلو لرى . په دې تناظر کښې که مونږه د پروفېسر فضل کريم ناشاد صېب کتاب ( داسې هم کيږى ) ولولو نو د هغې زيات تره حصه د مزاح رنګ لرى . په دې کتاب کښې چې هغوئ کومې خوند ټوټې راجمع کړى دى په هغې کښې ډېرې داسې دى چې د ناشاد صېب د ذاتى ژوند سره اړيکى لرى . هغوئ پکښې پخپله د يو کردار په حېث موجود دى . او د لوئے والى او فراخه زړۀ ثبوت ئې داسې ورکړے دے چې که په دغه واقعاتو کښې د هغوئ ذات هم د مزاح ښکار شوے دے نو څه پټ پناه ئې نه دى کړى . واقعات ئې هم هغسې بيان کړى دى څنګه چې شوى دى . بغير د دې سوچ فکر نه چې په دې صورت کښې قارى په هغوئ پورې هم خندلے شى . زما په

خیال د ادبی صداقت د دې نه لوئے ثبوت نور څه نشته چې ادیب او لیکوال خپل ذات او خپل ژوند په داسې صورت کښې د قاری مخې ته کیږدی ( بغېر د دې ویرې ترهې ) چې قارې د هغه متعلق څه رائے قائموی قائموی دې ـ زمونږ زیات تره ادب د سنجیده او غمګین موډ پېداوار دے ـ یوه آه و بکا ده، د محرومو او بې وسو ژړا ده، یو درد او غم دے چې د هر کتاب د هرې پاڼې نه څاڅی ـ ډېر کم ادبی کتابونه که د شاعرۍ دی که د نثر داسې دی چې په کتو ئې قاری خوشحاله شی ـ د هغه زړۀ ته پرې سکون او روح ته تازګی ورسی ـ دا خبره صرف د پښتو ادبیاتو تر حده نه ده داردو د ادبیاتو هم لویه حصه د دغه قسم المیاتو نه ډکه ده په شمار څو طنز نګاران یا مزاح نګاران یا داسې ادیبان دی چې هغوئ کامیډی لیکلے شی ګنې نور خېر خېریت دے ـ هاغه قامونه د ترقۍ په لاره ډېر کم رفتار کوی د کومو قامونو په موسیقۍ کښې چې مستی نه وی ـ د کومو قامونو په ادب کښې چې سرور او شادمانی نه وی ـ د ژوندی قامونو په هر کار کښې د ژوند په هر اړخ کښې ژوند وی زنده دلی وی ـ چې مدام سر په زنګون او د ژوند نه مایوسه اوسی هاغه قامونه مدام روستو پاتې کیږی ـ شاعران او ادیبان د قام سترګې دی ـ دوئ له پکار دی چې د قام د روح د تازګۍ سامان وکړی او د اولس په زړۀ کښې د ژوند ارزو بېداره کړی ـ د هغوئ په بدن کښې مستی او په مزغو کښې خوشحالی وزېږوی ـ او دا هله ممکنه ده چې د سنجیده مضامینو سره سره د مزاح په ارزښت او اهمیت هم غور وکړې شی ـ د

الميې سره سره د طربيې اهتمام هم وکړې شی. د درداو غم د سوز او ګداز سره سره د رنګ او نور د طرب او مستۍ انتظام هم لازمی د ے.
صرف په دغه صورت کښې په معاشره کښې اعتدال اومیانه روی قائمول ممکن دی. صرف په دغه صورت کښې د ترقۍ د منزلونو کچ کولو حوصله په اولس کښې د بېدارؤلو هڅې کېدې شی.

په دی حواله د ناشاد صېب کتاب داسې هم کیږی زۀ په پښتو ادبیاتو کښې یوه ګټه وره اضافه ګڼم او طمع لرم چې نه صرف دا چې لوستونکی به ترې خوندونه واخلی بلکې د دې سره سره د پښتون قام د لیکوالو نه دا امید لرم چې هر لیکوال به هم د ناشاد صېب غوندې د ادبی صداقت نه کار اخلی. او نه صرف دا چې د قام محرومۍ او بې وسۍ به ژاړی بلکې د قام کوتاهۍ او غلطۍ به هم په ګوته کوی او هم دغسې په ساده او اسانه ژبه کښې به ورته د منزل لار ې په ګوته کوی. الله دې وکړی چې د ناشاد صېب دا کتاب د پښتون اولس په کار راشی او هغوئ ترې جولۍ جولۍ فائدې اوچتې کړی. امین ——— په مینه

نقیب احمد جان

۲۰ستمبر ۲۰۱۳ع

# د مار او د نولی جنګ

يو سړی خبره کوله وئيل زۀ په پوليس کښې ووم. په نظام پور کښې مې ډيوټی وه. يوه ورځ مونږ دوۀ پوليس واله ملګری د نظام پور په بازار کښې روان وو. يو اړخ ته مونږ يو مداری وليدو. ډير خلق ورته راغونډ شوی وو. مونږ هم وراغلو چې دا څه دی. مداری به بار بار وې تاسو به اوس د مار او د نولی جنګ اوګورئ. بيا به ئې دوائی رابهر کړه. او هغه به ئې خرڅوله. لږه شيبه پس ئې بيا اووې. تاسو ته به زۀ اوس د مار او نولی جنګ وښايم. تقريبا نيمه ګينټه اوشوه چې د مار او د نولی جنګ چا و نه ليدو. زما پوليس ملګرے ډير جذباتی سړے وو. هغه ورمنډه کړه مداری ئې د مری نه اونيو وې شابه مونږ ته اوس دمار او نولی جنګ اوښايه. مداری مار او نولے دواړه مخامخ کړل. نو بيا جنګ د څه وو نولی ورمنډه کړه مار ئې د مرئ نه اونيوا و مړ ئې کړو. مداری په ژړا شو. وې زما په رزق کښې دې شګې واچولې. دا خو ما هسې وې چې اوس به مار او د نولی جنګ وی. ما خو خپله دوائی خرڅوله.

# دے څه وائی

# What He Says?

# وټ هی سیز

دا د **1966** خواؤ شا خبره ده. مونږ په تانې کالج کښې سبق وې. چُټی اوشوه باران وریدو مونږ د کالج نه را روان وو. زما سره د لوند خوړ یو طالب علم ملګرے راروان وو. زمونږ نه مخکښې یو ډېر مشر بزرګ سپین ږیرے روان وو. چترئ ورسره وه زما دا ملګرے ډېر ټوقمار وو ده په انګریزئ کښې څه داسې اووے. تاسو ما پرېږدئ زۀ د دې مشر نه دا چترئ اخلم. هغه سپین ږیری سمدستی مخ راواړوو وے **?What he says** یعنی دا هلک څه وائی. د هلک رنګ زیړ شو معافی ئې اوغوښتله. ما ورته وې د تانې زاړه زلمی ځوانان ټول تعلیم یافته دی دلته په چا دا ګمان مه کوه. چې دے به نه پوهیږی.

# ګران دے او اسان دے

وائی چې د مهمند ايجنسۍ يو هلک مردان ضلعې ته راتلو. په يو پاټک کښې ترې پوليسو تپوس اوکړو. وې ستا څه نوم دے هلک وې اسان دے هغه ترې بيا تپوس اوکړو خپل نوم اووايه. هلک بيا اووې اسان دے. پوليس يو څو ګذاره اووهو. وئيل شابه نوم دې اووايه دۀ بيا وې اسان دے. بيا ئې ورته اووې د پلار دې څه نوم دے. ده وئيل ګران دے. پوليس بيا يو څو ګذاره اووهو. وئيل دا دې څه ګپ جوړ کړے دے اسان او ګران دے. په دې کښې يو سړے په دغه لاره تېريدو هغه پوليس ته اووئيل دا هلک ولې وهئ؟ هغو وئيل دے نه خپل نوم وائی او نه د پلار نوم وائی. بس دغه وائی اسان دےاو ګران دے. هغه سړی ورته اووې. دا هلک زۀ پېژنم د دۀ نوم اسان دے او د پلار نوم ئې ګران دے. دے ټيک وائی. پوليس واله چې دا واوريدل ډېر ستومانه شو. وئيل ئې اوس پوهه شوم. د هلک نه ئې بخښنه اوغوښته او رخصت ئې کړو.

# د هوټل د نوکر مینه

دا د **1978** خبرهٔ ده. زهٔ د مانسهرې په کالج کښې لیکچرر ووم یو ځل په مانسهره کښې په کشمیری روډ یو هوټل ته د ډوډئ دپاره وراغلم. د ډوډۍ خوړلو نه پس چې کاونټر ته د پېسو ورکولو دپاره اودرېدم. مالک وې ستا پېسې خو شوی دی. ما وې چا ورکړی دی. هغه نوکر راوغوښتو کوم چې ایله ځوانۍ ته رسېدلے وو. تپوس ئې ترې اوکړو چې د دهٔ پېسې تا له چا درکړی دی. نوکر وې ما په خپله ورکړی دی. مالک ورته اووې تا ولې ورکولې؟ هغه اووئیل دے زما ډېر خوښ شو. ما وې خپلې پیسې واپس که دا واخله تا ولې زما پیسې ورکولې. هغه ډېر کلک شو دا غستلو نه ئې ښخې انکار وکړو. مالک ورته غصه شو. په قهر کښې ئې ورته اووئیل واخله ګنې د نوکرۍ نه به دې وباسم هغه وې ما یو ځل ورکړی دی. اوس ئې واپس نه اخلم. که ته ما د ده په سر د نوکرۍ نه وباسې نو وباسه خفه پرې نه یم.ما مالک ته وې بس معاف ئې کړه. نور ئې مه چیړه جوړ معاف ئې کړو. ما د هلک شکریه ادا کړه او لاړم. فکر مې کوؤ د محمد اعظم اعظم دا شعر راته یاد شو۔

زهٔ د زړهٔ ډیوه په لاس ټکرې خورمه
خلقه مینه په بینا سترګو ړنده ده

# اوس ټول راباندې مه بخښه کنه

يو سړے د ونو په بڼ کښې ناست وو. دعاګانې ئې کولې.
يا خدايه ما اوبخښې يا خدايه ما اوبخښې يو ټوقمار چرته په پټې کښې د دۀ خواته په ونو کښې ناست وو. څه کار ئې کولو. خو دې سړي ته نه ښکارېدو. هغه ورته په رعب دار اواز کښې اووې. ورځه ما اوبخښلې. دا سړے کور ته په خوشحالۍ راغے. ښځې ته ئې وې يه ښځې خبر شوې. زۀ خو خدائے پاک وبخښلم. هغې ورته اووې دا څنګه دۀ ورته ټوله قيصه تېره کړه. هغې ورته اووئيل راځه چې اوس لاړ شو. چې ما هم خدائے پاک وبخښي. دوئ دواړه د ونو بڼ ته لاړل. دعاګانې ئې کولې. وې يا خدايه زما دا ښځه اوبخښې يا خدايه زما دا ښځه اوبخښې سړي ورته بيا اُووې ورځه ما اوبخښله. دوئ دواړه په خوشحالۍ کور ته راغلل. ښځه ئې په اندرپايه ګاؤنډيانو ته وراوچته شوه. وئيل ئې تاسو خبر شوئ مونږ. دواړه خو خدائے پاک وبخښلو هغوئ وې دا څنګه ؟ دې ورته ټوله قيصه تېره کړه. بيا ګاونډ يانو ورته اووئيل اوس زمونږ سره لاړ شئ. چې مونږ هم خدائے پاک وبخښي. دوئ دواړه ښځه خاوند د ګاونډيانو سره لاړل. دعاګانې ئې شروع کړې اے خدايه زمونږ دا ګاونډيان وبخښې اے خدايه زمونږه ګاونډيان وبخښې هغه سړي ورته اووې اوس ګاونډيان راباندې مه بخښه کنه.

# پښتانه د چا مشري نه مني

وائي چې سکندر اعظم د ټولې دنیا د فتح کولو په نیت راوتلے وو. دے چې کله افغانستان ته را ورسېدو نو ایسار شو مور ئې ورته خط را ولېږو چې تا نوره دنیا ډېر زر فتح کړه. او په افغانستان کښې ایسار شوې دا څه وجه ده. هغه ورته د پښتنو یووفد ولیږلو. دوئ ته ئې اووې. تاسو لاړ شئ زما مور زمونږ د خېر خیریت نه خبر کړئ، وفد چې هلته ورسېدو نو د سکندر اعظم مور ترې تپوس وکړو. وې په تاسو کښې مشر څوک دے. یو کس رامخکښې شو وې زۀ مشر یم بل رامخکښې شو وې زۀ مشر یم. دریم کس هم دغه ووئیل. دې ټولو په یو بل پسې تورې ویستلې. او یو بل ئې مړه کړو. د سکندر اعظم مور چې دا نظاره ولېده. نو حېرانه شوه. او دا ئې ووئیل. چې بې شکه د داسې قوم نه ګټه ډېره ګرانه ده.

# په دوزخ کښې د پښتنو په دېګ سر نه وو

د پښتنو متعلق دا خبره مشهوره ده چې دوئ بې اتفاقه دی. د بل چا مشری نه منی. بله دا چې څوک بل کس مخکښی کېدو ته نه پرېږدی. کله چې څوک مخکښی شی. نو بل ئې د خپو نه راکاږی. يو تهوقمار خبره کوله. وې زهٔ په خوب کښې دوزخ ته تلے ووم. په دوزخ کښې بې شماره لوئې لوئې دېګونه پراته وو. په هر يو دېګ سر پروت وو. خو په يو دېګ سر نه وو ما تپوس وکړو چې دا څه دی. چا راته اووئيل چې په دې هر يو ديګ کښې د بېل بېل قوم خلقو ته سزا ورکولے شی. ما بيا تپوس وکړو چې په دې يو دېګ سر ولې نشته. هغه اووې چې په دې کښې پښتانه دی دې دېګ ته د سر ضرورت نشته. ځکه چې پښتانه هسې هم څوک بهر راوتو ته نه پرېږدی. چې يو کس بهر ته راوځی. نو بل کس ئې د خپو نه راکاږی. او دا رنګې څوک بهر ته نه شی راوتلې. په دې وجه د پښتنو دېګ ته د سر ضرورت نشته.

# د انګریز ډپټي کمشنر فېصله

د انګرېزانو زمانه وه. د مردان انګرېز ډپټي کمشنرله یو دولت مند سړے راغے. ډپټي کمشنر ته ئې اووئیل. زما د ښځې نه چا د سرو زرو هار پټ کړے دے ما له د غل پته ولګوئ هغه ورته اووئیل په چا دې شک شته. سړی اووې هو زمونږ کره یوه خدمت ګاره کار کوی. په هغې زما شک دے. خو څه ثبوت ئې نشته. ډپټي کمشنر اووې چې مونږ خو دومره زر فېصله نه کوو. خو ته زما دوست ئې. نو دا کار به درله زر وکړم.

ډپټي کمشنر حکم وکړو. چې خدمت ګاره حاضره کړئ. خدمت ګاره عدالت ته حاضره شوه. هغه ورته اووئیل. ستا دا مالک وائی چې زما د ښځې نه د سرو هار چا پټ کړے دے. او شک ئې په تا دے. خدمت ګاره منکره شوه وې زهٔ خو ترې خبر نه یم. ژړا انګولا ئې جوړه کړه. چې دا ما نه دے پټ کړے. ډپټي کمشنر وې دا هم تا پټ کړے دے. سپاهیانو ته ئې حکم وکړو. چې څئ دا بوځئ. که په یوه ګینتهه کښې ئې هار ورکړو. خو ښه ګنې بیا دا مړه کړئ. ښځې چې دا واورېدل شور ئې جوړ کړو. چې هار زما سره دے خو دا یوه ګینتهه وخت ډېر لږ دے. په ګینتهه کښې خو زهٔ کور ته نه شم رسېدلې. هغه اووې څه ټیک ده که په دوهٔ ګینتهی کښې ئې ورنه کړو. سمدستی په سزا عمل اوکړئ. مالک سپاهیان او خدمت ګاره ټول لاړل په یوه نیمه ګینتهه کښې ئې هار مالک ته حواله کړو.

Pukhto.Net
پښتو

# که د پل صراط دا حال وی نو
# ابیۀ خوترې غورزېدلی واخله

د ماسختن د مانځه نه پس په جومات کښې خلق ناست وو. یو عالم وعظ کولو. د قیامت د سختو او د پل صراط خبرې کېدلې. عالم وې پل صراط د اوبو نه نرم دے د ویښتو نه نرے دے. او د تورې نه تیره دے. دوۀ واړه روښه یه جماعت کښې شاته ناست وو. غوږ ئې ایښودلے وو. هغوئ چې د پل صراط متعلق دا خبره واورېده. نو یو ورور بل ته ورنژدې شو. او په غوږ کښې ئې ورته اووې.
(که د پل صراط دا حال وی نو ابیۀ خو ترې لوېدلی واخله)

# دا ټانګه ما لس روپۍ جرمانه کړه

پخوا يو سړے لرې بانډې ته تلے وو. واپس چې راتلو په لار کښې پرې شپه راغله په يو کلی کښې نا وخته يو جمات ته وروګرځېدو. د ماسختن مونځونه شوی وو. دا سړے ډېر ستړے وو د جمات په يو ګوټ کښې څملاستو څه ګوری چې يو سړے د جمات کوټې ته راننوتو. يوه جينۍ ورپسې وه. سړی د جينۍ غاړې ته لوپټه واچوله. او ټانګه ئې کول. جينۍ مخکښې وه او دے ورپسې وو لوپټه ئې نيولی وه. په کوټه کښې چاپېره ګرځېدل. يو ځل چې د ده په خوا تېرېدل. ده سمدستی لوپټه کلکه اونيوه. وې ئې دا ټانګه ما لس روپۍ جرمانه کړه. دوئ دواړه ډېر شرمنده شو. او غلی غوندې بهر ته اووتل. چې شپه تېره شوه. د سحر د مونځ وخت وو. هم هغه سړے امام وو. خلقو د مېلمه نه تپوس وکړو. وې مېلمه څنګه دې پېښه کړی ده. مېلمه وې زۀ پخوا په پوليس کښې ووم دې امام صېب به ټانګه چلوله. دے ما لس روپۍ جرمانه کړے وو. هغه جرمانه ده ما له نه وه راکړی. زۀ اوس په هغې جرمانه پسې راغلے يم. امام صېب په خاموشۍ سره لس روپۍ ورکړے او ځان ئې د شرم نه بچ کړو.

# ولې ته د کابل نه ئې؟؟

دا د **1974** خواؤ شا خبره ده. لاهور ته د خور کره تلے ووم پخوا به جی ټی ایس د اوږد سفر د پاره یوه ډیره ښه ذریعه وه. زۀ په لاهور کښې ماښام جی ټی ایس ته اوختم. سحر اته بجې د پېښور د جی ټی ایس په اډه کښې کوز شوم. ما یو مزدور ته اووې. ته د چهت نه سامان راکوز کړه. زۀ لاندې سامان د ګاډی نه راوباسم هغه سامان راکوز کړو. خو زۀ د سوات په جی ټی ایس پسې ګرځېدم چې واپس راغلم هغه ته ما اوویل سامان څه شو. هغه وې ما د کابل جی ټی ایس ته وخېژوو ـ ما ورته اووې تا ته د کابل چا وئیلی وو. ده وې ولې ته د کابل نه ئې. ما وې څنګه د کابل یم؟ وې ته د کابلیانو په شان ئې. په دې وخت کښې د کابل جی ټی ایس د اډے نه وتونکې وو. ما وې شابه دا سامان اوس د کابل د جی ټی ایس نه راکوز کړه او د سوات جی ټی ایس ته ئې وخیژوه بیا ئې هم هغسې وکړل.

## سم ځملئ

يو سړی په چم ګاونډ کښې يو کور ته ور اووهو. د کور د مالک زوے را اووتو دې سړی ورته اووې. زمونږ کره مېلمانه راغلی دی يو کټ راکړئ. هلک وې زمونږ کره خو دوۀ کټونه دی په يو کښې زۀ او پلار مې ځملو. او په بل کښې زما مور او زما ښځه ځملی هغه ورته اووې که کټ نه راکوئ نو مه راکوئ خو سم ځملئ ۔



Pukhto.Net
پښتو

# ماشوم دکاندار په ژړا شو

پخوا به خلقو شرطونه ډېر ايښودل يو ځلې مونږ په يو بازار کښې ولاړ وو. زمونږ خوا ته د سبزۍ دکان وو. نور خلق هم په خواؤ شا کښې ولاړ وو. دکاندار په سودا پسې بټ خيلې ته تلے وو. د هغه ماشوم زوے چې د پنځلس کالو پورې به وو په دکان کښې ناست وو. الوګان، ټېپر، ټماټر وغېره ورسره وو. دې ماشوم خواته ولاړ يو هلک ته وې. که دا ټېپر د ټول دغسې اُومه وُخوړل. نو لس روپۍ انعام به درکړم. هلک ښه تکړۀ زميندار وو. چې اتلس ټېپر ئے وخوړل نو دکاندار په ژړا شو. شور ئې جوړ کړو وې ټول ټېپر ئې رانه خلاص کړل. زمېندار هلک نور بس کړل. خلقو دکاندار ته وې. دا خو ورته تا پخپله وئيلی وو. زميندار هلک ورته د شرط لس روپۍ معاف کړے.

# شيطان خو په مونږ چرته حلوه وَ نه خوړه

يو مشر خبره کوله وې پخوا سرائی خان د تانې په هائی سکول کښې هيډ ماسټر وو. سرائی خان په خواؤشا کښې ډير شهرت لرلو. او هره خبره ئې د کانې کرښه وه. يوه ورځ ورله د يو باغ مالی د سکول يو هلک لاس نيولے راوستو. او نبغ ئې سرائی خان ته مخامخ کړو. وې هيډ ماسټر صيب دې هلک زمونږ د باغ نه په غلا مالتې خوړلی دی. هغه د هلک نه تپوس اوکړو. وې هلکه تا د پردی باغ مالتې په غلا ولې خوړلی دی. هلک وې بس خو شيطان راباندې وخوړلې نو سرائی خان ورته اووې ـــــ هلکه شيطان خو په مونږ چرته هم حلوه و نه خوړله او په تا مالتې خوری.

# که زر وی که طائع زر وی خو چې زر وی

یو ملګری راته قیصه کوله. وې زمونږ په کلی کښې دوهٔ رونړه وو. د یو نوم زر وو. او د بل نوم طائع زر وو. د دوئ مور د زر د رشتې د پاره د یوې جینۍ چې نوم ئې زرین تا جه وو تپوس وکړو. زر مشر وو. او څه کار روزګار ئې نه وو. او طائع زر د ګټې خاوند وو. جینۍ وې که طائع زر له مې غواړئ خو ښه ده ګنې د زر سره واده نه کوم. څلور پنځه کاله تېر شو د طائع زر وادهٔ شوے وو. د هلکانو مور بیا د زرین تاجې کره لاړه. وې که د زر سره د په وادهٔ صلا راځې. نو ډېره به ښه وی. د طائع زر واده خو شوے دے. جینۍ راضی شوه. وې که زر وی که طائع زر وی خو چې زر وی. هغه خلق خبره کوی جینۍ اول وائی What is he او بیا وائی Where is he .

# مستے منګې بر ورېے دے
# زړۀ مې دلبر ورېے دے

دا د 1964، 1963 خواؤشا خبره ده. ابادي دومره زياته نه وه. په تانړه کښې د ببزوګرو ډاګ نه لږ وړاندې شنه پټي شورو کېدل. دلته د قاشقاشو ختکو او غنمو وربشو فصل کېدو. د جولا ئي مياشت وه. ګرمۍ زور کړے وو. اکثر خلق به دکور نه بهر په ډاګونو او حجرو کښې سملاستل. د دې حجرو به چار ديواري هم نه وه. مونږ به د نيمو شپو پورې ګرځېدو. او بيا به د څه شيبې د پاره په ببزوګرو ډاګ کښې کېښناستو. د ايوب خان زمانه وه. امن وو د کلي په مينځ کښې نزدې پټي وو. چې ختکې پکښې کرلی شوی وو. خلق به ماسخوتن راتلو. ختکې به ئې خوړل او بيا به تلل. د دې ختکو واله سره به اکثر يو څو هلکان ناست وو. خپل ګپ به ئې لګولو يو شپه مونږ ناست وو. دغې هلکانو سندرې وئيلې. د شپې پاؤکم دولس بجې وے دا سندره ئې وئيله.

مستې منګے برورېے دے

زړهٔ مې دلبر وړے دے
عالمه لاړ نیسئ لاړ نیسئ
ډېر ئې په هنر وړے دے
مستے منګې بر

مونږ له ئې هم خوند راکړے وو. ناست وو د دوئ نه لږ یو څو قدمه وریسته په حجره کښې یو مشر خان ملاست وو. یو څو ملګری هم ورسره وو. د دې حجرې چار دیواری نه وه د دې مشر خان سره به یوه غټه کوټنۍ وه او د مزاج نه سخت غوندې وو. صبر ئې ډېر وکړو خو هلکان چپ نه شو جوړ اواز ئې ورکړو وې یا هلکه بس دے نا وخته دے دا محفل ختم کړئ خو د هلکانو څه پرواه نه وه. مسلسل لګیا وو. دغه سندره ئې بار بار وئیله.

مستې منګے بروړے دے
زړهٔ مې دلبر وړے دے

چې دا ئې اووے هغه کوټک ته لاس کړو اواز ئې ورکړو وې تاسو ودرېږئ زهٔ ستا شو سره پوهېږم او په دوئ پسې چاق چاق روان شو. د هلکانو سندر غاړی سندره جاری اوساتله. ټولو منډې کړې. او دائې په منډه کښې اووې. عالمه لاړ نیسئ لاړ نیسئ ډېر ئې په هنر وړے دے مستې منګے ــــ بر ما ته په دې وخت دا د فلم یو سین ښکاره شو ـــــ د دې سره مونږ کور ته لاړو.

## د چوک یادګار په ځائے په چوکیدار مضمون

دا د **1964** خبره ده زمونږ د لسم جماعت امتحان وو. د انګریزي پرچه کښې په چوک یادګار مضمون راغلے وو. نور مضمونونه ورسره هم وو. ما پخپله په سکول مضمون ولیکو. د پرچې نه چې بهر راووتو. ټول هلکان خوشحاله وو. وئیل ئې ډېر اسان مضمون راغلے وو. ما وې کوم مضمون اسان وو. ټولو وې چوکیدار— ما وې دا خو چوکیدار نه دے چوک یادګار دے. ټولو تندی له لاس راخلاص کړو. وې غرق شو. مونږ خو ټولو په چوکیدار مضمون لیکلے دے. اوس به څه کیږي. د لسم جماعت هلکانو ته چوک یادګار څه معلوم وو. چوک یادګار د چا په تصور کښې هم نه راتلو. ځکه خو ئې سمدستي په چوکیدار مضمون ولیکو.

# دا يو ترې زما ځانله دا نور په تاسو واړه

په ودونو يا د بل څه خوشحالۍ په موقع سازونو واله راوستل په ټوله دنيا کښې او خصوصاً زمونږ په علاقه کښې يو زوړ دستور دے. البته د هرې علاقې خپل خپل انداز وی. ځنې ځنې خلق پکښې نعت خوانان هم راولی، مشاعرې پکښې هم کيږی پخوا به اکثر لرې کلو ته دا سازونو واله پياده تلل. او په لاره به ئې سازونه غږول خلقو ته به د دې نه پته ولګېدۀ. چې دوئ چرته وادۀ له روان دی. دغه شان يو ځل د سازونو واله يو ډله پخوا يو کلی ته وادۀ له روانه وه . سندر غاړی په خوږ اواز سندرې وئيلې توری مار چرته لرې په لاره کښې ډاکوان ولېدل. دۀ په توری کښې دې نورو ته دا پېغام ورکړو.

دا يو ترې زما ځانله دا نورپه تاسو واړه

دا يو ترې زما ځانله دا نورپه تاسو واړه

باجه مار پوهه شوه. چې توری ماته د مقابلې خبره کوی. هغه سمدستی په باجه کښې دا جواب ورکړو.

زما هزار بار توبه ده، زما هزار بار توبه ده

# سرکاري روټۍ

پخوا یو هلک لاهور ته په رېل کښې تلو. د پېښوړ په ستېشن رېل ودرېدو. د ماسخوتن وخت وو. ګڼ چابړي فروش رېل ته راوختل. قسم قسم څیزونه ئې خرڅول . چغې ئې وهلې یو کس دا چغې وهلې. ترکاري روټۍ ، ترکاري روټۍ ـــــ دې هلک دا ګمان وکړو. چې ګنې دے وائې سرکاري روټۍ نو ډېر په شوق ئې ورته اواز ورکړو . وې یا هلکه راوړه. ده له ئې ترکاري او روټۍ راوړل. ځان ئې ښه موړ کړو. چابړي فروش ته ئې اووې ستا ډېره ډېره مهرباني هلک ووې په مهربانۍ کار نه کیږي. پنځوس روپۍ کېږي. پیسې راکوه. رېل روانېږي ده ورته اووې د څه شی پیسې تا خو وې چې سرکاري روټۍ ـــــ هغه وې ما خو وې چې ترکاري روټۍ. دوئ دا خبرې کولې خلق راجمع شول. د رېلوے پولیس راغلل. وې دا څه چل دے . دوئ دواړو ورته خپله خپله خبره وکړه. پولیس اووې په ریل کښې سرکاري روټۍ نه وی ـ اول ځان پوهه کوه بیا ډوډۍ خوره. بیا ئې ورته اووې شابه پیسې ورکه. هلک پیسې ورکړې او رېل هم روان شو.

# داسې هم کيږي

دا د جون **1968** خواؤ شا خبره ده. د نوښار يو مشر چې زما سره اشنا شوے وو. زمونږ کلی تاښې ته د راتلو خواهش ظاهر کړے وو. عبد الحنان ئې نوم وو. خو ما به ورته حنان چاچا وې. ما ورله د راروانې جمعې په ورځ د راتلو دعوت ورکړے وو. دے په ملاکنډ کښې اکاونټنټ وو. ملاکنډ چونکې نزدې وو په دې وجه ورته راتلل ګران نه وو. د جمعې په ورځ ما د ده انتظار کولو. ما د هغه د مېلمستيا د پاره مناسب بندوبست کړے وو. اوس زمونږ محله ډنډه ده. خو هغه وخت زمونږ کور د بزوګرو ډاګ نه لږ بره کنډی کښې وو. د ډنډې د ډاګ نه دوه لارې بېلې شوی دی. يوه لار بزوګر ډاګ طرف ته تلی ده. او بله لار نېغه په خوړګئ کښې سروګټانو طرف ته تلی ده. زما د پلار نوم صوبېدار فضل هادی دے. خو په دې بله لار زمونږ د رشته دارانو کورونه دی. دوئ درې ورونه وو. درې واړه زما د والد صېب ملګری وو. د يو نوم فضل رحيم صاحب (استاد) وو. بل صوبيدار فضل واحد صاحب وو. او بل زما هم نام فضل کريم صاحب وو. دا درې واړه اوس وفات شوی دی خدائے دې ئې وبخښي.

لکه زما نوم فضل کريم او د پلار نوم مې فضل هادی دے. او په دوئ کښې د يو رور نوم فضل کريم او د بل رور نوم ئې صوبېدار فضل واحد دے.

لس بجې شوې. دولس بج شوې مېلمه رانغې. چې يوه بجه شوه او رانغې نو زهٔ جمات ته د جمعې مانځه له وراغلم. واپس چې بيا راغلم

نو مېلمه بيا هم نه وو راغلے. زما شک شو چې هر څه چې دی مېلمه چا په غلطۍ کښې بل خوا بوتلے دے. په هغه وخت د رابطے څه ذريعه نه وه. زۀ نېغ د هغه رشته دارانو ځائے ته لاړم. څه ګورم چې حنان چاچا په پالنګ کښې ناست دے. چائے پراتې ورته پراته دی. ما ورته اووې زمونږ کور خو اخوا دے. ته دېخوا څنګه راغلې. هغه په لار کښې راته چا وې چې فضل کريم چې تا يادوې هغه د صوبېدار فضل هادی زوے نه بلکې د صوبېدار فضل واحد رور دے. د هغوئ کور دېخوا دے جوړ زۀ دلته راغلم ، دلته راته دوئ اووې چې فضل کريم پتې ته تلے دے. رابه شي ته زمونږ مېلمه ئې خفه کيږه مه. ما ورته د خپل دعوت او دده د انتظار خبره اوکړه. نو هغوئ اووې هيڅ خبره نشته ستا مېلمه زمونږ مېلمه دے. خو زمونږ دا خيال وو چې دے زمونږ د فضل کريم مېلمه دے. او هغه پتې ته تلے دے. لا تر اوسه نه دے راغلے. مېلمه ته چائے پراتې پرتې وې. وې واخله دا چائے ورسره ته هم وڅښه بيا زمونږ نه رخصت ئې ، چائے مو اوڅښله. د هغوئ شکريه مې ادا کړه. او بهر ته راووتو . دا د پښتنو خلقو د اخلاص يوه نمونه وه حنان چاچا ته ما اووئيل . اوس راځه زمونږ ځائے هم اوګوره که بيا راځې چې معلوم خو وی درته . زمونږ ځائے ته لاړو. چې څه تيارې مو ورله کړے وو. هغه مې ورله د چايو سره راوړل. هغه زمونږ د رشته دارانو د مېلمستيا نه ډېر متاثره شوے وو. د نومونو د يو شان والی په وجه کله کله داسې هم کيږي.

# واوره راوره ببو دغه نانا دے

دا زمونږ د هلکوالی خبره ده. یو مشر سور ګېرى بابا خبره کوله. وئیل ئې پخوا یو ځل د اوچ کلی ته وادهٔ له تلې ووم. په هغه زمانه کښې دا دستور وو. چې خلقو به په وادهٔ کښې ګډېدونکې راوستې وو د شپې به مئیلس کېدو. ټول خلق به ورته چاپېره ولاړ وو. هلته په یوه حجره کښې د واده په خوشحالۍ کښې د مئیلس انتظام شوے وو. زهٔ هم په وړمبی قطار کښې ولاړ ووم. ډمانې ګډیدې. دا سندره ئې وئیله واوړه راواوړه ببو دغه نانا دے ده وئیل ما سپینې جامې اغوستې وې. سره ګېره مې وه. او پټکے مې تړلے وو. دې چورلک اوخوړو زما خواله راغله ،ما ته ئې ګوته اونیوله او دا ئې اووې واوړه راواړه ببو دغه نانا دے. ما ځائے بدل کړو. بل طرف ته اودریدم. هغې یو ځلې بیا چورلک وخوړو. په خلقو کښې راننوته . او دا ئې اووې واوړه راواړه ببو دغه نانا دے . زهٔ په خلقو کښې بیا پټ اودرېدم خو په پټکی او ګېرهٔ پېژندے شوم هغې یو ځلې بیا چورلک اوخوړو. په خلقو کښې راننوته. او دائې اووې واوړهٔ راواوړهٔ ببو دغه نانا دے. ټولو خلقو ما ته اوکتل وئې خندل اخر دا چې زهٔ ډېر تنګ شوم او د دې مئیلس نه لاړم.

# ډانډچ دې کړم

دا د تانې کالج د اولنو ورځو خبره ده يعنې د**1963** زمانه وه. يو هلک وې نقوی صيب زمونږ پرنسپل وو. دے يو ډېر قابل سړے وو او ښه منتظم وو. دهغه ډېرې قيصې مشهورې دی. وې يوه ورځ زۀ بغير يونيفارم کالج ته راغلے ووم. ده وليدم ما ته ئې اووې ديخوا راشه زۀ نزدې وراغلم. وې ته بغير يونيفارم ولې راغلے ئې. نه پوهيږې ډاډچ دې کړم. ما ووې نه جې ډانډچ کوۀ مې مۀ. بيا به په يونيفارم کښې راځم. وې څو ورځې پس ئې زمونږ سره کلاس اخستے وو. په سبق کښې ډانډچ ټکے راغے. ما ته ئې وې ته پاسه هلکه ډانډچ څه ته وائی. وې ما ورته وې چې جی تا چې ما ته يوه ورځ وئيلی وو. نه پوهيږې ډانډچ دې کړم. هغه وې نه بچيه په اسمان کښې وريځې داسې ښکاری لکه ډانډچې چې په ډاډچ وهلی وی. ډانډچې هغه کس وی. څوک چې مالوچ په مخصوصه اله يعنی ډانډچ باندې اووهی او بيل بيل ئې کړی.

# ته مونږ د تانړې کالج ته سبق له راليږلے ئې شاعرئ له مو نه ئې راليږلے

دا خبره هم د تانړې کالج د اولنو ورځو ده.د تانړې کالج ته به د چارسدې مردان ، لوند خوړ، دير، باجوړ، شموزو او سوات نه هلکان راتلل. او داخله به ئې اغسته. د لوند خوړ يو هلک غلام يوسف هم په فرسټ ائير کښې داخل شوے وو. په دغه ورځو کښې غلام يوسف يوسف صيب هم د تانړې کالج سټاف ممبر وو.

دوى به اخبارونو ته خپلې غزلې ليږلې او په اخبار کښې به چاپ کيدې. خو پته به پرې داسې وه. غلام يوسف يوسف ګورنمنټ کالج تانړه يوه ورځ د طالب علم غلام يوسف پلار له چا په لوند خوړ کښې يو اخبار راوړو. وې ستا زوے خو په کالج کښې شاعرى کوى. او په اخبار کښې ئې چاپ کوى. دا اوګوره :

ما تـه دې وئیلـې وو چـې سـتا شـومه
ولـې وائـې اوس چـې د بـل چـا شـومه
زړهٔ چې مې دې وړے دے نو زهٔ څه کوم
واخلـه مـا در واخلـه زهٔ هـم سـتا شـومه

د هلک پلار چې دا ولیدل ډیر غصه شو. وئیل ښه ده زهٔ به دده سره ګورم. په هغه ورځو کښې هاسټل نه وو. هلکان به د کرائې په کور کښې یا به د چا په حجره کښې اوسېدل. د رابطې د پاره ټیلیفون یا موبائل څه انتظام نه وو. د طالب علم پلار او تره د لوند خوړ نه تانړې ته راغلل. ددې په حجره کښې ستړی مشی خوار مشی اوکړې شو. غلام یوسف کالج ته تلے وو. لانه وو راغلے. شیبه پس د ے د کالج نه راغے پلار ورته اووې. هلکه ته مونږ تانړې کالج ته شاعری له رالیږلے ئې که سبق له. هغه ورته اووې ولې دادا جی ما خو شاعری نه ده کړې. پلار ئې ورته ټول اخبارونه راواغستل وې ئې دا څه دی دا ستا نوم دے غلام یوسف یوسف ګورنمنټ کالج تانړه او دغه ستا غزل دے . هلک وې زهٔ خو د دې نه نه یم خبر. پلار ئې اووې چې دا ستا نه دی. نو بیا د چا دی. منکر یږې ولې په دې حجره کښې یو مقامی کس راغې. هغه چې په خبره پوهه شو. نو د ده پلار ته ئې اووئیل. دا خو زمونږ د کلی غلام یوسف یوسف صېب دے. او په سټاف کښې دے. ډیر ښه شاعر دے. یو څو کسه ئې ورله نور هم مقامی د ثبوت د پاره راوستل. د هلک پلار ایله مطمئن شو او واپس کور ته لاړو. د نومونو د یو شان والی په وجه ځنې وخت داسې غلط فهمی پېدا کیږي.

# پټهان د ډز نه نه ويرېږی

دا قريبا د **1963** خواؤ شا خبره ده. مونږ به په ماسپخين کښې د ترور کور په حجره کښې د ګل رحمان استاد نه سبق وې. يوه ورځ مونږ د انګريزۍ په کتاب کښې سبق وې. چې کله استاد دا فقره اووے

**A Pathan does not fear from any one except God.**

استاد ددې ترجمه داسې کوله. چې پټهان د خدائے پاک نه علاوه نور د هېچا نه ويرېږی. يو بوډا زميندار خوا ته ناست وو. هغه وې داسې وائی چې پټهان د ډز نه نه ويرېږی مونږ ورته ووې. داسې نه وائی. وائی چې پټهان د خدائے پاک نه علاوه د هېچا نه ويره نه کوی. هغه وې نو خو دغه مطلب شو. چې پټهان د ډز نه نه ويرېږی. مونږ ئې ښه پوهه کړو. چې دلته د ډز مطلب هغه ډز نه دے. دا د انګريزۍ ژبې ټکے دے. د دې مطلب بدل دے. هغه بيا وې پوهه شوم پوهه شوم. خو دغه مطلب شو کنه چې پټهان د ډز نه نه ويرېږی مونږ وې څه يره ستا به اومنو هغه خلق وائی.

سک مګس خو په معنی کښې سک مګس دے
که هر څو ئې ارزے کاواک کاواک دے

Pukhto.Net
پښتو

## د فلمي ګانې پيرو ډۍ

په1966-1967 کښې مونږ د سېکنډ ائير سائنس طالب علمان وو. پروفېسر عبد الباقی صېب او پروفېسر ابراهيم صېب ځوک چې هغه وخت کښې ډې ما نستړ يټړ وو بحرين ته په بو ټانيکل ټور بوتلی وو مختلف بوټي ئې راته وښودل. مازيګر په واپسۍ کښې چې مينګورې ته را ورسېدو . هلکانو وې مونږ فلم ګورو. په دغه

زمانه کښې لا د پښتو فلمونه نه وو راوتلی. ټول د اُردو فلمونه به چلېدل په سوات سنیما کښې غالباً چې مجاهد فلم لګیدلے وو. ډیرې زور دارې ګانې پکښې مونږ واورېدلې چې یوه پکښې څه داسې وۀ.

**آج دشمن کا تختہ اُلٹ جائیگا**

**آج مظلوم ظالم سے ٹکرائے گا**

ما په یو ملګری پسې ټوک چې زمونږ سره په ګاډی کښې ناست وو د دې ګانې په پیروډی کښې داسې اووې.

**نیک محمد باتوں میں الجھ جائیگا**

**اس الجھنے سے پھر وہ سمجھ جائیگا**

**زوالوجی۔۔۔۔کمیسٹری۔۔۔۔**

نېک محمد صېب حسب معمول مسکې شو دے ډېر یو ښه سړے او زمونږ خوش مزاجه ملګرے وو. بیا وروستو د فارسۍ پروفېسر اوټاکلے شو. اوس وفات شوے دے. خدائے پاک دې ئې اوبخښی دا شعر زمونږ په کلی کښې ډېر مشهور شوے وو. او ډیره موده خلقو ته یاد وو.

Pukhto.Net
پښتو

## د فټ بال د میچ نه ټور جوړ شو

زۀ د **1972** خواؤ شا د تاڼې کالج په سټاف کښې ووم. د اټر او ډګرې فټ بال ټیمونو یو څو هلکانو د پرنسپل ډاکټر سید قیوم صېب نه د ګورنمنټ کالج پېښور د ټیمونو سره د میچ د پاره منظوري واغسته. او درې سوه روپۍ ئې منظورې کړې. پرنسپل

صېب ورته اووې څوک به انچارج وی، دوئ ورته زما نوم واغستو. د
کالج هیډ کلرک زۀ راوغوښتم هلکان هم حاضر وو. وئیل دا درې سوه
روپۍ واخله بلونه به بیا راوړې ما وې ډیره ښه ده. هغه وې سبا به د
انټر او ډګری فټ بال ټیمونه ګورنمنټ کالج پېښور ته بوځې. د هغوئ
د ټیمونو سره به ئې مېچ وی. ما وې ډېره ښه ده کومو هلکانو چې
منظوری اغستې وه. غالباً دهغوی نومونه څه دا رنګ وو. فدا
محمد، شاه روم، محمد اسرار (اردوابناد) محمد جاوید، محمد
خورشېد، دوئ په انټر او ډګری کښې ښه سینئر هلکان وو. او ښه
لوبغاړی هم وو. ما دوئ یو طرف ته جرګه کړل. چې سبا به که خېر وی
وختی د جی ټی ایس اډې ته راشئ. ټول هلکان خبر کړئ. په جمع به
ځو. دوئ وئیل ښه جی سحر چې زۀ د تانې جی ټی ایس اډې ته لاړم.
دوی حاضر وو. خو نور هلکان نه وو راغلی ما وې نور څه شول. دوی
وې هغوئ به بټ خېلې ته تلی وی. هلته به په ستاپ زمونږ انتظار
کوی. مونږ چې بټ خیلې ته لاړو. هلکان هلته هم نه وو. ما وئیل هلکه
ستاسو باقی ملګری خو نشته. دوئ اووې دا خو ډیر غټ شیطانان
دی. زمونږ نه بغېر به پېښور ته تلی وی. مجبوراً به اوس ورپسې
پېښور ته ځو. چونکه دا زما اولنے تګ وو. په دې وجه زۀ د دوئ په
چالبازو نه پوهېدم. مونږ چې د پېښور جی ټی ایس اډې ته ورسېدو.
هلکان هلته هم نه وو. په هغه زمانه کښې نه موبائل وو. نه د ټیلی فون
څه خاص انتظام وو. زۀ شکی شوم ما وې هلکانو راسره دهوکه وکړه.
تردد غوندې شوم. ما ووې ځئ چی واپس ځو. اوس خو مېچ نه کیږی.

دوئ وې ته صبر اوکړه اوس به شپه کړو سبا به ئې بيا انتظار وکړو. ما وې اوس به چرته ځو. دوئ ووې هېڅ خبره نشته. ته پرواه مه کوه پرنسپل صېب له به مونږ جواب ورکوو. وې داسې به وکړو چې په ښار کښې به وګرځو بيا به مازېګر فلم وګورو. او د ماښام ډوډۍ او شپې له به سلاطين هوټل ته لاړ شو. ما وې ډيره ښه ده. مازېګر فلم له لاړو. په نهه بجې چې راووتو نو دوئ اووې اوس بل ګورو ما وې ډېره ښه ده. په سبا له ګورنمنټ کالج پېښور ته بيا لاړو. هلکان چرته وو. دا خو د دوئ منصوبه وه. زهٔ پرې پوهه نه ووم. ما اووې زهٔ به پرنسپل صېب له څه جواب ورکوم. مېچ ونه شو. دوئ اووې ته اوس زمونږ نه تلے نشې. دلته به دوه درې ورځې وګرځو تاريخی ځايونه به وګورو. بيا به ځو. ما وې زهٔ چې اوس مو څنګه خوښه وی. ددې نه پس زمونږ دا طريقه شوه. د ورځې به په اهمو ځايونو ګرځېدو. مازيګر به فلم له تلو. او شپې له به سلاطين هوټل ته تلو. په درېمه ورځ زهٔ ډېر خفه ووم. ما وې هلته به څه جواب ورکوو. دوئ تسلی راکړه. وې پرواه مه کوه. په دې ورځ ئې ما له د خوشامندې نه په پنځه روپۍ بېګ واغستو او په پنځه روپۍ ئې راله په نيلام کښې کوټ واغستو. په څلورمه ورځ سحر وختی جی ټی ايس اډې ته لاړو. ټکټونه مو راواغستل. او کلی ته راغلو په هغه زمانه کښې دومره ارزانی وه چې په درې سوه روپۍ مونږ په ښار کښې درې ورځې وګرځېدو او واپس ټکټونه هم وشول. په سبا له کالج ته لاړو. زهٔ ډاکټر صېب له وراغلم هغه ډېر غصه وو. هغه اووې د فټ بال اصلی هلکان خو ټول پاتی شوی وو. ته د چا سره تلے

وے. دلته خو هغوئ غوبل جوړ کړے دے. زۀ په دغه هلکانو پسې اووتم. ما اووې راشئ اوس جواب ورکړئ که نه ـ هغوئ د نر زامنو ګڼ هلکان رادننه کړل. دې ټولو اووې مونږ د دوئ سره تلی وو. پرنسپل صېب نور څه ونه وئيل. وې بس ټيک ده ورځئ اصلی لوبغاړی بيا د فدا صېب سره مېچ له په دغه ورځ لاړل. پرنسپل صېب خفه وو. هغه وې حقيقت خو دا دے. چې اصلی هلکان پاتی وو. دا خو دوئ نور رادننه کړل. ما ته ئې اووې ته څنګه لاړې. ما اووې دوئ زۀ په تياره کښې وساتلم. بيا مې ترې د هلکانو او د ځان د طرفه معافی اوغوښتله. خو بيا هم د هغه خفګان لرې نه شو. بيا ما پروفېسر مبعوث الوارث صېب ته قيصه تېره کړه. ما وې اوس څه وکړم. ډاکټر صېب نه رضا کيږی. دے يو ډېر ښه سړے وو. په کالج کښې زمونږ د فزکس استاد هم پاتې شوے وو. وې راځه چې ورشو. چې زۀ ورته اووايم د پروفېسر مبعوث الوارث صېب په وينا ئې مونږه معاف کړو. دا زما اولنے ټور وو. بيا چې به ټور له تلم. نو هلکان به مې د لسټ مطابق ګاډی ته وخېژول او زۀ به د ټولو وروستو ګاډی ته ختم. ډاکټر صېب بيا زما ښه دوست شو. او ډېر محتاط به اوسېدم.

# د مُلا بهادر اودس مات شو

د ملا بهادر نوم په دې خواؤ شا کښې هر څوک پېژني د ده متعلق په عوامو کښې ډېرې خبرې مشهورې دی د ځائے ځایګی متعلق ئې پته نه لګی څوک وائی د ے د برېکوټ وو. څوک وائې د ے د غالیګی وو. او څوک وائې چې د ے د ابوهې وو. ما چې د عالم زیب شالدا او ممتاز مسافر نه څه اورېدلی دی. هغه دا دی. وائی چې ملا بهادر د ابوهې اوسېدونکې وو. ده به په جمات کښې وړو ته سبق وې. په دې ماشومانو کښې بېګم جان نومی یوه جینۍ هم وه. چې په طالب علمانو کښې شامله وه. نیمبولا نومې یو پېرے به هم په دې طالب علمانو کښې د سبق زده کولو د پاره کېښناستو. یوه ورځ د بېګم جان پلار ملا بهادر ته شکایت وکړو وې دا پېرے (نیبمولا) زما لور تنګوی. او مونږ د ده نه ډېرتنګ شوی یو. هغه پیری ته څو څو ځله اووې چې د جینۍ نه قلار شه خو په هغه د دې څه اثر ونه شو. بله ورځ ملا بهادر د پیری د سیزلو اراده اوکړه د نیمبولا اووه خوئندې وې. ټولې راغلې وې په دیوال ناستې وې، ملا بهادر ته ئې منت زاری کوله. وې دا زمونږ ایکی یو ورور د ے. د ے مه سېزه که په مونږ کښې دې څوک خوښۀ وی نو هغه به درله هم درکړو. ملا بهادر د جناتو هېڅ خبره ونه منله. پیرے ئې په کوزۀ کښې بند کړو او وئې سیزو. وائی چې په کوزه کښې نیمبولا کمې چغې اووهلې هغه بهر هم اوریدې شوې. د نیمبو لا خوئندو د بدل اغستو اراده اوکړه. شپږ خوئندې ئې لاړې او یوه د بدل اغستو د پاره پاتې شوه. د دې نه پس به ملا بهادر

هر وخت په اودس کښې اوسېدو. یوه ورځ سحر وختی ورته جناتو په پېزار ځائے کښې ازغی اچولی وو. ملا بهادر چې راغې تیاره وه په هغه زمانه کښې بجلی یا نوره څه رڼا نه وه. دۀ چې په ازغو پښې کیښودې. اودس ئې مات شو. د نیمبولاخور دے اوچت کړو. د ستنې او د سرې په مینځ کښې ئې ورکړو. دے مړ شو. بیا ئې خلقو جنازه کوله چې په دې کښې د نیمبولا خو راغله. او دے ئې اوچت کړو. د ناګوهې په خوا کښې په یو دنګ کمر کښې ئې اوېزان کړو. دا دومره اوچت وو چې څوک ورله خوا ته نه شو ورتلې. د ملا بهادر د دې واقعې څه پته نه لګی. خو ګمان دا دے چې د دې به قریبا دوه سوه کاله شوی وی. عالم زېب شالدا د نیمبولا متعلق وائی

مینې مینې نشته درته وایم په رښتیا سره
مینه د مجنون وه په دنیا کښې د لیلیٰ سره
بس دے عالم زېبه نیمبولا که دې لیدلے وے
زړه به دې په حال د هغه هله سوزېدلے وے
سخته دښمنی د ښاپېرو شوه د ملا سره
مینه د مجنون وه په دنیا کښې د لیلی سره

ممتاز مسافر په دے حقله وائی

که ملا نیمولا ار کښې سوے نه وے
د ملا به ښاپیری دښمنان نه وے

# زرتاجه فلم لګېدلے دے

دا د **1978** خبره ده. زۀ نوے نوے د وانا جنوبي وزيرستان په کالج کښې د پښتو لېکچرار شوے ووم. مونږ به دواناپه سکاوټ کېمپ کښې اوسېدو. د دې کېمپ دوه حصې وې. يو ته به ئې اپر کېمپ او بل ته به ئې لور کېمپ وې. د سول محکمو خلق به په لور کېمپ کښې اوسېدل او په اپر کېمپ کښې به فقط سکاوټ واله اوسېدل. مونږ به هلته د انفارميشن د محکمې يو افسر بخاري صېب سره اکثر کېښناستو دے د نوښار اوسېدونکې وو. زمونږ په سټاف کښې پروېز پروفېسر صېب هم د نوښار وو. پروېز صېب چې به کله بخاري صېب له تلو. نو زۀ به ورسره هم ملګرے ووم. يوه ورځ بخاري صېب خپل نوکر چرته لېږلے وو. چې واپس راغے. وې زرتاجه فلم لګيدلے دے. هغه ورته اووې تا ته څنګه پته ولګېده چې زر تاجه فلم لګېدلے دے. هغه اووے ماچې وکتل. نو اول "ز" وه. بيا چې مې اوکتل. نو"ر" وه. بيا چې مې اوکتل نو "ج" وو. وې بس زۀ پوهه شوم. چې زرتاجه فلم لګېدلے دے. په وانا کښې د تفريح دپاره فلم ايکې يو ذريعه وه. مونږ به هر نوے فلم کتو.

Pukhto.Net
پښتو

# موږ ورته ماويز بولی

هم په دغې وانا کیمپ کښې مونږ اوسېدو. یوه ورځ زمونږ یو ملګری دکاندار ته اووې وسکې راکه. هغه اووې وسکی نشته. زمونږ ملګری ورته اووې دغه نه دی. د دې نه راکه کنه دکانداراووې: [ موږ ورته ماويز بولی ]

## مونږ چړاګان نه پرېږدو

مونږ د وانا جنوبي وزيرستان په کيمپ کښې وو. مونږ په يو کور کښې اوسېدو. کله چې سټاف ډېر ګڼ شو. نو بيا مونږ دوه درې کسانو بل خالي کور کتو. دا سرکاري کېمپ وو. د کور څه کرايه وغيره نه وه. هلته يو خالي کور وو. د دې کور ګاونډي ته مو ور وډبولو. دا فيملي والا کور وو. يو سړے راووتو. مونږ ورته وې که دا کور خالي وي. نو مونږ به ورله راشو. هغه اووې مونږ دلته چړاګان نه پرېږدو. ما اووې مونږ خو چاړاګان نه يو. خبرې کولے شو. يو کس مې خوا ته ولاړ وو. هغه وې د ده مطلب دا دے . چې په ګاونډ کښې مونږ لونډان نه پرېږدو. دلته زنانه اوسيږي. بيا مونږ پوهه شو او لاړو.

Pukhto.Net
پښتو

# د غنمو بوجۍ او سودائی

يو سړی د غنمو بوجۍ مشين ته وړی وه. کله چې د دې حال معلومولو د پاره راغے. چې غنم وړه شوی که نه د غنمو بوجۍ ولاړه وه. خو يو سړی د هغه د بوجۍ نه غنم خپلې بوجۍ ته اچول. ده ورته اووې دا څه کوې. هغه اووې زهٔ سودائی يم. ده ورته اووې چې ته سودائی ئې نو د خپلې بوجۍ نه خو دې يوځل هم زما بوجۍ ته غنم وا نه چول. ته ښه روغ ئې سودائې نه ئې.

# دا ستادانو حلوه او پيشو

يو هلک راته پخوا د **1968** خواؤ شا خبره کوله. وې د ملاکنډ خاص په هائی سکول کښې استادان اوسېدل. د ژمی شپې ورځې وې. مونږ هم د دې سکول خواؤ شا کښې اوسېدو. وې يوه شپه استاذانو ماسخوتن ځان له حلوه پخه کړه. د ماسخوتن د مانځه وخت وو. دوئ حلوه په کمره کښې جرنده کړه. او د ماسخوتن مانځه له لاړل. زۀ په روشندان ور واوړېدم. حلوه مې وخوړه. او بيا مې يوه پيشو چرته وکتله. او په روشندان کښې مې ورواچوله دوئ چې د مانځه نه واپس راغلل يو کس د حلوه لوخی ته لاس کړو. حلوه نه وه دوئ حېران شو. چې دا چا وخوړه. دوئ بيا د کټونو لاندې کتل. جوړ پيشو ئې اولېدله. وې هلکه زمونږ حلوه دې پيشو خوړلی ده. چې خلاصه درنه نه شی. ټولو په پيشو راباندې کړل. زۀ ورته بهر پټ ولاړ ووم. دا هر څه مې ليدل. په څه بهانه وراغلم او پيشو مې ترې خلاصه کړه. ما ورته اووې څه خبر دے دغه به د پيشو نصيب وو. ځان له نوره پخه کړئ.

# د ماشومانو ښکلی عادتونه

چا یو میسج د بچو د عادتونو متعلق رالیږلے وو. زۀ ئې دلته لوستونکو ته وړاندې کوم. وائي چې پېغمبر ﷺ فرمائیلی دی. چې زما په بچو کښې دا پنځه عادتونه ډېر خوښ دی.
(۱) بچی په خاورو کښې لوبې کوی. او د خاورو نه نفرت نه کوی. مطلب دا شو چې دوئ غرور او تکبر خاورې ایرې کړو.
(۲) واړه چې څه شے غواړی. نو ژاړی او د هغې وخت پورې ژاړی. څو پورې چې د ده خبره ونه منلے شی.
(۳) واړه په خپلو کښې جګړې هم کوی. خو بیا په خپلو کښې زر صلح وکړی. د یو بل سره هیڅ بغض او حسد نه کوی.
(۴) څه چې ورته خلق ورکړی. هغه وخوری خو د جمع کولو حرص نه کوی.
(۵) د خاورې کورونه جوړوی. او چې لوبې ختمی کړی. نو بیا هغه کورونه وران کړی.

# دا خو سمه دمه قالدره ده

د قالدرې او میخ بند په مینځ کښې یو کنډؤ دے. قالدرې ته د درګۍ پهاټک سره لار تلې ده. او میخ بند ته د طوطه کان سره لار تلې ده. په دې کنډؤ کښې سړک نشته خو د پیادؤ لار پکښې شته. وائی چې یو سړې د قالدرې نه میخ بند ته تلو. د غر سر ته چې ورسېدو. نو لار ترې خطا شوه. او قالدرې ته واپس روان شو چې قالدرې ته رانژدې شو نو چا ته ئې اووې دا خو سمه دمه قالدره ده. یو سړی ورته اووې ولې ته څه وائې چې دا قالدره نه ده. دا خو قالدره ده. وې زما خو دا خیال وو چې دا ګنې میخ بند دے لاره مې غلطه کړې ده. واپس راغلم.

Pukhto.Net
پښتو

# کشور حسین شاد باد

دا د **1962** خبره ده. زۀ په اتم جمات کښې ووم. د سحر وخت وو سکول ته تلم کله چې د سکول په لوئې ګیټ دننه کېدم. په دغه ځائے کښې یو سړے ولاړ وو. ما ته ئې اووې د لسم جمات کشور علی ته وایه چې په ګیټ درته یو کس انتظار کوی. زر راځه ما ورته اووې کشور علی نوم خو به ما ته نه یادېږی. هغه بیا اووې کشور حسین شاد باد ما وې بس اوس به مې نه هېرېږی.

Pukhto.Net
پښتو

# لالا مار دې شل راوړه

کله چې په **1958** کښې جنرل محمد ایوب خان نوی نوی مارشل لالګولی وه. په هغه وخت کښې ډېر خلق په دې نه پوهیدو، چې مارشل لا څه ته وائی. په یو پټی کښې زمیندارو کار کولو. دوئ د کار نه پس لږه دمه کوله. یو کس اووې چې دا مارشل لا څه شے دے. بل کس اووې دا خو اسانه خبره ده. مطلب دا دے چې لالا مار دې شل راوړه. ټولو چغې کړے وې او دغه مطلب ئې ټیک دے.

Pukhto Net

# قائد اعظم چې ستا په عمر کښې وو پاکستان ئې جوړ کړے وو.

يو هلک په اتم کښې کمې نمبرې اغستې وې. پلار ورته قهرېدو وئيل ئې قائداعظم چې ستا په عمر کښې وو په اتم کښې فرسټ راغلے وو. هلک سر ښکته کړو او پلار ته ئې رو غوندې اووې. بابا قائد اعظم چې ستا په عمر کښې وو. نو پاکستان ئې جوړ کړے وو. د دې سره ئې پلار لاجوابه شو.

# بیا د دې خلقو سره مه ګرځه

یو هلک راته پخوا خبره کوله. وې زهٔ د تانې دامانې طرف ته د حاجت رفع کولو د پاره تلے ووم. زهٔ په یوه داسې کنده ورغلے ووم. چې په هغې کښې دننه دوه لارې وې. دې یوې کندې ته به خلق د حاجت د پاره تلو. او په دې بله کښې به جوارګر ناست وو. جواری به ئې کوله زهٔ د حاجت د پاره یو کندې ته وراغلم. چې واپس راتلم. نو کله چې هغه ځائے ته زهٔ را ورسېدم. چرته چې دوه لارې یو ځائے کېږی نو یو څو جوارګر د کندې نه واپس رازوان وو. زما سره یو ځائے شو. چې لږ مخکښې لاړم. نو یو بوډا مشر مخې له راغے. زهٔ ئې دهغوی نه رابیل کړم. او ما ته ئې اووې د دې خلقو سره بیا مه ګرځه ته خو ډېر نیک هلک ئې دهٔ وې ما ورته اووې چې زهٔ خو د اودس ماتی د پاره تلے ووم. دوئ خو د دې بلې کندې نه راوتی او زما سره یو ځائے شوی دی. هغه اووې پوهه شوم. بهانې مه کوه خو بیا دوئ سره مه ګرځه. دهٔ وې ما خپله صفائی ډېره پیش کوله. خو د مشر یقین نه کېدو. بیا مې ورته د ناخوالۍ نه وې ټیک شو بیا به د دوئ سره نه ګرځم.

Pukhto.Net
پښتو

# يو مې ځوانى بل مې د سرو شونډو خندا ده

په کال **1987** کښې زما د ماما د زوى سهراب خان په بره بازده کښې واده وو. هغه اووې د ځان سره شاعران اديبان راوله. مشاعره به کوئ ما وې ډېره ښه ده. په هغه وخت کښې زمونږ د يو شاعر ملګرى فضل وهاب کامل صېب سره خپل سوزکے وو. مونږ د

هغه سره صلاح وکړه هغه زمونږ سره د تیلو په خرچه باندې راضی شو. زر نوش شهاب صیب فضل حمید شاهین صیب هاشم صابر سرهندی صیب، بخت زمین نګار صیب، ناصر شاه ناصر صیب په دغه سوزکی کښې برۀ باز درې ته لاړو. وادۀ په ښکلی ډول وشو. زمونږ ماماګانو وې ماښام به مشاعره وی. خو د شاعرۍ نه مخکښې به ټنګ ټکور هم وی. د دریم جنس یو کس د خپلو سندر غاړو ملګرو سره راغلے وو. مازیګر مونږ د باز درې رود ته لاړو. ما ملګرو ته اووې دلته خواره واره شئ سهرې ولیکئ بیا به ځو. جوړ د ادم خان درخانۍ د ګټ خواؤ شا ټول خواره کښیناستو سهرې مو ولیکلې زما سره یو ورکوټے ټېپ وو هلته مو مشاعره ریکارډ کړه. ماښام ماښام ترې واپس راغلو. د شپې مونږ وختی سملاستو مونږ وې چې بیا په شپه کښې مشاعرې له راویښ شو. د شپې په دوه بجې مونږ ډنډوقا یعنې د واده حجرې ته راغلو. مئیلس ښه ګرم وو. هیجړا ګډېدو سندر غاړی باجو واله سازونو واله ټول مصروف وو. دا سندره ئې وئیله:

ستا په جدائۍ کښې تېر به شی وختونه
مینې دې ملنګ کړم غواړمه خبرونه
ورځ مې ناقلاره وی ستا غم راپه غاړه وی
شپه مې شوګیره وی نه راځی خوبونه

سندره خلاصه شوه. ما وې اوس به مئیلس ختم شی. مونږ به مشاعره شروع کړو. خو بیا سازونو واله بله سندره شروع کړه. هغه هم څه دا رنګې وه.

يو مې ځوانی بل مې د سرو شونډو خندا ده
اوس خو ښه ياره ستا ده ته دا غواړې که دا
بلا دې واخلم ستا رضا زما رضا ده
اوس خو ښه ياره ستا ده ته دا غواړې که دا

ته دا غواړې که دا

د دے وينا سره به هغه ګډويدونکے په ناستو خلقو کښې يو کس ته نزدې شو. خپل ځان طرف ته به ئې اشاره کوله. اول يو طرف او بيا بل طرف به ئې هغه ته نزدې کړو او يوه چغه به شوه. مطلب دا چې د سحر د بانګ پورې د مشاعرې وخت رانغې مونږ ترې د سحر مانځه له لاړو. چې واپس راغلو مئيلس بيا ختم شوے وو. د سحر د چايو نه پس هغوی معذرت وغوښتو. چې د مشاعرې وخت پکښې رانغې. مونږ اووې هيڅ خبره نه ده. بيا ورته ما کېسټ واوروو. هغوئ ډېر خوشحاله شو شاعرانو د حاضرينو نه لوئې داد واغستو. اصل خبره دا ده چې د شپې مشاعره اول وشی. نو خو ټيک ده مئيلس بيا وروستو کيږی خو چې ټنګ ټکور مخکښې شی. نو بيا مشاعره بالکل نه کيږی. ځکه چې د مشاعرې خوند ډېر وی خو د مئيلس سره نه کيږی.

## ابۍ !!! يو سټ ـــــ

د 1962 خواؤ شا مونږ د تانړې په هائی سکول کښې سبق وې. د شېر ګړهـ اکرم خان بابا جی زمونږ سېکنډ ماسټر وو. ډېر ښه سړے وو. مونږ ته به ئې د سبق سره سره خوږې قيصې هم کولې. يو ځلې ئې د سوات چکيسر خبره کوله وې په پخوا زمانه کښې به خلقو د لرې علاقو نه ګوړه چکېسر ته وړله. او په سېر غوړو به ئې يوه چکۍ ګوړه ورکوله. په دې وجه د دې کلي اولنے نوم چکۍ سېر وو. چې بيا وروستو چکيسر شو. دغه ګوړه به په کور کښې په يو مزی پورې اويزانه وه. د دې واک اختيار به د کور مشرې زنانه کوؤ. کله چې به د چا زړۀ خوږو ته وشو. نو ابۍ ته به ئې اووې ابۍ يو سټ نو هغه خواهش مند به ګوړه يودوۀ ځله اوڅټله د وخت د تېريدو سره دنيا ترقی وکړه. د چکېسر خلق هم د ترقۍ په دې منډه کښې د چا نه وروستو نه دی.

# که لګی بوتل به لګی

نسیم شاه د صحت په محکمه کښې کار کولو. ځان له کوارټر ورته الاټ شوے وو. ښځه او بچی ئې نه وو. دبهرتی کېدو په وخت دے یو نارمل انسان وو. خو پته نه لګی چې په څه وجه دے بیا د یو غېر متوازن انسان په حېثیت مشهور شو البته خپله ډیوټی به ئې صحي کوله . او هیڅ قسم کوتاهی به ئې نه کوله. څو کاله وړاندې ریټائرډ شو. او خپل کلی ته لاړو. یوه ورځ دے په لاره روان وو. د خاورو د تېلو بوتل ورسره وو. یو څو هلکان یو طرف ته ناست وو. یو کس چرئیز ټوپک د صفائۍ د پاره راویستلے وو. هغه تش ټوپک ئې د ده طرف ته اونیو. وې ئې ځان ټینګ که ولم دې ده سمدستی د خاورو د تېلو بوتل مخې ته ونیو. وې ئې که لګی بوتل به لګی. یوه ورځ یو هلک د ښځو په جامو کښې د ده کور ته ننوت. بهر یو څو کسه ملګری ورته ولاړ وو. دے چرته تلے وو. چې راغے خلقو ورته اووې ستا کور ته یوه جینۍ ننوتی ده ته ئې اوګوره چې دا څوک ده دے چې کور

ته ننوتو او ورته ئې وکتل وې راووځه مسلمانې ته څوک ئې هلک د ښځو په اواز کښې اووې. تا ما ته وئيلی وو چې راځه زۀ به درسره واده وکړم. ده اووئيل ما د چا سره د وادۀ کولو وعده نه ده کړې. هغه بيا هم نه راوتو. د ے سمدستی نژدې د سپاهيانو خوا له راغے وئيل دلته يوه جينۍ زما په کور کښې ننوتی ده. ما ورته د راتلو هېڅ نه دی وئيلی. اوس زما د کوره نه وُځی. سپاهيان خلقو پوهه کړل. وې مونږه ورسره ټوقې کوو. هغوئ ورته اووې زنانه ته څوک ئې بهر ته راوځه. هغه د جينکو په اواز وې زما سره ئې د واده وعده کړې ده. زه اوس نه راوځم. جوړ هغوئ ده ته اووې ځه خو په نکاح ئې واخله. ده اووې زه د چا سره نکاح نه کوُم. مسلمانې بهر ته راوځه. اخر دا چې هلک بهر ته راووتو د دې نه اندازه ولګيده چې د ے ډېر نيک سړ ے وو. چې کله ريټائرډ کېدو. نو تپوس ترې اوشو چې ته خپل پنشن په چاپسې ليکل غواړې ده وې نسيم شاه اينجل هغوئ اووې د دې څه مطلب د ے. ده اووې کله چې زۀ مړ شم. بيا به زۀ د يو نيک سړی په شکل دوباره پېدا شم. د هغه نوم به نسيم شاه اينجل وی. دا پنشن به بيا ما ته په هغه نوم ملاويږی . پته نه لګی چې محکمې واله څه وليکل. خو دا حقيقت د ے چې دا خبره ده په داسې حال کښې کوله چې د ے ذهنی طور جوړ نه وو. خلقو به د ده سره قسم قسم ټوقې کولې. خو د خلقو په ټوقو ټقالو به ئې چرته هم بد نه ګڼل.

# میرا سفیدہ بھاگ گیا ہے

(میرے پٹھوں میں اینٹھن ہوئی)

پخوا راته يو هلک خبره کوله وې زۀ په فوج کښې بهرتی شوے ووم. څه موده پکښې ووم بيا مې پرېښودو. وې زۀ ئې د ټرېننګ په دوران کښې د نورو ملګرو سره يو تالاب ته واچولم. مونږ ته ئې اووې شابۍ لامبو وهۍ. ما له لامبو چرته راتله خو بيا هم کوشش مې کوو يو ساعت پس مې سپينه اوتښتيده. زۀ غاړې له راغلم. انسټرکټر راته اووې. مه راخيژه شابه د تالاب بلې غاړې له په لامبو لاړ شه. ما ورته اووې:

**میرا سفیدہ بھاگ گیا ہے**

هغه اووې: **سفیدہ کیا ہوتا ہے؟؟؟**

خو بيا ورته يو کس اووے:

**اُسے تکلیف نہ دو چھوڑ دو۔**

نو زۀ ئې پريښودم.

# وېګن کښې شاته سړی وئيل
# (هغه مړی خپه را ښکته کړه)

دا د 1962 خبره ده . ما د اتم امتحان ورکړے وو. د نتېجې په انتظار کښې ووم. زما پلار په باجوړ جارکلی کښې د ليوی صوبېدار وو. په دغه ورځو کښې د دير رياست نوے نوے د پاکستان په عملدارۍ کښې راغلے وو. د جندول خان معزول کړے شوے وو. د خار د نواب نوابی هم عملاً ختم شوی وه. خو بهر حال ناست وو. ځائے په ځائے د فوج او مليشې کېمپونه لګيدلی وو د باجوړ ليوی هم په دغه ورځو کښې جوړ شوے وو. زما پلار اول په منډه جندول کښې وو. بيا د باجوړ جار کلی ته بدل شو. زۀ به اکثر هغه له په چټيانو کښې تلم. د اتم د امتحان نه پس هغه له زۀ د جار کلی ته لاړم د ضلعی انتظاميی له اړخه يو خوا زما پلار خپلې ذمه وارۍ تر سره کولې. بل خوا د نواب تحصليدار هم کار کوو. د ورځې به زۀ د پلار سره ګرځېدم. او شپې له به واپس جارکلی ته راتلو. مونږ به د تحصليدار په دېره کښې کېښناستو هلته به د قلعه ډېر خلق راغونډ شوی وو. محفل به ئې ګرم کړے وو. شاعران او سندر غاړی به راتلل. کله به مئيلس کېدو. کله به خلقو قيصې کولې. يو شپه يو سړی قيصه کوله.

وې مونږ څو کاله وړاندې د سرډېرو کلی چارسدې نه په وېګن کښې د شپې باجوړ ته مرے راوړو. مونږ دا مړے پاس په چت تړلے وو. د دې وېګن شاته هم دوهٔ دروازې وې. د دې شيشې ماتې وې. مونږ پنځه شپږ کسان په وېګن کښې ناست وو. د شپې ناوخته د سر ډېرو نه راروان شو. څه لاړ چې مونږ اووهله. نو د ټولو نه شاته سيټ والا کس اووې. هغه مړی خو خپه راښکته کړه. مونږ اووې دا څه وائې. مړے خو مونږ کلک تړلے دے. مړے هم چرته حرکت کولے شی. خو مونږ ټولو شاته کتل. مړی بيا پښه راښکته کړه. مونږ ګاډې اودروو. مړے مو کلک اوتړلو ګاډے بيا روان شو. يو شيبه پس هغه کس بيااووې. مړی خو بيا پښه راښکته کړه. مونږ ګاډے يو اړخ ته ودرولو. مړے مو ښه کلک اوتړلو. او روان شو. مونږ ډرائيور ته اووې ګاډے تيز بوځه. چې زر ورسو په پته نه پوهيږو چې دا څنګه او ولې مړے پښه راښکته کوی. چې لږ لاړو. دا ځل مړی شاته سړی له لته ورکړه. مونږ ګاډے يو طرف ته ودرولو. او ټولو په پټو کښې نزدې کلی ته منډې کړې. چې شاته مو اوکتل نو مړے راپسې وو. بيا د دغې کلی يو څو کسه سپين ږيرى مخې له راغلل. هغو سمدستی پوهه شو مړی ته ئې اووې شهادت دې مبارک شه. د دې سره مړے راپريوتو مونږټولو بيا وېګن له يوړو. کلک مو وتړو. دا ځل ئې بيا حرکت ونه کړو. چې سحر سحر کېدو مونږ باجوړ ته مړے رسولے وو.

Pukhto.Net
پښتو

# د هټلر پرائمري تعلیم کمزورے دے

وائي چې چا د چرچل نه تپوس اوکړو. چې دا هټلر کنځل ډېر کوي. او هر وخت بدې ردې او سپورې ستغې وائي. د دې څه وجه ده . هغه ورته اووې د ده پرائمري تعلیم کمزورے دے . او د چا چې پرائمري تعلیم کمزورے وي. د هغوئ عادتونه هم دغسې وي.

## څه چې تاسو اغستی دی هغه ستاسو دی.
## او څه چې مونږ اغستی دی هغه زمونږ دی.

دا د1895خواؤ شا خبره ده. کله چې د انګریزانو حکومت نوے نوے قائم شوے وو وائی چې په دغه ورځو کښې د پښتنو او د انګریزی فوج نخښتې شوی وې پښتنو د انګریزی فوج نه ټوپکې اغستې وې. او هغوئ ته ئې زیان رسولے وو. په ملاکنډ کښې انګریز پولیټیکل ایجنټ د ایجنسۍ جرګه راغوښتلی وه. جرګې ته پولیټیکل ایجنټ اووې. چې تاسو څه اغستی دی. هغه مونږ ته واپس کړئ . او مونږ چې څه اغستی دی هغه به تاسو ته واپس کړو. په دې جرګه کښې یو تعلیم یافته زلمے داسې هم وو. چې هغه په کلکته کښې د څوارلسم پورې سبق وئیلے وو په انګریزۍ ښه پوهېدو. هغه سمدستی جواب ورکړو.

**What you have captured is your property and what we have captured is our property.**

یعنې څه چې تاسو اغستی دی هغه ستاسو دی او څه چې مونږ اغستی دی هغه زمونږ دی. پولیټیکل ایجنټ سمدستی پوهه شو. هغه جرګې ته مخ راواړوو. وې اوګورئ دا ورکوټے هلک د مشرانو نه مخکښې کیږی . جرګې هلک ته اووې ته چا راوستلے ئې بهر ته وُځه. دوئ په دې پوهه نه شو. چې دې هلک څه اووې. هلک د جرګې نه اووتو. او بیا چې څه پولیټیکل ایجنټ څه غوښتل هم هغه اوشو.

Pukhto.Net

# ادریس علیه السلام په جنت کښې پاتې شو

په یو مذهبی کتاب کښې چرته ما لوستلی وو. چې د ادریس علیه السلام یو ځل نمر ته پام شو. فکر ئې کولو چې په دې نمر خو به هم د یوې فرښتې ډیوټی وی. دا خو ډېره سخته ډیوټی ده. دې فرښتې ته خو به ډېر تکلیف وی جوړ سمدستی ئې خدائے پاک ته سوال اوکړو چې اے خدایه په دې فرښتې دا ډیوټی اسانه کړې. هغه

خو پېغمبر وو. سوال ئې سمدستي قبول شو په فرښتې اساني راغله هغه فرښته د ادريس عليه السلام په خدمت کښې حاضره شوه. او وئيل ئې تا زما سره ډېره نيکي اوکړه. اوس اووايه زه ستا څه خدمت کولے شم. ادريس عليه السلام ورته اووې ما ته جنت او دوزخ وښايه. فرښتې اووې دا کار خو زۀ نه شم کولے . خو عزرائيل عليه السلام زما دوست دے که زما سره په دې کښې مدد کولے شي هغه ته به اووايم. هغه ورته اووې. چې د جنت او دوزخ ليدو دپاره اول روح قبض کول پکار دي. ادريس عليه السلام په دې خبره راضي شو روح ئې ترې واغستو. بيا ئې پکښې واچوو د ادريس عليه السلام نه تپوس اوشو. وې د ساه وتو تکليف څومره وو . هغه اووې لکه د ژوندي انسان نه چې اويا ځله څرمن اوباسې. بيا ئې ادريس عليه السلام ته اول دوزخ اوښودو او بيا ئې جنت ته بوتلو. ادريس عليه السلام چې جنت ته ننوتو نو هغه فرښتې ورته اووې راځه ستا شرطونه پوره شو. ادريس عليه السلام اووې ما مرګ وليدو دوزخ مې وليدو. اوس جنت ته راغلم زه اوس نه اوځم. دا د جنت شرطونه دي هغه پوره شو. فرښته خدائے پاک له لاړه. وې يا الله ستا هغه ادريس بنده او پېغمبر خو اوس د جنت نه بهر نه راوځي. زما د پاره څه حکم دے. خدائے پاک ورته اووې زما بنده ټيک وائي دے پرېږده په جنت کښې به وي. زما ادريس بنده د جنت ټول شرطونه پوره کړي دي.

# د حجاج بن يوسف
# او عبدالله بن هلال جادوګر ملاقات

په تاريخ جنات او شياطين کښې ليکلی دی. چې محمد بن عصمت فرمايلی دی. چې ما د بغداد د يو شيخ نه اوريدلی دی. چې هغوئ د عبدالله بن هلال يعنې د کوفې د يو جادوګر واقعه ما ته داسې اووې. چې يوه ورځ د کوفې په يوه کوڅه کښې د چا نه شهد توئې شوی وو. يو څو واړه هلکان په دې شهدو راغونډ شوی وو. او دوئ به دا شهد په ګوته را اوچتول او خوړل به ئې. او دا به ئې وې. الله دا ابليس رسوا کړې. الله دا ابليس رسوا کړې. چې دا شهد ئې د چا نه توئې کړی دی. عبد الله بن هلال جادوګر په دغه لاره تېريدو. هغه هلکانو ته اووې. داسې مه وايئ. بلکه داسې وايئ چې الله دې زمونږ د طرفه ابليس ته اجر ورکړی. چا چې دا شهد توئې کړی دی. او زمونږ د دې شهدو خوړل نصيب شوی دی. په دې خبره ابليس سمدستی د عبدالله بن هلال په خدمت کښې حاضر شو. او دا ئې ورته اووې. چې

ستا په ما ډېر احسان دے. ځکه چې تا ماشومان زما د کنځلو نه منع کړل. زۀ تا له اوس د دې بدله درکوم. شيطان عبدالله بن هلال ته خپله ګوتۍ ورکړه. او دائې ورته اووې چې ستا څه حاجت وی. د دې ګوتۍ په ذريعه به پوره کيږی. دا د حجاج بن يوسف زمانه وه. څوک چې يو ډېر ظالم ګورنر وو. د ده يوه وينځه وه دا ډېره ښکلې وه. دا د حجاج بن يوسف بې حده خوښه وه. يوه ورځ يو مزدور په محل کښې کار کولو. هغه دا وينځه وليدله. ډېره ئې خوښه شوه. دې مزدور عبدالله بن هلال جادوګر پېژندو. د هغه به ئې ډېر خدمت کولو. مزدور عبدالله بن هلال جادوګر ته اووې زما مدد وکړه. هغه داسې چې دا وينځه زما ډېره خوښه شوی ده. دا ماله راوله. هغه اووې ښه ده . نن شپه به دا وينځه ستا سره وی. څنګه چې هغه اووې. جينۍ ئې مزدور له راوسته. او سحر به ئې بيا بوتله بيا به ئې هره شپه جينۍ ماښام مزدور له راوسته. او سحر وختی به ئې محل ته واپس کوله. وينځه ډېره ويريده. چې د دې خبرې به څه انجام وی. رنګ ئې زيړ کرکمان شو. تېنګه نه شوه. حجاج بن يوسف ته ئې شکايت اوکړو. چې کله خلق اوده شی. نو څوک راشی اوما د يو ځوان خواله شپې له بوځی. ټوله شپه زۀ د زلمی سره يم. او سحر مې بيا ستا محل ته راولی. حجاج بن يوسف اووې ډېره ښه ده. زۀ دا زلمے معلومول غواړم. ده د زعفرانو د رنګ يو لوښې ډک د زعفرانو اوغوښتلو وينځې ته ئې اووې. چې کله تا څوک هغه کورته بوځی. نو دا زعفران به بهر په دروازه اولګوې. وينځې هم دغسې وکړل. بيا ئې محافظ د کور معلومولو دپاره ورپسې وليږل.

دوی کور معلوم کړو. هلک ئې ګرفتار کړو. حجاج ورته اووې. زۀ تا ته هیڅ نه وایم. خو ته ما ته صفا قیصه وکړه. مزدور د عبدالله بن هلال د مدد او د جینۍ سره د مینې قیصه تېره کړه. حجاج بن یوسف عبدالله بن هلال را وغوښتو. او تپوس ئې ترې اوکړو اے هلاله تا ټول خلق پرېښودو. اوس په ما راپسې شوې. دا غلط کار دې شروع کړو. حجاج سمدستی د هغه د وژلو د پاره توره را اوغوښتله عبد الله بن هلال ډېر چالاک وو. هغه د جیب نه سمدستی د تار یو ګوته راویسته. حجاج ته ئې اووې. ته ما هسې هم وژنې. خو د مرګ نه مخکښې زۀ تا ته یوه تماشه ښایم. حجاج ته ئې اووې دا یو سر د دې تار ونیسه او نور تار ئې په ډېر زور سره اسمان طرف ته اوویشتو، دے پخپله په دې تار پورې کلک اونښتو. دے سمدستی د زمکی نه اوچت شو. او په تار پسې اوچت د محل بلۍ ته اوختو. بیا ئې حجاج ته اووې. اوس ته زما هېڅ نه شې کولے. وائې چې بله ورځ دا جادوګر بیا حجاج بن یوسف ونیولواو په جېل کښې ئې بند کړو هغه د جېل په کوټه کښې په زمکه یو کشتۍ جوړه کړه. او قیدیانو ته ئې اووې. که څوک بهر ته تلل غواړی. نو په دې کشتۍ کښې کېښنئ. څوک پکښې د هغه سره کېښناستل. او چا ترې ګپ جوړ کړو خو لږه شیبه پس هغه ټول د عبدالله بن هلال سره د جېل نه بهر وتی وو.

# لونګ کرم څوک دے ؟

پخوا یو هلک زما نه تپوس اوکړو. وې دا لونګ کرم څوک دے. چې هر څوک ئې په سندرو کښې یادوی. او وائی چې کله زۀ لوګډ کړم. نو بیا به تا راولم. لکه چې وائې:
لونګ کرمه که لو مې ګډ کړو
او یاره تا به راولمه
لونګ کرمه.
ما اووې لونګ کرم د چا نوم نه دے،بلکه په دې مصرعه کښې خپل اشنا ته وائی. چې اے اشنا زۀ د لونګ بوټی کرم. چې کله فصل پوخ شی. او لو (فصل ریبل) کوم. نو بیا به زه تا راولم. ځکه چې یوه خوشبو ئی به د لونګو وی. او بله به د اشنا وی. دا به یو ډېر ښکلے منظر وی. لونګ یو خوشبودار بوټے دے. کله چې په دې کښې غوټۍ او ګلونه وشی. نو د دې خوشبوئې ډېره زیاته وی. د دې وضاحت سره هلک مطمئن شو.

Pukhto.Net

## ناشاده نور ورته منت مه کوه

اروښاد صادق زما په شان د ډېرو خلقو ملګرے وو. ډېر ښه هلک وو همیشه به ئې خندل او د هر چا سره به ئې ازاد ګپ لګولو. که څوک به ئې ملګرے وو او که نه به وو. (اوس وفات شوے دے خدائے دې ئې وبخښې) چرته چې به ما له مخې له راغې. نو د ورایه به ئې چغه کړه.

ناشــاده نــور ورتــه منــت مــه کــوه
د جانان سترګې د پښغـور ډکې دی

ما به ورته هر وارې وئیل. هلکه دا زما شعر نه دے بلکه دا زمونږ د کلی د یو مشهور شاعر حنظله شعر دے. چې اوس وفات شوے دے. ما به ورته دا هم اووې. چې دا شعر ته ټیک نه وائې.
د حنظله اصلی شعر داسې دے.

حنظله نور ورته منت مه کوه
د جانان ټول فکر د ځان سره دے
د اوښکو قدر د ګریوان سره دے

د حنظله ټوله شاعری ډېره زړۂ راښکونکی ده. اکثر به ئې سندرې په محفلونو کښې د ساز سره وئیلې شوې. د ده غزل هم ډېر خوند ور دے. لکه چې وائی

ما وې اوګوره دا حال د پتنګ نه دے
ده وې کوم عاشق په عشق کښې ملنګ نه دے
ما وې تا خود جفا توره ښکاره کړه
ده وې دا خو زما ستا سره جنګ نه دے
ما وې زۂ حنظله خبر د دیدن غوارم
ده اوې دا خو د په ما څه قلنګ نه دے



Pukhto.Net

# په موټروے به ځو غوټه ورسره غټه راواخله

زما ورور به په ادینزۍ تحصیل کښې ډیوټي کوله. یوه ورځ چې راغې نو ما ته ئې اووې. هلته یو سړے دے. هغه وائی چې زۀ د فلمونو ډائریکټر یم. ستا د وروړسره ملاقات کول غواړم. ما وې ډېره ښه ده. چرته رائې وله. بله ورځ هغه کس مازیګر هغه سره په ټیکسی کښې راغے. ورور ما ته اووې دا هغه ډائریکټر صېب دے. ما چې ولیدو نو په ظاهره خو ډائریکټر نه معلومېدو. بلکه داسې ښکارېدو. لکه د اسماعیل شاهد سره چې به په ټی وی پروګرام کښې ګل بالی نوکر ولاړ وو. خېر ما د تانې په چوک کښې یو هوټل ته بوتلو. چائے مې پرې اوڅښلې. بیا هغه وې مونږ تۀ د فلمونو د ګانو لیکلو د پاره د یو شاعر ضرورت دے. چې په اُردو پښتو کښې فلم له ګانې لیکلے شی. ما سوچ کوؤ. چې په دې خود خاص خلقو اجاره داری وی. خو کیدې شی چې یو عام کس ته هم موقع ورکول غواړی. ما وې ډېره ښه ده زۀ به کوشش کوم. بیا هغه وې زۀ به تا لاهور ته بوځم. او په فلم انډسټرۍ کښې به دې د خلقو سره مېلاؤ کړم. تاله به د فلم قیصه درکړی. لس ګانې به د یو فلم د پاره لیکې. د یوې ګانې قیمت به لس زره روپۍ وی. که ستا پرې رضا وی نو وبه لیکې. ما وې ډېره ښه ده. ما وې ورځ راته وښایه کله به ځو وې نن اتویشتم تاریخ دے. په دویم تاریخ به ځو په یکم تاریخ هغه د غرمې بیا راغے.

زما سره دوهٔ ملګري وو. د تاڼې په چوک کښې ولاړ وو. ما ورله هم دغه ځائے د تيکو بندوبست وکړو. تيکې مې پرې وخوړلې. خپل دوهٔ ملګري مې هم په ډوډۍ کښې شامل وو. بيا ئې اووې ماله درې سوه روپۍ قرض راکه. ما پيسې ورکړې. خو شکې شوم چې دا څنګه د فلم ډائريکټر دے. د فلم ډائريکټر خو ډېر په شان کښې ګرځي. ما اووئيل د تلو پروګرام به داسې وی. چې سبا مازيګر به د تاڼې چوک ته راشې. د لاهور ډبه راځي. هغې ته به وخېژو سحر ته به لاهور ته ورسېږو. لږ دمه به شو. بيا به هلته ورشو. هغه اووې داسې نه کوو. وې ته به سحر په نهه بجې د پېښور ګاډی ته وخېژې. زهٔ به درته په پل څوکۍ چکدره کښې ولاړ يم. يو ځائے به پېښور ته لاړ شو. هلته به شپه کړو. بله ورځ به سحر په موټر وے لاهور ته لاړ شو. خو غوټه درسره غټه راواخله. ما وې شپې له پېښور ته څه له ځو. او غوټه خو زما سره نشته د لارې کرايه او خرچه به راواخلم. ما وې هغوئ به هم ايډوانس راکوی کنه. ده وې د فلم د ګانو پيسې به ماله راکړې. ستا به شهرت وشی. ته په پيسو څه کوې. بل ځل به پيسې ستا شی. ما وې ډائريکټر صېب په دې خبره مې صلاح نشته. ته ورځه د تلو پروګرام ختم دے. دے رخصت شو. زما ملګرو وې دے خو د فلم ډائريکټر نه معلومېدو. ښه ده چې ځان دې ترې خلاص کړو. بيا راته څنو خلقو اووې چې دا سړے مونږ پېژنو. دلته چوک ته کله کله راځی. ده په يو فلم کښې د نوکر پارټ کړے دے. فلم انډسټرۍ ته ځی راځی تعلق ئې شته . خو ډائريکټر نه دے.

Pukhto.Net
پښتو

## ما له ښځه رائيتې نه راکوی نو لفټ به څه راکړي

د يو تېوقمار واده اوشو. څو ورځې پس ورله ملګري راغلل. وې هلکه څنګ چل دے ښځه درله څه لفټ درکوی که نه. هغه اووې ما له رائيتې نه راکوی نو لفټ به څه راکړي.

# د تاڼې کالج د پرنسپل مرزا منظور احمد او د ټيلی فون د اپرېټر يو بل ته کنځل او بدې ردې

دا د1965 خواؤ شا خبره ده. په تاڼه کښې مرزا منظور احمد صېب پرنسپل وو. مونږ د کالج طالب علمان وو. د پرنسپل خوا ته به د باچا کلاس فور نوکر ډيوټی وه مونږ ته ئې د يوې ورځې قيصه کوله. وې هغه ورځ پرنسپل صېب لا نه وو راغلے د سحر اته بجې وې. ټيلی فون اوکړنګيدو زۀ بهر په بېنچ ناست ووم. وراغلم ايکسچينج واله وو. ما ته ئې اووې کيده ريسور ټسټنګ کوم يوه شيبه پس بيا وټنګيدو زه بيا وراغلم هغه بيا ئې اووې کيده ريسور زۀ بيا په خپل ځائے کښېناستم په دې کښې پرنسپل صېب راغے. په کرسۍ کښېناستو ټيلی فون بيا وټنګيدو جوړ دا ځل پرنسپل صېب اوچت کړو. اپرېټر وې چې ګنې دا بيا هغه کس دے. وې د خر بچيه ټيلی فون کيده. پرنسپل صېب ورته اووې د خر بچے خو به ته ئې. ولې ئې کېږدم بيا اپرېټر او پرنسپل صېب يو بل په مخه کنځلې کولې. ما پټ پټ خندل ځان مې سنجيده کړو. ورننوتم ما وې جی دا څه چل دے. هغه بيا ريسور ايښے وو. وې دا څوک فلانے وو. سم د ټکه ئې کنځل شروع کړل. ما ورله تسلی ورکړه . جی دا ټيلی فون دے. پته ئې نه لګی په دې ځان مه خفه کوئ. نور خو سړے ما قهر کړے وو. پرنسپل صېب پوهه نه شو.

# ایک پٹھان آیا تھا۔ نہ خورم نہ خورم کرتا تھا۔ سب کچھ کھا گیا

چا خبره کوله وې یو ځلې یو پټهان په څه کار پسې پنجاب ته تلے وو. د غرمې د ډوډۍ وخت وو. د ے یو دکان ته ننوتو چې و ئې کتل د دکان خلقو ډوډۍ خوړله. جوړ ده ته ئې اووې راځه زمونږ سره ډوډۍ اوخوره. ده اووې نه خورم هغوئ ورته بیا ست وکړو. د ے ورسره هډو کېښناستو چې یو څو نوړۍ ئې وخوړې ده بس کړل هغوئ ورته اووې کھاؤ کھاؤ ده بیا شروع وکړه اخر دا چې څو څو ځله ده اووې نه خورم. او هغوئ ورته اووې کھاؤ. پټهان چې څه سودا کوله هغه ئې وکړه او لاړو د دوئ یو ملګرې چرته تلے وو. هغه له ډوډۍ پاتې نه شوه. هغه قهرېدو وې تاسو ماله ډوډۍ ولې نه ده پرېښودلی یو کس ورته اووې ایک پٹھان آیا تھا. نه خورم نه خورم کرتا تھا اور سب کچھ کھا گیا۔

# جلوس کلاس میں بیٹھا تھا
# اور استاد انکو پڑھا رہا تھا

په مانسهره کښې يو ځل هلکانو جلوس ايستلے وو. بيا انتظاميې خبره ختم کړه. هلکان واپس کالج ته راغلل. کلاسونو ته ننوتل او ليکچررانو خپل خپل کلاسونه واغستل زمونږ د يو ملګرى د انتهلى جنس والا سره ګپ شپ وو. دے ورسره په ورستى وخت کښې يو ځائے د کالج نه اووتو. هغه ته ئې اووې . تا څنګه رپورټ نن ليکلے دے. هغه خو اول کلک وو خو بيا ئې ورته ښکاره کړو په سبا له ئې مونږ ته خبره کوله. وې انتهلى جنس والا په خپل رپورټ کښې داسې ليکلى وو، جلوس کلاس میں بیٹھا تھاء اور استاد انکو پڑھا رہا تھا. حالانکه کله چې هلکان کلاس ته ننوتل او ليکچررانو کلاسونه واغستل نو بيا د جلوس لفظ ليکل مناسب نه وو. بيا خو خبره ختم شوه.

Pukhto.Net
پښتو

# هلکانو ته دا پته نه لګی چې مونږ څه وایو او د دې چغو او جلوس څه مطلب دے

دا هم د **1978** خبره ده. د کالج هلکانو جلوس ایستلے وو. هغه بیا واپس راغلل. او خپل کلاسونه ئې واغستل د مانسهرې ډپټی

کمشنر حسن شاه صيب کالج ته راغلے وو. زمونږ په سټاف روم کښې ناست وو. هغه د هلکانو د جلوسونو او چغو متعلق خبره کوله وې زۀ په جنوبی اضلاع کښې ډپټی کمشنر ووم. د يو کالج هلکانو زما خلاف جلوس ايستلے وو. چغې ئې وهلې. زۀ ورله مخې له راغلم. ما دا چغې پخپله اورېدې حسن شاه ډپټی کمشنر مرده باد په دې هلکانو کښې ما خپل زوے هم ولېدو. هغه هم دا چغې وهلې. وې بيا د خپل زوی نه ما تپوس وکړو. چې نورو هلکانو چغې وهلې نو وهلې به ئې تا ولې زما خلاف چغې وهلې وې هغه اووې چې مونږ ته پته نه لګی. خو هلکان ټول راوتی وو. دا چغې ئې وهلې. او د ليډرانو نه علاوه هيچا ته پته نه لګيده. چې دا نعرې ولې وهی. او دوئ ته د دې چغو وهلو د پاره چا وئيلی دی. وې بيا هغه خبره ختم شوه. خو اوس چې هلکان چرته جلوس وباسی. نو زۀ هلکان نه ملامته کؤم. بلکه هغه ځوک قصور وار ګڼم ځوک چې دوئ دې کار ته لمسوی. ځکه خو د 1968 د هنګامو متعلق يو شاعر وئيلی دی.

نصابی کتابوں کی اسباق کو
ذہانت سے کم ترجو پایا گیا
تو اس سال کالج کے طلاب کو
فقط درس عبرت پڑھایا گیا

# زهٔ مسلمان یم
# د هندو وزیر په پېروۍ کښې استعفی نه ورکوم

دا د دنیا دستور دے. چې کله یو اهم عهدیدار وزیر وزیر اعلی ، وزیر اعظم ، ګورنر یا صدر په څه خبره کښې ناکامه شی یا د دوئ د کوتاهۍ په وجه څه لویه حادثه پېښه شی نو بیا دغه اعلی عهدیدران سمدستی استعفی ورکړی. دا د خپلې ناکامۍ اعتراف دے. چې په عوامو کښې یو ښه اثر غورزوی. د دنیا په ټولو ملکونو عن چې په ګاونډی ملک هندوستان کښې هم دا طریقه رائج ده. په جاپان کښې د ټرانسپورټ وزیرد یوې حادثې نه پس استعفی ورکړه. حالانکه د حادثې د وزیر سره څه تعلق نه وو. په جرمنی کښې وزیر دفاع د خپلې کوتاهۍ په وجه استعفی ورکړه.په امریکه کښې د سی

ائی اے سربراه جارح ټینټ او د دې ادارې ډپټی سربراه جیمس پاریټ د خپلو خپلو عهدو نه په دې وجه استعفی ورکړه. چې په عراق کښې د تباه کن وسلې متعلق د دوی رپورټونه غلط ثابت شو. د برطانیې وزیر اعظم سرونسټن چرچل چې په **1951ع** کښې دوباره وزیر اعظم شو. نو څه موده پس ئې ملکه وکټوریه ته خپله استعفی پېش کړه. ملکه حېرانه شوه چې دا څه کوې. ستا خو لا وخت ډېر دے هغه ورته په جواب کښې اووې زما په ذهن کښې د قوم د خېر ښیګړی څه نوی خبره نه راځی. نو زما خیال دے. چې زۀ نور ددې عهدې لائق نه یم. زۀ غواړم چې اوس یو زلمے راشی او دا ذمه واری سنبال کړی. هندوستان او پاکستان دواړه د برطانیې زیر اثر پاتې شوی دی. پکار دا دی چې په دواړو کښې د انګریزانو د خویونو اثر وی. په هندوستان کښې دریل حادثه وشوه. د هغوئ د رېلوے وزیر سمدستی استعفی ورکړه. هم په دغه ورځو کښې په پاکستان کښې هم د ریلوے یوه لویه حادثه وشوه. زمونږ د رېلوے وزیر ته چا اووې چې په هندوستان کښې خو د رېلوے وزیر استعفی ورکړه. ستا څه خیال دے هغه وخندل وې زۀ د خدائے په فضل مسلمان یم او د یو مسلمان په حیثیت دا ماله نه ښائی. چې د یو هندو پېروی وکړم. حالانکه په دې کښې د هندو او مسلمان څه خبره نشته. بلکې خبره د خپلې ناکامۍ د اعتراف ده. دا استعفی ورکول په ټوله دنیا کښې یو عالمی دستور دے. چې دد نیا قومونه ئې یو ښه عمل ګڼی.

# دا ځناور به جنت ته ځي
## (دلچسپ معلومات)

په فتاوی محمودیه کښې لیکلی دی چې دا لس ځناور به جنت ته ځي

(1) د رسول الله صلعم اوښه
(2) د حضرت صالح علیه السلام اوښه
(3) د حضرت ابراهیم علیه السلام سخے
(4) د حضرت اسماعیل علیه السلام ګډ
(5) د حضرت موسی علیه السلام غوا
(6) د حضرت یونس علیه السلام مهے
(7) د حضرت عذیر علیه السلام خر
(8) د حضرت سلیمان علیه السلام میږے
(9) د حضرت بلقیس هد هد
(10) د اصحاب کهف سپے

په مشکواه الانوار کښې لیکلی دی. چې د دوې سره به هم په حشر کښې حساب کیږي.

Pukhto Net

# ستا په خدائے پاک د حفاظت يقين نشته

دا د **1972** خبره ده. په تاڼه کښې حالات خراب وو. خلقو به وسلې ګرځولې. اچانک به ډزې جوړې شوې. ما هم د خپل حفاظت د پاره يو تماچه واغسته د ځان سره به مې ګرځوله يو شپه راته په خوب کښې يو بزرګ اووې. دا وسله مه ګرځوه ولې ستا په خدائے پاک د حفاظت يقين نشته. ما اووې ښه ده بيا به نه ګرځوم. يو څو ورځې مې نه ګرځوله بله ورځ مې بيا راوغسته. او بيا مې ګرځوله. هم هغه بزرګ مې په دويم ځل په خوب کښې بيا وليدو. ما ته ئې اووې ستا په خپل رب د حفاظت يقين نشته. هم هغه به ستا حفاظت کوی. دا بيا مه ګرځوه. ما اووې ډېره ښه ده. بيا به ئې نه ګرځوم. د هغې وخت نه پس بيا زۀ د وسلې ګرځولو نه قلار شوم. که هر سړے د وسلې ګرځولو نه منع شی. نو په دې ملک کښې به دائمی امن قائم شی. خدائے پاک دې زمونږ محافظ شی امين

ځئ چې په دنيا کښې بيا د امن فضا راولو
ځئ چې په تيارو کښې رڼا ورځ سبا راولو

# په کرفیو کښې تېښته
# او د مستریانو سره په کار کښې شاملېدل

دا د **1972** د خرابو حالاتو خبره ده. زمونږ په کلی کښې اړے ګړے وو. د دوست دښمن پته نه لګېده. حالات ډېر خراب وو. په کلی کښې کراس فائرنګ شوے وو. په سبا له مونږ یو څو هلکان د ګورنمنټ هائی سکول نمبر **1** په ګېټ کښې ولاړ وو. نن سبا دغه ګېټ د ګورنمنټ پرائمری سکول نمبر **1** ګېټ دے. د هائی سکول ګېټ وزیر مارکیټ ته مخامخ جوړ شوے وو مونږ ته پته نه وه چې په کلی کښې کرفیو لګېدلی ده. او د کورنه په وتو پابندی ده. مونږ په دې هم نه پوهېدو چې کرفیو څه ته وائی. په دې کښې د لیوی سپاهیان راغلل. خلقو ته ئې اووې. شابئ تښتی. کرفیو لګېدلی ده. اوس به

سکاوټ واله راځي. تاسو به نيسي. مونږ بيا هم بې غمه ولاړ وو. په دې کښې د چکدرې د غاړې دير سکاوټ واله راغلل. د ګاډو نه کوز شو. او په يوه منډه کلي طرف ته رازغاښتل. مونږ د سکول شاته د باغ په لاره کلي طرف ته منډه کړه. د سکول د بورډنګ هاؤس په خوا په تنګه لار کلي ته لاړو. سکاوټ واله خواره واره شو. څه نېغ په سړک لاړل. څه د هائی سکول نمبر ۲ په لاره کلي ته لاړل. او څه زمونږ په دې لاره راغلل. د يو موړ نه پس په يو زېر تعمير مکان کښې مزدورانو کار کوو. مزدورانو ګټې راغستې. او مستريانو له به ئې ورکولې. زما سره څادر وو. سمدستي مې د سر نه تاؤ کړو. يوه ګټه مې اوچته کړه. او مستري له مې ورکړه ما اووې دا واخله. عين په دغه وخت سکاوټ واله را ورسېدل. مستريانو ته ئې اووې هغه هلکان څه شو. هغوئ ورته وې په دې لاره لاړل. هغوئ دا ټيک وئيلي وو. ځکه چې زما نه علاوه نور ټول په هغه لار تلي وو. زه عموما سمدستي د يوې خبرې په تا بيا نه پوهېږم. خو په دغه ورځ خدائے پاک زما حوصله سمه کړه. او د دوئ سره په کار کښې شامل شوم. مستريان زما دې کار ته حېران وو. وې تا خو عجيبه غوندې کار وکړو. دا مستريان او مزدوران ټول پېژندګلو کسان وو. هغوئ اووې په دې طريقه ايله بچ شوې کله چې حالات ښه شو نوبيا خبر شوم. چې ډېر کسان ئې د کرفيو په خلاف ورزی کښې بوتلي دی.

Pukhto.Net

## رښتيا خبره دا ده چې تعليم ښه شے دے

ځلور کسه ملګري لاهور ته سېل له تلې وو. په دوئ کښې يو کس انجنئېر وو، يو ډاکټر وو، يو انسټرکټر وو او يو بې تعليمه خو سمارټ او فېشني وو. دې په شکل و صورت او جامو کښې د هغوئ سره برابر وو. دوئ په لاهور کښې د چا ځائے ته تلی وو. مېزبان پېژندګلو کس يعنې ډاکټر ته ئې اووې. د دوئ تعارف راسره وکړه. هغه اووې دا يو انجنئير دے يو انسټرکټر دے. او دا بل په بېنک

کبنې منېجر دے دوئ ګپ شپ لګولو چې د بې تعلیمه کس تعارف د منېجر په حیثیت وشو. نو رنګونه ئې بدلول. چې څوک رانه د بېنک متعلق څه تپوس ونه کړی. ښه وه خدائے خېر کړو. څه شیبه پس چې دوئ را اووتل بې تعلیمه کس ډېر خفه وو. قهریدو وې تاسو چې زما تعارف د منېجر په حېث وکړو. نو که اوس ئې زما نه څه تپوس کړے وے. هغوی اووې څه خېر دے اوس خېر شو بیا به وایو چې بزنس مین دے. دوئ بیا یو بل ځائے ته چا له وراغلل. د ده تعارف د بزنس مین په حېثیت وشو. دا ځل مېزبان هم بزنس مین وو. جوړ هغه د ده نه د بزنس په معامله کبنې تپوسونه شروع کړل. دے خو د ربنتیا بزنس مین نهٔ وو. دلته هم سرے ګډ وډ شو. ځکه چې په بزنس کبنې هم د تعلیم ضرورت وی. چې رااووتل هلک اووې تاسو ځئ ستاسو لار جدا ده او زما لار جدا ده. هغوئ اووې خېر دے یو ځائے راغلی یو. زمونږ نه اوس مه ځه. ده اووې بیا به د چا ځائے ته نه ورځئ. که ورځئ نو زهٔ به درنه بیا جدا یم. هغوئ ورته اووې څه لږ ډېر تعلیم خو به دې کړے وو. دے هم ډېر ستومانه وو وې کاش چې دولسم جماعت خو مې پاس کړے وے. نن به زهٔ ولې دومره شرمنده کېدم. ربنتیا خبره دا ده. چې تعلیم ډېر ښه شے دے. تعلیم د انسان حیا راولی.

Pukhto.Net

## ہمارے ہوٹل کے ملازم بڑے بے وقوف ہیں

زۀ د 1978 نه تر 1980 د مانسهرې په کالج کښې د پښتو لیکچرر ووم. کله به زۀ سحر وختی د کوره اووتم. غرمې غرمې ته به مانسهرے کالج ته ورسېدم. کله به لږ ناوخته شو. نو د غرمې ډوډۍ له به حسن ابدال ته ورسېدم. یوۀ ورځ زۀ لږ ناوخته اووتم. قریباً یوه نیمه بجه حسن ابدال ته ورسېدم. یو هوټل ته ډوډۍ له وراغلم. د ډوډۍ خوړلو نه پس کاونټر ته د پیسو ورکولو دپاره وراغلم. د پیسو

ورکولو نه مخکښې مې غېر ارادی طور تپوس وکړه. ما وې نن خو د غوښې د ناغې ورځ وه. ستاسو سره غوښه چرته وه. بس دا خبره څه وه. د کاونټر کس راپاڅېدو نوکرانو ته قهر شو. تم کیسے ملازم ہو، تم نے خان صاحب کو نہیں پہچانا. بیا ئې ما ته اووې. ہمارے ہوٹل کے ملازم بڑے بے وقوف ہیں۔ ہمیں معاف کرو، غلطی ہوگئی۔ میں سمجھا نہیں میں تو مانسہرہ کالج میں بحیثیت لیکچرار کام کرتا ہوں۔ د هغوئ بیا هم تسلی ونه شوه. وې خان صاحب آپ ذرا بیٹھ جائیں۔ نوکرانو ته ئې اووې. خان صاحب کو ٹھنڈا پلاؤ، چائے پلاؤ ما په زړۀ کښې اووې چې دا په څه لانجه واوړېدم ما اووئیل کمانے کے پیسے لے لیں آپ سے کوئی غلطی نہیں ہوئی۔ میں کوئی پولیس والا نہیں ہوں۔ میں نے تو ویسے پوچھا تھا۔ کہ ناغے کے دن گوشت کہاں سے آتا ہے۔ د هغوئ دا خیال وو چې دے ګنې پولیس واله دے. خو ځان نه ښائی. بهر حال هغوئ هېڅ وانه اغستل. او په مخه به ئې وې غلطی ہوگئی ملازمین نے آپ کو پہچانا نہیں۔ زۀ لاړم ډېر ستومانه ووم. ما وې چې ما د غوښې متعلق تپوس ولې کړو. خو یوه خبره وشوه. چې د بیا د پاره ئې هوښیار کړم. نه به مې د ناغې په ورځ د غوښې تپوس کړو. او نه به هغې هوټل ته ورتلم.

# پس د دې نه ستا نوم پاکستان شو

يو ریټائرډ فوځي خبره کوله. وې يو ځلې جنرل موسی زمونږ د يونټ‌ې معائنې له راغلے وو. د معائنې په دوران کښې ئې د يو فوجی نه تپوس اوکړو. وې ستا څه نوم دے هغه اووې هندوستان. جنرل موسی ورته اووې. پس د دې نه ستا نوم پاکستان شو. ټولو افسرانو ته ئې اووې. چې د ده نوم په ریکارډ کښې پاکستان درج کړئ.

# یو خو د کابل مُلا دے
# دا پکښې لابل مُلا دے

دا قریبا د **1965** خبره ده. زهٔ پلې درې ته د څه کار د پاره تلے ووم. سحر وختی تانې ته راتلم. په هغه ورځو کښې به په پلې کښې یو بس د پلې نه راوتو. یو به د بازدرې نه راوتو. او یو به دشیرخانۍ نه راوتو. د درګۍ په طرف به دا ټول مردان ته تلل. زهٔ په پلې کښې د بازدرې بس ته را وختم. په دې بس کښې د بازدرې مشهور شاعر او بزرګ غلام حېدر خان هم ناست وو. په دې کښې په ورستۍ دروازه کابل مُلا صېب راوختو. ټولو خلقو ورسره بره ګړه وکړله. او د خېر خېریت تپوسونه ترې وشو په دې کښې په دغه ورستۍ دروازه یو پل مولانا هم راوختو. د ګاډی خلقو د هغه سره هم بره ګړه جوړ کړل. غلام حېدر خان څوک چې د ډاکټر غلام حسین صېب نیکه وو. مخ شا ته راواړوو. وې هلکه یو خو د کابل مُلا دے دا پکښې لابل مُلا دے.

# د دیدن برخه درنه غواړم
# ما وې وئ وئ بنګړی مې مات شو

پښمنې د بنوں دعلاقې یو مشهور فنکار دے . یو ځلې په خانه فرهنګ ایران کښې د یو کتاب د مخ کتنې پروګرام له راغلے وو. دے په خوله ډېره ښکلې باجه وهی. ستیج ته راوبللې شو. د خپل فن مظاهره ئې ډېره په ښکلې ډول وکړه. بیا ئې خبره کوله. وې میران شاه ته تلے ووم. په بازار کښې مې یو اړخ ته په خوله باجه وهله. یو دکاندار د ورایه اواز اوکړو. وې اے ماما د جمعې د مانځه وخت دے دا باجه مۀ وهه. وې زۀ هډو د دغې دکاندار خواله وراغلم. په باجه کښې مې ورته دا سندره شروع کړه.

د دیدن برخه درنه غواړم ما وې
وئ وئ بنګړی مې مات شو.

دا مې اووې. او روان شوم دکاندار اووې اے ماما راشه دا باجه لږه نوره اووهه. ما ورته اووې. تا خو اوس وې چې د جمعې د مانځه وخت دے دا باجه مه وهه. هغه اووې خبر دے لا وختی دے. نوره اووهه. وې ما ورته وې چې څه ښه ده. د مانځه نه پس به درته اووهم.

# چپلوسیہ بچوں کاانسپکٹر ہے

په وانا جنوبي وزیرستان کښې راته د سکول یو استاذ ښوک چې د ډېره اسماعیل خان وو. خبره کوله. وې په ډېره اسماعیل خان کښې د سحر په وخت کښې د سکولونو یو انسپکټر په ستاپ ولاړ وو. د ګاډي انتظار ئې کولو. په دې کښې یو بس راغے . ډرائیور ګاډے رو کړو او کلینډر ته ئې اواز ورکړو. وې انسپکٹر صاحب کو بٹھالو۔ کلینډر چغه کړه وې چپلوسیہ بچوں کاانسپکٹر ہے۔

# په مولو کښې دی ګاځرې منډلې دی

پخوا يو سړی د باندی نه يو ټوکرۍ کښې ښارئې ته اګی وړې . يو سړے مخې له ورا‌غے. هغه ته ئې اووې. زما سره په دې ټوکرۍ کښې څه دي. که تا صحيح اووې نو دا ټولې اګی به درکړم. هغه ورته اووې. څه نښه خو ئې اووايه. هغه اووې د پاسه سپين دی او دننه زيړ دی هغه سړی يو شيبه سوچ کولو. او بيا ئې ناساپه اووې پوهه شوم. پوهه شوم. په مولو کښې د کاځرې منډلی دی. حالانکه سړی ورته دا هم اووې. چې که ټيک حال دی اووې نو دا ټولې اګی به درکړم. بيا هم پوهه نه شو.

# په کافرو جنت حرام دے

Pukhto.Net

وائي چې شداد کافر په څلورنيم سوه کاله کښې جنت جوړ کړو. بيا ئې تماشې له تلو. کله چې ننوتو نو عزرائيل عليه السلام ورله د اس واګې اونيوې. وې نور به نه ځې. شداد حېران شو. وې دا ته څوک ئې چې زما د اس واګې دې ونيوې. او ما د خپل جنت نه منع کوې. هغه ورته اووې زه عزرائيل يم. او ستا د روح قبض کولو د پاره راغلے يم. شداد اووې. دومره مهلت راکړه چې زۀ وردننه شم او دا خپل جنت يو نظر اووينم. فرښتې ورته اووې که تا ددې نه بل څه نوم ايښې وې . بيا ورتلې شوې. دا ئې اووې او د شداد نه ئې روح واغستو.

# کافر چرګ به دې پوخ کړې وو

د يو سړي کره ميا ګل صېب مېلمه وو. چې ډوډۍ ئې ورته کېښوده .نو د تبرک دپاره ئې ورته اووې. مياګل صېب زبرګ کدو مې درله پوخ کړے دے. هغه ورته اووې کافر چرګ به دپوخ کړے وو.

## د شیطان دعویٰ

د شیطان دعوه ده. چې که چرے د جنید بغدادی غوندې نیک سړے او د رابعه بصری غوندې نیکه ښځه په خلوت کښې یو ځائے شی. نو زۀ ئې په زړونو کښې خراب خیالات پېدا کولے شم. او غلط کار پرې کولے شم. د بې ږیرے ښائسته هلکانو سره خلوت د دې نه هم خطرناک کار دے. په یو بل کتاب کښې راغلی دی. چې د هر سړی سره درې شیطانان وی. یو په سترګو کښې. یو په زړۀ کښې او یو مخې ته په اعضائے تناسل کښې وی او د هرې ښځې سره هم درې شیطانان وی. یو په سترګو کښې یو په زړۀ کښې او یوشاته په حصه کښې.

## Halt! About Turn!

## (هالټ! اباوټ ټرن!)

په 1968 کښې راته يو سړي خبره کوله. وې دا د 1958 خواؤ شا خبره ده. چې زما سره به يو ملګرے وو. او يو به زۀ ووم هره شپه به د ملاکنډ په ځنګل کښې مونږ دواړو څانګې پرېکولې. او د خشاک د پاره به مونږ کور ته وړې. قريباً د شپې په دولس بجې به تلو. او په درې څلور بجې به د شپې کور ته راتلو. په هغه زمانه کښې امن وو. قلاره قلارى وه. يوه شپه زۀ ونې ته ختلے ووم. څانګې مې راماتولې. او ملګرے راته لاندې ولاړ وو. چې ناڅاپه مې ملګرى اووې. سپاهيان په ګشت را روان دى. اوس به څه کؤو. ما ورته اووې سمدستى خپلې جامې وباسه. او لاندې په يوه څانګه پورې لغړ ځانګه هغه هم هغسې وکړل. ما به پاس ونه کښې څُله په لاس وهله. او خوفناک اوازونه به مې کول. سپاهيان سره د خپل حوالدره رو رو را روان وو. تماشه ئې کوله. په څه پوهه نه شول. په دې خيال چې ګنې دا جنات دى. حوالدار سمدستى حکم اوکړو. وې اودرېږى واپس شئ. دوئ سمدستى واپس لاړل. مونږ شکرونه ايستل. چې ښه ده چې لاړل ګنې سخت رسوا شوى به وو. بيا مونږ د دې کار نه توبه ګار شو. او د روزګار د پاره پنډى ته لاړو. مونږ اووې دا ځل خېر شو. خو هره پېره نه خېر کيږى.

# د حضرت موسی علیه السلام او د شیطان ملاقات

وائی چې یو ځل د حضرت موسی علیه السلام سره د شیطان ملاقات وشو. شیطان اووې ته خدائے پاک یو پېغمبر مقرر کړے ئې. زۀ هم د خدائے پاک مخلوق یم. ما هم ګناه کړې ده. او توبه اوباسم ته د خدائے پاک په در کښې دعا اوکړه. چې هغه زما توبه قبوله کړی. حضرت موسی علیه السلام دعا اوکړه وې اے خدایه پاکه ته د شیطان توبه قبوله کړے. الله پاک ورته اووې. چې ما ستا سوال قبول کړو. د یو شرط سره. چې دے به د حضرت ادم علیه السلام قبر ته سجده اوکړی. بیا دے معاف دے. کله چې د حضرت موسی علیه السلام د شیطان سره ملاقات اوشو. نو موسی علیه السلام ورته اووې. چې خدائے پاک فرمائیلی دی چې شیطان دې دحضرت ادم علیه السلام قبر ته سجده اوکړی. نو زۀ به ئې توبه قبوله کړم. شیطان بیا په تکبر کښې راغے. او جواب ئې ورکړو. چې ما هغه ته په ژوند کښې سجده نه وه کړې. نو د وفات کېدو نه پس به ورته څنګه سجده اوکړم. بیا شیطان اووې. چې اے موسی علیه السلامه تا زما سفارش اوکړو. نو زۀ اوس تا ته د خطرې درې وختونه ښایم. په دې درې موقعو کښې ځان ساته. کله چې تا له غصه درشی. نو پوهه شه چې زۀ ستا په خوا کښې یم. کله چې د حق او د باطل جنګ وی نو زۀ مسلمانانو ته ښځې او بچې یادوم. چې د باطل خلاف ئې د جنګ نه زړۀ مات شی. د نامحرم ښځو د مجلس نه ځان ساته ځکه چې زۀ په دغه وخت کښې ستا او د هغوئ تر مېنځه د قاصد کار کؤم. (ماخوذ تاریخ جنات و شیطانان)

# ابلیس د نوحؑ په کشتۍ کښې څنګه داخل شو

حضرت ابن عباسؓ فرمائیلي دي. چې دنوحؑ په کشتۍ کښې د ټولو نه اول میږے داخل شوے وو او دټولو په اخر کښې خر داخل شوے وو. د خر په لکۍ پورې ابلیس نښتے وو. په دې وجه ئې دواړه ورستۍ پښې د کشتۍ نه بهر کړې وې. نوحؑ ورته وفرمائیل شیطانه ټول په کشتۍ کښې داخل شه په دې خبره خر دواړه ورستۍ پښې هم په کشتۍ کښې داخلې کړې. کله چې کشتۍ روانه شوه نو ابلیس د خر په لکۍ کښې سندرې شروع کړې نوحؑ ورته اووې. تباه شې ته چا په کشتۍ کښې کښېنولے ئې. ابلیس اووې تا خر ته اووې چې اے شیطانه په کشتۍ کښې راننوځه. زۀ راننوتم. حضرت عطاء او حضرت ضحاکؓ فرمائی چې ابلیس ئې د هغې ځایه لرې کړو. بیا شیطان د کشتۍ په بانس باندې کښېناستو حضرت نوحؑ ته ئې اووې. ته ما د دې کشتۍ نه بهر نه شې ایستلې. ځکه چې ستا ذمه د ټولو مخلوقاتو بچ کول دي. او په دې مخلوق کښې زۀ هم شمار یم. بیا حضرت نوحؑ اجازت ورکړو.

Pukhto.Net

# چې زۀ سړے يم نو زۀ دې را شم کنه

يو سړی ته چا اووې . ستا دا غوائی هره ورځ جمات ته راځی. ته ئې منع کړه. هغه ورته اووې اے نو خو غوائی دے کنه. چې زۀ سړے يم زۀ دې لاړ شم کنه هغوئ ورته اووې. ته راځه جمات د سړو ځائے دے . خو غوائی دې منع کړه.

# د تېمرګرې کالج طالب علمان
# د کراچۍ په شادي هال کښې

په **1983** کښې زۀ د تېمر ګرې د کالج نه د هلکانو سره کراچۍ ته په ټور تلے ووم. قريبا دولس ورځې مونږ هلته وو. طا لب علمان په جناح کورټ هاسټل کښې دېره وو. مونږ به سحر وختی په ګاډو کښې سېل له تلو. او ماښام به واپس راتلو. يوه ورځ يو څو سينئر هلکان غېب وو. زمونږ سره فکر شو. چې دوئ چرته تلی دی. ماسخوتن ناوخته راغلل. ما ورته وې تاسو چرته تلی وئ وې مونږ په يو شادي هال کښې په وادۀ کښې شريک شوی وو. ما ورته وې تاسو له چا دعوت درکړے وو. هغوئ وې نه ، دعوت خو چا نه وو راکړے. وې مونږ د شادي هال خوا له وراغلو. تپوسونه مو اوکړل. چې دا د چا وادۀ دے د هلک څه نوم دے. د پلار ئې څه نوم دے. او د يو څو رشته دارانو د نومونه تپوس مو اوکړو. چې مونږ ځان په هر څه پوهه کړو. جوړ ورننوتو. نېغ د وادۀ د زلمی سره مېلاؤ شو. بيا ئې د پلار سره غاړه غړې شو. او دا مو اووې: د فلانی وادۀ د مبارک شه. ښه شوه چې کار په خېر سره وشو. هغوئ پوهه نه شو. چې دوئ ګنې د ځانه راغلی دی. بيا ئې نوکرانو ته اشاره وکړه وې دا کسان غلے ته کېښنوئ. مونږ ښه په اوچتو سترګو په ډوډۍ کښې شامل شو. د وادۀ زلمی راسره ډېر ګپ هم ولګؤو.

# میری سادگی دیکھ کیا چاہتا ہوں

وائي چې يو ځل چا د علامه اقبال نه تپوس وکړو. چې د عقل انتها څه ده. هغه اووې حيرت بيا هغه کس تپوس اوکړو. چې د حيرت انتها څه ده. علامه اقبال اووې عشق هغه کس بيا تپوس اوکړو. چې د عشق انتها څه ده. اقبال اووې د عشق انتها نشته. سوال کونکي بيا اووې چې تا خو ليکلي دي .

تیرے عشق کی انتہا چاہتا ہوں

علامه اقبال مسکے شو. وې د دې هغه بله مصرعه خو هم اوګوره کنه

میری سادگی دیکھ کیا چاہتا ہوں۔

# شہادت کی انگلی پر

وائی چې یو ځلې علامه اقبال پاګل خانې ته تلے وو. هلته ترې یو پاګل تپوس اوکړو. که چرې د انسان درېمه سترګه وې. نو کوم ځائے به وه. علامه اقبال اووې په سټ کښې پاګل اووې په سټ کښې نه بلکه د شهادت د ګوتې په سر کښې به وه. ځکه چې د دې به ډېرې فائدې وې. په ګېډه کښې چې څوک ګورې. نو ګوته به اوچته کړې. سمدستی به معلوم شی که چرے په ګوتهونو کښې څه شے کتل وی. نو سمدستی به ورپسې دا سترګه ورښکته کړې. زر به معلوم شی. که د شپې څه شے ګورې یا څه لټوې. نو معلوموول به ئې اسان وی. که په بېګ یا په صندوق کښې څه شے ګورې نو معلوموول به ئې اسان وی. پاګل په مخه لګیا وو. د شهادت د ګوتې خو بیانې ئې بیانولې. علامه اقبال ترې په مخه لاړو.

# ما قبوله کړې وه قبوله کړې مې ده

پخوا د یو سړي د زوی وادهٔ اوشو. مونږ پکښې هم شریک وو. ماسخوتن نکاح تړلې شو. مولوی صېب د هلک د پلار نه تپوس وکړو وې د هلک وکیل څوک دے. پلار ئې اووې زهٔ یم. وې ښه داسې وایه دا فلانۍ د فلانی لور چې په دې نوم ئې د پلار بله لور نشته ما د خپل فلانی زوی د پاره قبوله کړې وه. قبوله کړې مې ده. د هلک پلار اووې. دا فلانۍ د فلانی لور چې په دې نوم ئې د پلار بله لور نشته ما قبوله کړې وه قبوله کړې مې ده. مولوی صېب ورته اووې تا خو پکښې د زوی نوم وانه غستو. دا بیا اووایه هغه بیا هم هغسې اووې. مولوی صېب ورته اووې ته پکښې د زوی نوم نه یادوې. ده اووې چې ما قبوله کړه. خو د زوی دپاره شوه کنه هغه ورته اووې دا د نکاح خبره ده. د هلک او د جینۍ نومونه اغستل لازمی دی. ستا د خبرې خو دا مطلب راځی. چې دا ستا په نکاح کښې شوه. وې بابا که دا وادهٔ دې زوی له کوې. نو د زوی نوم به اخلې بیا ئې پلار پوهه شو او د مولوی صېب د وینا مطابق ئې الفاظ هغسې اووې.

# د جوارګرو کوزه لاس لونې

يو جوارګر کورته کوزه او لاس لونے راوړل. ښځې ته ئې اووې. اے ښځې دا کوزه او لاس لونے سنهبال کړه. دا ما په جوارۍ کښې وګټل. ښځې ورته اووې دغلته ئې کېږده. دے په منډه بيا جوارۍ له اووتو. يوه شيبه پس بيا کورته په منډه راغے. وې هغه کوزه او لاس لونے راکه . هغه ما بيا اوبائيلل هغې ورته اووې هم په هغه ځائے دغه دی پراته دی. وړه ئې ما ته پته وه چې دا به ته اوس بيا وړې.

# مونږ سحر وختی

# په خړه کنبې د مسافرو نه غلا کؤو

شيخ کاکا د کراچۍ نه **1994-1995** خواؤ شا راغلے وو. دے د تانړې د باندې جاتو اوسېدونکې وو. کله کله به ما د تانړې په چوک کنبې ليدو. اوس پته نه لګی چې چرته دے. د ډېرې مودې نه په نظر نه راځی. هغه اووې ما به په کراچۍ کنبې رکشه چلوله. زمونږ ځائے د کراچۍ د ښار د رېلوے ستېشن خواؤ شا وو. د سحر د مانځه نه پس به ما ستېشن ته پېره کوله. د سورلو نه څوک تپوس نه کوی. چې ته چرته ځې. يا په څه کار پسې ځې او دا مناسب هم نه ده. خو يوه ورځ سحر وختی درې ځوانان راوختل. ما ترې غير ارادی طور تپوس وکړو. چې ستاسو څوک په ريل کنبې راروان دی. هغوئ اووې نه څوک خو زمونږ نه راځی. بيا مې ورته اووې. تاسو چرته بل خوا روان يئ. وې نه مونږ خو بل خوا نه ځو. بيا ورته ما اووې تاسو په خړه کنبې په رېلوے ستېشن کنبې څه کوئ. يو کس اووې چې په دې خړه کنبې يو ريل راځی. د دې نه چې مسافر کوز شی. نو هغوئ ډېر ستړی وی. او د ستېشن په ايريا کنبې خواره واره پريوځی. اکثر پکنبې اوده هم شی. نومونږه د سحر په دې خړه کنبې د دغې ستړو مسافرو نه غلا کؤو. پيسې او ببګونه ترې پټوو. د ډېر ستړی والی په وجه دوئ په ځان نه پوهيږی.

ادم زاد په معنی واړه يو صورت دی هر چې بل ازاروی هغه ازار شی

Pukhto.Net

## هغه ښځه پرې خبره شوه؟

يو هلک خبره کوله. وې هغه ورځ د موبائل په دکان کښې ناست ووم. يو بوډا سړے دکان ته راننوتو. دکاندار ته ئې اووې. ما ته په دې موبائل کښې لوډ اوکه. دکاندار ورله لوډ اوکړو. بابا ته ئې اووې. واخله بابا لوډ مې پکښې وکړو. بوډا په تلو تلو کښې تپوس وکړو وې هغه ښځه پرې خبرشوه. دکاندار مسکې شو. وې هو هغه ښځه پرې خبر شوه.

# ما خو د مړی جنازه کړی ده

د چکدرې د مذوب بابا متعلق ډيرې خبرې مشهوری دی. وايی چې يو ځل هلکانو په کټ کښې يو هلک څملوو. څادرئې پرې دپاسه وغوړوو. او بيا ئې مذوب بابا ته اووې. مذوبۀ بابا راشه جنازه وکړه. مذوب راغے پخپله مخکښې شو. او دوئ ورپسې شو. جنازه ئې وکړه. د جنازې نه پس هلکانو چغې کړې وې مذوب د ژوندی هلک جنازه وکړه. مذوب اووې ما خو د مړی جنازه کړی ده. او ستاسو راته پته نشته. خلقو چې د هلک نه څادر پورته کړو. هلک واقعی مړ شوے وو.

Pukhto.Net
پښتو

# ستا سره زما دوستي
## د ډيوټۍ د حده پورې وه

يو سړي خبره کوله. وې زۀ په ملائيشا کښې ووم. هلته يو سړي د پاکستان نه د کټ بازوګان راوړل. په ائېرپورټ کښې ئې ترې تپوس وکړو. چې دا څه دي. وې دا بازوګان دي. سيمپل دے. هغوئ پوهه نه شو اجازت ئې ورکړو دے لاړو په خپل بيوپارۍ ئې خرڅ کړل.

څه موده وشوه. په بله پېره ئې بيا نور بازوګان راوړل. په ائېرپورټ کښې ورته هغوئ اووې دا څه دي. ده اووې دا بازوګان دي. سېمپل دے.خو د ائېرپورټ نه اووتو. خو دا ځل ئې په ده شک راغے. چې په دې بازوګانو کښې څه چل دے. انټلي جنس والا ورپسې شو. د پوليسو يوې جينۍ ورسره دوستي جوړه کړه. دا جينۍ به ورله هر وخت تله راتله. هر قسم ګپ به ئې ورسره لګولو. ده خو اول د جينۍ نه خبره پټه ساتله. خو بيا زړۀ ورشو. خپل ټول رازونه ئې ورته اووې. پنځه شپږ مياشتې تېرې شوې. يوه ورځ دا سړے د منشياتو په بيوپارى پسې پېسو له تلو. دا جينۍ هم ورسره وه. بلکه دا ئې د مخکښې نه خبر کړې وه. چې زۀ د منشياتو کاروبار کوم. او په سړي پسې پېسو له ځم. يو هلک به د ده سره سامان وړو راوړو. هغه هلک هم د پېسو د پاره ورسره ملګرے شو لاړل. کله چې ئې سړي له پيسې ورکولې. پوليسو پرې چاپه اووهله. دوئ ئې ونيول. دې جينۍ سړي ته اووئيل. زۀ په پوليس کښې يم. زما ستا سره دوستي د دې وخته پورې وه ما ستا نه معلومات حاصلول. زۀ ستا سره په ډيوټۍ ووم. اوس زما ډيوټي پوره شوه. وړاندې ته خپل جواب ورکوه. سړے سره د خپل مزدور ملګرى پوليسو جيل ته بوتلو. ده اووې دا هلک هم زما سره شريک دے. هلک اووې. ما ورسره صرف مزدوري کوله. ده اووې نه دے زما سره سم شريک دے. دوئ ته ئې په څو ورځو کښې سزا واوروله دواړه پهانسى شو.

## دواړه يو شان يو

په يوه اداره کښې د مسلمانانو سره يو هندو هم خپلې ذمه وارئ تر سره کولې. يوه ورځ دې هندو ته مسلمانانو ملګرو د اسلام دعوت ورکړو. هغه ورته په جواب کښې اووې. تاسو بے عمله مسلمانان يئ. او زۀ بې عمله هندو يم. دواړه يو شان يو. مطلب دا چې د کافر او دمسلمان فرق په عمل دے.

Pukhto.Net
پښتو

## چرګ نن په چُتهۍ دے

يو ملګرى راته خبره کوله وې هغه ورځ د چکدرې او بټ خېلې تر مينځه د مهيانو هوټل ته وراغلو. مونږ ورته اووې. چرګ شته هغوئ اووې چرګ نن په چُتهۍ دے .ما اووې مونږه پوهه نه شو. هغوئ اووې ولې تاسو زمونږ نوکر چرګ نه يادوئ. ما اووې مونږ خو د پخولو د چرګانو تپوس کوو. هغوئ پوهه شو. وې ښه ښه چرګان يادوئ بيا ئې اووې زمونږ سره صرف مهيان وی. چرګان نه پخوو. البته چرګ زمونږ سره نوکر هم دے. مونږ وې که هغه يادوئ.

## ګډ شه ورته . ګډ شه ورته

يو سړي خبره کوله. وې دسوات متې طرف ته په څه کار پسې تلے ووم. يو کلېنډر په ګاډي کښې ولاړ وو. چغې ئې وهلې ګډشه ور ته ګډ شه ورته. ما د چا نه تپوس اوکړو . چې دا سړے خو وائي چې ګډ شه ورته ګډ شه ورته د دې څه مطلب دے. هغه کس اووې ګټ او شؤر په بره علاقه کښې دوه کلي دي. دا د سورلو ګاډے دے. هم دغې کلو ته روان دے. په دې وجه دے ګټ او شؤر يادوي. دا نوم ګډ نه دے ګټ دے . د دې وضاحت نه پس بيا زۀ پوهه شوم.

Pukhto.Net
پښتو

## تا ته پته شته دې هلک خو زما سره ډېره ګستاخي کړې ده. ته څنګه د ده سفارش له راغلې ئې

دا د **1974** خبره ده. زۀ پېښور ته په څه کار پسې تلے ووم. په اسلاميه کالج پېښور کښې زما يو پروفېسر ملګرے وو. زۀ به هغه

له کله کله تلم. يوه ورځ د کلي د تلو وختې وو. جوړ هغه له وراغلم. دا درې بجې وې. زۀ چې د هغۀ ځائے ته ورننوتم. نو زما نه لږ مخکښې ګڼ خلق ورغلي وو. ناست وو. ده چې زۀ ولېدم. نو ما ته ئې اووې ته راځه زۀ تا ته خبره کوم. ما اوئيل څه چل دے. ما ته ئې اووې. تا ته پته شته دې هلک زما سره ډېره ګستاخي کړې ده . ته څنګه د ده سفارش له راغلے ئې . ما اووې زۀ خو د څه نه خبر نه يم. زۀ خو يوې شيبې له ستا ليدو له راغلے يم. بيا به راتر غاړه وتو. وې ټيک ده بيا ئې په دې زۀ پوهه کړم. مونږ بيا کېښناستو. خبره اتره وشوه. سړی مايوس لاړل. ما ورته اووې دا څه چل شوے دے. پروفېسر صېب اووې. دا پرون يو هلک ما په څه خبره د کلاس نه اوويستو. دے چې اووتو. نو ما ته ئې اووې. ته به راوځې که نه زۀ به ستا سره پوهه شم. ما اوئيل ته به راسره کله پوهيږې. دا دے دراغلم. ځه چې اووتم. دۀ زما ګرېوان ته لاس واچؤو. ما سمدستي د ملا نه ونيوو. او زمکې له مې راخلاص کړو. وې بيا پکښې د ځان د خلاصولو طاقت نه وو. بهر حال لاس خو ئې زما سره اچولې ؤو. ما پرې پرنسپل ته شکايت اوکړو. پرنسپل صېب دے د کالج نه اوويستو. دا کسان د دغې هلک رشته داران وو. د واپس اغستو د پاره ئې منت کؤو. ما ورته اووې چې اوس زما کار نه دے. دا د پرنسپل صېب کار دے. چې تا معاف کوی که نه خو ما وې که ته ددۀ په سفارش کښې راغلے ئې. په دې وجه زۀ تاته ډېر قهر ووم. خو چې تا اووې چې زۀ خو هسې ستا ليدو له راغلے يم د دې واقعې نه نه يم خبر. نو هله خوشحاله شوم.

## د ډاکو نه بېزه جوړه شوه

د آج اخبار په يوه اخباري تبصره کښې مې دا خبره د نظره تېره شوه کالم نګار اکرام الله مومند د بهارتي اخبار په حواله ليکلي وو. چې په نائيجر يا کښې پوليس په ګشت روان وو. دوئ مخامخ کتل. چې دوهٔ ډاکوان د يو موټر تښتولو کوشش کوي. چې پوليس ئې ولېدل. نو يو ډاکو اوتښتېدو او دې بل ډاکو په جادو د ځان نه بېزه جوړه کړه. پوليسو هغه بېزه ونيوه. او په جېل کښې ئې بنده کړه. اوس پته نه لګي. چې پوليس به د دې بېزې نه تفشيش څنګه کوي.



Pukhto.Net

# که د نهه نهه کالو دوۀ جینکۍ وی نو خېر د ے

زمونږ په دې علاقه کښې د پخوا نه په دینی مدرسو کښې طالب علمان سبق وائی. اوس هم دا دینی مدرسې ځائے په ځائے موجودې دی. په یوه مدرسه کښې یو استاذ د نکاح د پاره د یوې جینۍ ضرورت پېښ شو. استاذ یو شاګرد ته اووې. هلکه ورشه د اتلسو کالو د یوې جینۍ درک راته ښایه. هلک لاړو. یوه شیبه پس هلک واپس راغلو. وې که د نهه نهه کالو دوۀ جینکۍ وی نو خېر د ے. استاذ اووې د نهه نهه کالو په دوؤ جینکو به څه کؤو. مونږ خو ئې څه په مدرسه کښې داخلولو له نه راولو. ورشه د اتلس کالو پېغله جینۍ اوګوره. اومونږ ته ئې درک وښایه.

Pukhto.Net

## بیا مې توبه ده. د جینکو سره به هیڅ کله هم چیږ نه کوم دا ټولې زمونږ خوئندې دی.

پخوا د تانې خواؤشا علاقه ټوله خالی وه. نه ابادی دومره زیاته شوی وه. او نه سکولونه کالجونه جوړ شوی وو. د تانې خاص کلے موجود وو. نور چاپیره خوشی ډاګونه وو. د کلی نه بهر به شنه شنه

پټې وو. د سپرلي په موسم کښې به هلکان جينکۍ دامانې او شولګرې ته په سېل وتل. د هلکانو يو ټولے دامانې ته په سېل وتے وو. په لږه فاصله کښې جينکۍ هم ګرځېدلې. دغه هلکان دې جينکوله په يو لنډه لار راتاؤ شو. او هغوئ له په پوله مخې له وراغلل يو هلک خدائے خبر چې د دغه تېرېدو په وخت کښې څه داسې حرکت وکړو چې يوې جينۍ پرې بد وګڼل. د قدرت کار وو. په دې جينکو کښې د دغې هلک خور هم وه. هغې خپل ورور په قابل اعتراض حرکت وليدو .جوړ ده ته ئې ګوته وځنډله وې ته به کور ته راځې که نه. په دا جې به دې سم کړم. هلک ډېر شرمنده شو. ملګرو ورته اووې دا دې څه چل وکړو. دوئ نيغ کلي ته واپس لاړل. دے د محلي د حجرې په يوه کوټه کښې ننوتو. او څملاستو. چا چې به ورته اووې چې څه چل شوے دے. دۀ به اووې. مړيم مړ يم. خلقو به ورته اووې څنګه مړ ئې. ده به ورته بيا ټوله قيصه تېره کړه. ماښام ماسخوتن ورپسې د کوره سوال جواب وشو. چې کور ته راځه . پلار دې نن کور نشته. بل خواتلے دے. دے په شرمېدلو سترګو کور ته لاړو. ټولو ښه ورټو. خو دا ئې ښه نصيبي وه چې پلار ئې کور نه وو. دۀ اووې بيا مې توبه دۀ د جينکو سره به چرته هم چېړ نه کوم. دا ټولې زمونږ خوئيندې دي. بيا چې به بل چا د جينکو سره څه چېړ کوو نو هغه به ئې منع کولو.

## د پیشو او د منږک دښمنی ختمه شوه

یو کس راته خبره کوله. وې زمونږ په کور کښې منږکان ډېر دی. مونږ دوایانې راوړې. دوئ ته مو کېښودلې. خو څه خوند ئې و نه کړو. بیا مونږ چرته یو پېشو راوستو. مونږ وئیل چې زهٔ اوس خو به د منږکانو نه خلاص شو. خو تاسو یقین اوکړئ چې یو سحر مې کتل. یو منږک د پېشو په ملا ناست وو. پېشو روانه وه. او منږک ته ئې څه نه وئیل. یا خو د پیشو دماغ خراب شوی وو. یا به منږک پیشو نه پېژندو. خو بهرحال داسې یو منظر ما په خپلو سترګو ولېدو. سوچ مې کولو چې اوس منږکان ناقابل تسخیر شو. څوک ئې هېڅ هم نه شی کولے.



Pukhto.Net

# په بټ خېله کښې پنځه زره دکانونه دی

د بټ خېلې يو کس راته خبره کوله. وې څوکاله وړاندې زهٔ په يو دکان کښې ناست ووم. په دې کښې يوهٔ ځوانه جينۍ دکان ته رانننوته. خېراتی پیسې ئې غوښتلې. زمونږ چې څه وس کېدو څه پيسې ټکې مو ورکړې. بيا ورته دکاندار اووې زمونږ د کور خوا ته زمونږ يو پوخ کور دے. که ته زمونږ کره کار کول غواړې. نو خپل د کور خلق به هلته راولې. د خوراک پوشاک ذمه واری به دی په مونږ وی. زر روپۍ به درله جيب خرچ درکوو. نور چې زمونږ څه وس وی کوو به درسره. جينۍ مسکۍ شوه. ما ته ئې اووې. ده ته دې خيال دے. په بټ خېله کښې پنځه زره دکانونه دی. چې ماله يوه يوه روپۍ راکوی. نو پنځه زره روپۍ ورځ شوه. زهٔ ليونۍ يم چې په زر روپۍ مياشت تېرووم. او تش په خوراک ځان پابند کوم. ما له دا خېرات غوښتل ښه دی. يعنی په حيا عزت کښې د روزګار کولو د ژوند نه هغې د هر چا نه سوال کولو ته ترجيح ورکړه.

# تا ته لا ډېر عمر پاتې دے

وائی چې یو نېک سړی ته چا اووې. چې د شیطان سره ډېر جالونه دی. دغه جالونه په خلقو خوروی. او د خلقو نه لاړ خطا کوی. ده اووې زۀ به د شیطان نه معلومات کوم. چې دا څه جالونه دی. دے شیطان له وراغے وې ستا څه جالونه دی. چې ته ئې په خلقو وراچوې هغه ورته وې څه څه تا ته لا ډېر عمر پاتې دے. ته اوس په جالونو څه کوے. دا سړے په زړۀ کښې خوشحاله شو. چې زما خو لا ډېر عمر پاتې دے. په اخری وخت کښې به د نیکۍ عمل شروع کړم. د دې خبرې سره دے د دین نه غافله شو. یو کال پس ورله مرګ راغے چې ځنکدن ئې شو. شیطان ورله راغے. ده ورته وې زما خو ډېر لږ عمر پاتې وو. تا راته اووې چې تا ته لا ډېر عمر پاتې دے. زۀ دې په دهوکه د نیک عمل نه غافله کړم. هغه ورته اووې دا هم زما یو جال دے. خو ته پوهه نه شوے.

# دا سوے کال به تېر شي
# خو ستا دا سوے پتون به مې هېر نشي

پخوا يو ځلې د غلے ډېر قحط راغلے وو. يو ورو ر د خور کره پېښ شو خور ئې په سکرو ځان له ککوړے ايښے وو. چې ورور ئې رانتوتو. خور ئې سمدستي ککوړے په پتون کښې پټ کړو. دا منظر ئې ورور ولېدو دے کېښناستو. خبرې اترې ئې کولې. بيا ئې په وتو کښې خور ته اووې. دا سوے کال به تېر شي. خو ستا دا سوے پتون به مې هېر نه شي. دے بيا د کار روزګار په سلسله کښې هندوستان ته لاړو. هلته ئې ډېرې پيسې وګټلې ـ دے ډېره موده پس کلي ته واپس راغے. خور ئې ورله په مېلمستيا کښې ډوډۍ کړې وه. د ده سپين څادر په سر وو. د خوز کره وراغے هغې ورته ډېر اينګولې او قسما قسم خوراکونه مخې ته کېښودل. ده په ترکارۍ کښې د څادر پيسکے ښکته کړو. او بيا ئې رابهر کړو. خور ئې ورته وې دا څه کوې وروره تا خو پرې څادر سخا کړو. واخله ډوډۍ خوره کنه. هغه اووې دا ډوډۍ تا ما له نه ده کړې. بلکه تا دې سپين څادر له کړې ده. نو بس څادر مې پکښې ککړ کړو. ستا مقصد پوره شو. هغې ورته ډېر منت وکړو چې واخله ډوډۍ اوخوره کنه. راکه چې څادر درله اووينځم هغه څادر ورنکړو او بغېر ډوډۍ هم دغسې لاړو.

# تم نے کوئی خواب تو نہیں دیکھا؟

په 1978 کښې زۀ د مانسهرې په کالج کښې ووم. پروفېسر نفیس الحسن صېب زمونږ پرنسپل وو. د پرنسپل یو زوی په دغه کال د ایف.ایس.سی امتحان ورکړے وو. دا هلک ډېر قابل وو. د نتېجو ورځې نزدې شوې یو ورځ سحر لس لس نېمې بجې مونږ د پرنسپل صېب په دفتر کښې ناست وو. پرنسپل صېب هم موجود وو. یو پروفېسر اووې چې ما خوب لیدلے دے چې ستا زوے په فرسټ ډویژن کښې پاس شوے دے. یوه شیبه پس یو بل پروفېسر اووې چې ما هم بېګا خوب لیدلے چې ستا زوی بورډ ټاپ کړے دے. په دې موقعه هلال ډي پي اي صېب هم موجود وو دے یو ډېر دلچسپ سړے وو. په هره خبره کښې به ئې د خندا او د مذاق پهلو راپېدا کوله. د دې دواړو خوبونو په اورېدو دے مسکې غوندې شو. بهر ته اووتو. زۀ هم یو شیبه پس راووتم. بیا به ده د هر یو سټاف ممبر نه تپوس کولو. *تم نے کوئی خواب تو نہیں دیکھا*۔ هغوئ به اووې ولې چې بیا به ورته ده د پروفېسرانو د خوب ذکر وکړو دا هلک قابل هم وو. او دا خوبونه به هم رښتیا دوئ لیدلی وو. خو هغه ته یو ګپ ښکاره شو.

# مونږ دواړه ملائک یو خوراک نه کوو

د مذهب په کتابونو کښې راغلی دي. چې دوهٔ ملائک د حضرت ابراهیم علیه السلام کور ته په انساني شکل کښې د هلکانو په عمر کښې حاضر شو. حضرت ابراهیم علیه السلام ډېر میلمه دوست سړے وو. هغه ته پته نه وه. چې دا ګنې ملائک دي د هغه دا ګمان وو چې دا چرته عزتمند میلمانه دي په دې لاره تلل . ما ته را وګرځېدل. جوړ سخے ئې ورله حلال کړو. ثابت سخے ئې ورله د کلمونه تش کړو. پاک ئې کړو. او بیا ئې ورله هم داسې روغ په غوړو کښې پوخ کړو. دغه غوښه ئې راوړه. او د دوئ مخې ته ئې کېښوده. هغوئ د دې نه مخ واړوو. ابراهیم علیه السلام ورته اووې ولې تا سو خفه ئئ. که زمونږ نه څه کوتاهي شوې ده. هغوئ اووې مونږ ملائک یو. خوراک نه کوو. مونږ د حضرت لوط علیه السلام د قوم د هلاکت د پاره خدائے پاک رالیږلي یو. دې ملائکو ته په دې وخت کښې د خدائے پاک د طرفه حکم وشو. چې حضرت ابراهیم علیه السلام له د زوی زېرے ورکړئ. او سمدستي ځان د لوط علیه السلام کلي ته ورسوئ. ملائکو بیا ابراهیم علیه السلام ته اووې چې خدائے پاک مونږ تاسو له

راليږلی يو. چې تاسو ده ته د يو زوی زيرے ورکړئ. بيا ورته حضرت ابراهيم عليه السلام اووې. چې که د لوط عليه السلام د قوم د هلاکت دا خبره پاتی شی او دوئ بچ شی نو ښه به نه وی. فرښتو اووې چې د دې فيصله خدائے پاک کړی ده په دې کښې هيڅ نه شی کيدے. بيا دوئ لاړل. کله چې دوئ د ښکلی هلکانو په څير په انسانی شکل کښې د حضرت لوط عليه السلام کور ته داخل شو. نو هغه اويريدو چې دا ميلمانه به زۀ د دې قوم نه څنګه بچ کوم. د لوط عليه السلام ښځه کافره وه. په څه بهانه د کوره اووته. او ټول خلق ئې خبر کړو چې لوط عليه السلام له دوه ښکلی هلکان راغلی دی. د دې خبرې سره ټول خلق رامات شو. او د کور نه چاپيره شو. لوط عليه السلام ډير پريشانه وو. چې دا خلق چا خبر کړل او زۀ به دوئ د دې خلقو نه څنګه بچ کوم. فرښتو ورته اووې چې مونږ ملائک يو. ته مه ويريږه مونږ د دې قوم د هلاکت د پاره خدائے پاک راليږلی يو. د دوئ د هلاکت فيصله شوی ده. ستا د دې ښځې د هلاکت هم فيصله شوی ده . په نيمه شپه کښې به ته د کوره وځې. او دا ښځه به د ځان سره نه بوځې. په شا به هم نه ګورې. چې نيمه شپه شوه لوط عليه السلام د خپل خاندان سره د کوره اووتو. چې لږ لاړو وائې چې اول په دی کلی د ګټو باران وشو. او بيا ئې اوچت کړو. او د اسمان نه ئې پاستر راخلاص کړو. خو دا ئې دومره په زور سره اپوټه راخلاص کړے وو. چې په زمکه کښې کافی دننه ننوتے وو دا قوم د هلکانو په لواطت کښې اخته شوے وو. په دې وجه هلاک شو.

# زما نه خو کليمه هېره شوه

يو سړی خبره کوله وې په يو ځائے کښې ديني اجتماع وه. غټ غټ عالمان راغلي وو. تقريرونه ئې کول. په اخره کښې يو عالم صېب د ډوډۍ د خوراک په طريقه او د ډوډۍ نه مخکښې په کليمه وئيلو بحث اوکړو. چې د ډوډۍ د خوراک نه مخکښې کليمه ډېره ضروري وی. ګنی نو بيا شيطان په دې خوراک کښې شامليږی پروګرام ختم شو. ډوډۍ راوړې شوه زه د دغې عالم مخامخ ډوډۍ ته کښېناستم خلقو شورو وکړه. يوه شيبه پس ما د هغې عالم نه تپوس وکړو چې جی تاسو د ډوډۍ د خوراک نه مخکښې کليمه اووې هغه خو صادق سړے وو. سپين رښتيا ئې اووې وې نه زما نه خو کليمه هېره شوه .



Pukhto.Net

# تا قسم وخوړو ډالرې تا پتې کړی دی

یو بوډا راته په **1980** کښې خبره کوله وې زۀ په ورکوټوالی کښې امریکې ته تلے وم. بلکه د امریکې یو ګاډی واله هم د غسې د بازار نه بوتلے ووم. دا د **1920** واقعه ده. څلور خوئندې ئې وې. هغوئ ما ته اووې. چې په مونږ کښې دې کومه یوه خوښه وی. هغه به تا له په نکاح درکړو. ما یو طرف ته اشاره وکړه. هم هغه ئې ما له راکړه. بیا ئې هلته ما له نوکری راکړه. یوه ورځ زۀ په یو بازار کښې روان ووم. یو سیاه فام زما د جیب نه شپږ ډالره اوویستل د ے زما سره جوخت روان وو. یو پولیس واله نزدې ولاړ وو. ما ورته وې دې سړی زما نه شپږ ډالره پټ کړل. پولیس واله هغه ته وې ته اودریږه. تا د دې سړی نه پیسې ولې اوویستلې. شابه دا اوس ورکړه. هغه سمدستی قسم وخوړو. چې ما نه دی پټې کړی. پولیس واله ورته اووې تا دومره زر قسم ولې وخوړو. اوس خو ثابته شوه چې تا پټې کړی دی په دې ساعت ده له خپلې پیسې ورکه. ګنی نو مجسټریټ ته دې پیش کوم. هغه سمدستی ما له خپلې شپږ ډالرې راکړې او خبره ختمه شوه .

# خدایه دښمن مې تباه کړې
# د یوې ښځې په حج کښې خبرې کول

یو سړی خبره کوله وے په حج کښې زما خوا ته یوه مشره ښځه ناسته وه. خلقو ځان ته دعاګانې کولې خو چې هغې ښځې ته زما فکر شو په مخه به ئې وې. اے خدایه دښمن مې تباه کړے. اے خدایه دښمن مې خوار کړے. وې ما ورته غلې غوندې وې چې ترور دا ته څه وائې. ته خو خبرې کوې. دا چا ته کوې خپل خوا ته کس ته ئې اشاره اوکړه. چې دا خبرې زۀ ده ته کوم. دا زما خاوند دے. وې ما ورته اووې چې ته دومره لرې حج له راغلې ئې خبرې مه کوه. ځان ته دعا اوکړه او ټولو خلقو ته دعا اوکړه. هغۀ وې هېڅ اثر پرې هم و نه شو. بس خو په مخه به ئې خپل خاوند ته خبرې کولې. هغه کس اووې چې د دې ښځې نه ما یو ځل هم د دعا الفاظ وا نهورېدل. خدائے خبر چې خاوند ئې څه قصور کړے وو. حج د دعاګانو ځائے دے حج له څوک هر وخت نه ځي.

# خدا کسی کو تھانے نہ لے جائے

مانسهرې کالج ته زما بدلی وشوه. پرنسپل صېب ته حاضر شوم. هغه تپوس اوکړو. چې ته د کوم ځائے اوسېدونکے ئې. ما اووې تهانه مالاکنډ ایجنسی بیا هغه اووې *خدا کسی کو تھانے نہ لے جائے.* ما اووې زمونږ د کلی خو ډېر ښه خلق دے. هغه اووې چې نه زۀ د پولیس والاتهانې خبره کوم. وئیل ئې چا زۀ بغېرد څه قصور نه په یوه مقدمه کښې اخته کړے یم. او بار بار تېکسلا ته ځم راځم.

# دا دے د خوبه دے .
# په خوب کښې ئې دا خبرې کولې

د **1966** خواؤ شا د طالب علمۍ په زمانه کښې په سوات مینګوره کښې ما یو فلم بدنام کتلے وو. زۀ به د ترور کور په حجره کښې کېښناستم. اکثر به د شپې هم په دې حجره کښې ووم. دوست محمد صېب د کامرس کالج سابقه پرنسپل ځوک چې زما کلاس فېلو وو. او د ترور زوے مې هم دے هغه او نور د هغوئ ورورنه او ملګری به هم په دې حجره کښې وو په کټونو کښې به اکثر بسترې غوړېدلې پرتې وې. د ماسپخین وخت وو. د کوټې د دروازې خوا ته په کټ کښې هغه ناست وو. خوا ته کټ کښې زۀ ناست ووم. هغه ته مې د پرونی فلم د کتو قیصه کوله. د فلم زور دار ډائیلاګ به زما ډېر خوښ وو. هغه ته ما اووې. د فلم هیرو د سړو زرو جونکۍ اوچتې کړې وې او هغې ته مخاطب وو وې اے دنیا کے لوگوں سے سونا کیا چیز ہے۔ د دې سره دهغوئ والدصېب رانتوتو. ما ته ئې اووې. فضل کریمه دا څه کوې؟ ما سمدستی سر کېښودو ځان مې اودۀ کړو. دوست محمد صېب ډېر حاضر جوابه سړے دے. سمدستی ئې پلار ته اووې دا دے د خوبه وو. په خوب کښې ئې دا خبرې کولې. هغه ډېر حېران شو. خو پوهه نه شو. یوه شیبه پس لاړو. زۀ بیا راپاڅېدم ما وې زبردست کار دې وکړو ګنې ما به ورته څه وئیل.

# تانړه د غوث بابا په خله کښې پرته ده

وائې چې یو ځلې سید علی غواث ترمذی یعنی پیر بابا د سمې د طرفه په چړات سوات تانړې طرف ته راتلو کله چې د چړات د غر سر ته را ورسېدو. نو یو ملګری ورته اووې دغه مخامخ د تانړې کلے دے عبد الهاشم صاحب یعنی غوث بابا د تانړې په خُله کښې پروت دے. نو پیر بابا علیه الرحمت ورته اووې. داسې نه ده. تانړه د غوث بابا په خوله کښې پرته ده، یعنې د سړی په خبره کښې د تانړې اهمیت زیات وو. د پیر بابا په خبره کښې د غوث بابا اهمیت زیا ت دے. د بزرګانو خبرې د څه حکمت نه خالی نه وی. ځکه خورحمان بابا وایی:

که نظر که څوک په کار د درویشانو
خود به بیامومی وقار د درویشانو
هومره خلق ئې زیارت که پس له مرګه
چې بازار وی په مزار د درویشانو
چې دنیا ئې کړه د دین د پاره ترکه
صد رحمت شه په روزګار د درویشانو

# تا د خلقو وينې راغونډې کړې دی او ماله ئې راکوې

وائی چې يو ځلې د بغداد غوث الاعظم شيخ عبد القادر جيلانی رحمت الله عليه له يو مالدار سړی په تحفه کښې د روپو (دينار يا درهم) يوه تيلۍ راوړه. او هغه ته ئې پيش کړه. هغه اووې زۀ د دې خواهش مند نۀ يم . دا واپس يوسه. هغه سړی اووې چې صيبه دا ما خاص تاسو له تحفه راوړی ده. دا به خامخا قبلوئ. هغه اووې زۀ نه اخلم ستا ډيره مهربانی دا واپس واخله. د هغه امير سړی په ډير منت غوث الاعظم صيب اووې. ته راکه په هغه تيلۍ ئې زور وکړو. د هغې نه وينې اوبهيدلې هغه سړی ته ئې اووې ګوره تا د خلقو وينې راغونډې کړې دی. او ما له ئې په تحفه کښې راکوې. سړے ډير شرمنده شو. او د حرامو نه ئې توبه اوويسته.

# بيا به په تياره کښې
# د زمکې شی له ګوتې نه ورورم

زما دا عادت دے چې په لار کښې څه شے پروت وی. نو ډډې ته کوم ئې چې څوک پرې خوږ نه شی. يا ئې په لار کښې غاړې ته کړم. يا ئې په خپه يو طرف ته کړم. زمونږ په زوړ کور کښې د بېرې ونه وه. د هغې نه به هر سحر غنې راغورزېدلې. زۀ چې به سحر وختی مانځه له تلم نو دغه غنې يا د مرغو را غورځېدلې جالې به ما په ډډه کړې. د پشکال په موسم کښې به په دې بېره کښې ډېرې زياتې مچۍ او ډمډارې وې. دا مچۍ او ډمډارې خو به اول په ونه کښې ناستې وې. بيا به راپارې شوې او ځنې به د سيلۍ يا باران په وجه ښکته راګزارې شوې. يوه ورځ د پشکال په موسم کښې سحر وختی مانځه له راوتم. تياره وه. څه شے پېژندے نه شو. څه تور تور په لار کښې پراته وو. ما وې چې ډډې ته ئې کړم. چې ما لاس ورړو. هغه ټولې ډمډارې وې. په ما راپارې شوې وئې چيچلم. د دې نه پس زۀ توبه ګار شوم. ما وې چې بيا به په تياره کښې د زمکې شی له لاس نه ورورم. اوس چې څه شے نه پېژنم نو په ډډه ترې ځم.

# مُلخیه یو ځل بچ شوې بل ځل بچ شوې په دریم ځل راګېر شوې

پخوا یو سړے چې ملخے نوم ئې وو. چرته بل وطن ته په مسافرۍ تلې وو. دے په عوامو کښې په زیرک مشهور شو خلقو پرې ازمېښت کؤو. په یو ازمائش کښې دے بریالے شو. په دویم ازمائش کښې دے بیا بریالے شو. بیا خلقو چرته په دا مانه کښې یو ملخ په مشکله یعنې په دریم ټوپ ئې ونیوو. یو کس په موټی کښې نیولے وو. نور تماشګیر ورسره هم ملګری وو. دغسې سړی له راغلل. یو کس ورته اووې وایه زما په موټی کښې څه دی. دا سړے د ځان سره غلے غلے لګیا وو ځان ته مخاطب وو. وې ملخیه یو ټوپ دې اوهو بچ شوې بل ټوپ دې اووهو بچ شوې په دریم ټوپ کښې راګېر شوې. خلقو چغې کړې. وې دے خو د رښتیا بزرګ دے . حالانکه د هغه اشاره بیخی ځان ته وه. یعنی یو ځل بچ شوم. بل ځل بچ شوم په دریم ځل پکښې راګېر شوم. ملخے ده ځان ته وې. او خلقو وې چې دا ګنې دغه بل ملخ یادوی. دغه شان د ده توکه برابر شوه. او بزرګی ئې خلقو ومنله.

Pukhto.Net
پښتو

# اباسين صيب يو غزل خو راته اووايه

يو ځلې اباسين يوسف زی ته ما ګيله وکړه. ما وئيل هغه ورځ د رياض مهيانو واله ( د چکدرې خوا ته) په هوټل کښې تاسو د خپلو ملګرو سره ناست وئ. زۀ هم د يو څو ملګرو سره يو

اړخ ته ناست ووم. چې تاسو مې ولیدئ. زۀ ستاسو خواله راغلم. سترې مشې مې درسره وکړل. خو تاسو ما ته څه اهمیت را نه کړو. هغه خندل. وې هغه خو زما ورور حسین شاه ایډوکېټ دے. هغه یو سوشل ورکر دے. دغې ځائے ته کله کله د خپلو ملګرو سره ځی. ډېر خلق په هغه باندې زما ګمان کوی.

بیا راته اباسین یوسفزی په دې حواله یوه قیصه بیان کړه وې زما ورور حسین شاه راته خبره کوله. چې هغه ورځ د مېنګورې په بازار کښې روان ووم. یو سړی راته په لار کښې د چایو ست وکړو. وې ما وې چې نه څښنم . وې هغه راپورې وننښتو. چې خامخا به څښې. جوړ زۀ ورسره لاړم. د چایو څښلو نه پس راته هغه سړی اووې. اباسین صېب یو غزل خو راته اووایه. ما ورته اووې چې زۀ خو اباسین یوسفزے نه یم. بلکې د هغه ورور حسېن شاه ایډوکېټ یم. که ته نه خفه کېږې نو د چایو پېسې به زۀ ورکړم. هغه حېران شو. وې د چایو ست خو درته ما کړے وو. پېسې به زۀ ورکوم. خو تاسو دواړه بیخی یو شان یئ. وې ما ورته اووې چې هو ستا خبره صحی ده. اکثر خلق په ما د اباسین یوسفزی ګمان کوی.

# د جميل يوسفزی «په ځپر سندا» زما په نظر کښې

له طرفه : د پروفېسر کريم ناشاد

(مزاحيه)

د کتاب په اولني مخ خو په ځپر سندا ليکلے شويدے خو دننه په دويم مخ نوم د پوهانو لطيفې ليکلے شوے دے. لکه مونږ دا وئيلې شو چې ہاتھی کے دانت کھانے کے اور دکھانے کے اور. جميل يوسفزے د رزړو په تحصيل کښې د غلامان کلی اوسېدونکې دے. وادهٔ ئې د تانې کلی نه کړے دے. په درګئ کالج کښې زمونږ ملګرے وو. په دې علاقه جميل صېب په مختلفو کالجونو لکه چترال، دير، ډګر، تانه او درګئ کالجونو کښې د اردو پروفېسر پاتې شوے دے. ما ته د دوئ درې کتابونه تر لاسه شوی دی. چې هغه دا دی. د « خوند تېتې » دا د لطيفو کتاب دے. پشتو میں مستعمل فارسی ضرب

الامثال ومحاورات. يعنې د پښتو او فارسۍ مشترک متلونه يا د فارسۍ اثر په پښتو په فارسۍ او پښتو تر کيبو نو چې دوئ څه ليکلی دی. دا د دوئ د علميت او ژورې مطالعې يو ځلنده نمونه ده. يو تن راته اووې چې جميل يوسفزی نوے کتاب « په ځپر سنډا » ليکلے دے. ستا ذکر پکښې هم شته. بل کس خبر کړم چې د جميل يوسفزی نوے کتاب د پوهانو لطيفې چاپ شوے دے ته ئې پکښې هم ستائيلے ئې. خو بيا چې د هغوئ په وينا پروفېسر عابد سلطان صېب ماله د هغوئ دا نوے چاپ کتاب راکړو نو معلومه شوه چې د يو کتاب دوۀ نومونه دی يعنې «په ځپر سنډا» او د «پوهانو لطيفې» يک يو کتاب وختو. چې قيمت مې ئې اوکتو نو دا بجدو په حساب وو. زما په خيال دا نرخ ئې ښه دے. ځکه چې د پښتو کتاب هسې هم څوک په بيعه نه اخلی. خپل پردے، شاعر اديب چم ګاؤنډ، د لرې او برې هر څوک ئې مفت غواړی خو د خريدارو او د دکاندار غوئمه به هر ځائے وی. لکه ګاهک به وائې څه قيمت دے. دکاندار به وائې هيڅ نه دابجدو په حساب نو يا خو به خريدار بغېر پيسو ورکولو کتاب اوچت کړی. او ځی به او يابه دې ابجدو کښې وران شی. ګاهک به تش لاس روان شی يو بل ته به سپورې ستغې اووائی.

په کتاب کښې زما په حقله يو لطيفه کښې ليکی.

لطيفه نمبر 36 د پښتو پروفيسر ناشاد چې په سپيندا هم مشهور دے. اکثر به ئې هلکان تهور له هم بوتلل او هر ځل به د سپيندا نه پيسې ورکيدې. يو ځل ئې پرنسپل ته خپل حساب کتاب پېش کړو

په دغه کاغذ کښې ليکلے شوی وو. منگھوپیر کی مسجد میں گم شدہ رقم:5000 غازی عبداللہ کے مزار میں گم شدہ رقم:2000 ـــــ دا د هاغه وخت خبره ده چې د ليکچرار تنخواه څلور زره وۀ. د دې لوستو سره ما ته د اردو يوشعر رایاد شو.

دیکھا جو تیر کھا کے کمین گاہ کی طرف

اپنے ہی

دوستوں سے

ملاقات ہو گئی

ما چې په خپل شپږ ديرش کاله دور ملازمت کښې ځان د کومې خبرې نه ساتلو يعنې د پرنسپلۍ، نه مې دډه کوله بورډونو ته مې هڅه نه کوله او دامتحان ډيوټو له به ډېر نه تلم. چې ځان د دې بدنامۍ نه اوساتم. خو جميل يوسفزی په يوه لطيفه کښې زما هر څه په اوبو لاهو کړل. ما ورته په موبائل ټوله قيصه تيره کړه. چې تا څه ليکلې دی او څه دې اوريدلی دی دا بيخی غلط دی. اصل خبره دا ده چې په کال 1986 کښې چې کله مونږ کراچۍ ته په ټور تلی وو. په حساب کښې د 5600 روپو کمے راغلے وو. مونږ بيا په اصل بل کښې په ځان پسې بقايا راوستې. البته په رف بل کښې مونږ ورکې شوې ليکلې وې. دغه رف بل ځنې پروفيسرانو ليدلے وو. هغوئ د اصل بل نه نه وو خبر شوی. هيڅ څوک هم په سرکاری بل کښې گم شده نه شی ليکلے. او نه به ئې مجاز افسر ومنی. په دغه روپو ئې د تيمرگری کالج جومات له پکے اغستے وو. تا به زما نه تپوس کړے وو. هغه اووې دا

خو غلطي شوې ده. معافي غواړم بل څل به د دې تصحیح اوکړم. خو خبره دا دهٔ چې معافي خو اوشوه. ولې زما چې کومه بدنامي اوشوه. هغه خو اوس نه راګرځي. ما ته کړاؤ جوړ شو. په دې مقاله او په خپل راتلونکي کتاب کښې به د دې پوره وضاحت وړاندې کؤوم. زهٔ ټورونو له ډېر تلے یم. یعنې دوهٔ څله کراچۍ ته او نور نزدې سوات، تربیله او د مری د درګۍ کالج نه هم ډېر تلے یم. اوږد ټور پکښې د ګلګت وو. خو زهٔ به هله تلم چې بل څوک خواهشمند به نه وو. زما اصل مقصد به صرف سېل او د ملک مختلفې حصې لیدل وو. په دې ټورونو کښې به زهٔ همیشه قرضدارے کیدم. په ټور کښې زما سره دویم انچارج پروفیسر فضل حسین نیازي (مرحوم) هم وو. دغه 5600 روپۍ مونږ دواړو ته کمې شوي وې. او مونږ د بِل سره پرنسپل ته حواله کړې وې.

د جمیل یوسفزي کتاب په خواؤشا کښې ډېر خور شوے دے هر سړي کتلے دے څوک راته وائي په تا خفه یو. ستا نه چا پیسې پټې کړې دي. څوک وائي په تا ډاکوان پېښ شوي دي. څنې وائې چې کله خبر شوي یو چې ستا نه چا روپۍ پټې کړي دي. نو خوب خندا مو حرام شوي ده. د دې خبرې شپږ ویشت کاله اوشو یعنې په کال 1978 کښې د تیمرګرې کالج نه د کراچۍ په ټور کښې 5600 روپۍ زمونږ نه ورکې شوي وې. جمیل یوسفزي دومره موده پس دا خبره د لطیفې په ډول چاپ کړه. چې مطلب ئې په ما د بد دیانتۍ تور لګول دي. خو الله پاک ګواه دے چې صحیح خبره داسې نه ده. نه خو زما نه بل څل چرته پیسې ورکې شوي دي. او نه ما په بل کښې ګم شده لیکلي دي. دا

چرته يو پروفيسر د جميل يوسفزی په مخکښې ګپ لګولے دے. مصنف حقيقت وګڼلو او سمدستی ئې خبره په کتاب کښې چاپ کړه. نه ئې د بل چا نه تپوس اوکړو او نه ئې تحقيق اوکړو. دا ډېره بده خبره ده. چې د چانه اوريدلی خبره څوک وړاندې بغير تحقيق ورسوی.

جميل د نورو خلقو سره خپلې خامۍ هم په ګوته کړې دی. خو بعضې خلق ئې بغير خامو نه هم شرمولی دی، يا ئې سپک ښکاره کړی دی لکه د اباسين يوسفزی په حواله چې ئې د سلمیٰ شاهين د نوم اپوتِه کولو کومه خبره کړی ده. دا هم ښه خبرهٔ نه ده. په دې سلسله کښې چې ما د اباسين يوسفزی نه تپوس وکړو نو هغوئ ډېر په بيزارۍ سره اووې. ما هيڅ کله هم د سلمی شاهين نوم اپوتِه نه دے وئيلے. دا د دوئ خپله خبره ده. لکه يو شاعر چې وائې

دا ستا په سترګو کښې به څه پاتې شی
رقيبه يار که مې په خُله پاتې شی

د تقويم الحق په حقله چې مصنف د اختر کومه خبره کړی ده، دا هم مناسب نه ده د ايرانی کمبل غوندې د يو انسان استعمالول شکوک او شبهات پيدا کوی د تقويم الحق په حواله چې مصنف د طائر صېب کومه خبره کړی ده. دا بيخی Off the record خبره وه. جميل دا on the record کښې بدله کړه. مشران په يو بل پسې ډېرې خبرې کوی، کشران د هغوئ نه ډېرې خبرې اوری. خو هغې له څوک هوا نه ورکوی. او نه دا حقيقت دے. د طائر صېب مثال د نمر دے. او نمر طرف ته که څوک توکل کوی لاړې ئې په خپل مخ راغورزيږی. په يوه لطيفه کښې

هغوئ ليکلی دی چې د يو پرنسپل او يو پروفېسر د تور په 120 روپو جگړه وشوه خبره زياته شوه. دواړه لاندې وتل پروفېسر پرنسپل له پښه ما ته کړه. په دې ځائې کښې د همدردۍ مستحق پرنسپل وو. خو جميل يوسفزی بيا د هغه پروفېسر صفت کړے دے جميل يوسفزی څو ځايه خپلې خامۍ بيان کړې دی په کلاس کښې د الفاظو غلط وئيل معمولی خبره ده لطيفه خوند وره ده. خو د ريټارټ په بدله کښې دير ته د نقل د پاره تلل يقينا د نقل مافيا ډاډ گېرنه ده. د دير کالج د پرنسپل د ورځې کور ته فرنيچر وړل او بيا د جميل يوسفزی د هغه پېروی کول هم د حېرانتيا خبره ده. خو بيا د نوی پرنسپل د جميل يوسفزی نه ريکوری کول پرې د د پاسه د حېرانتيا خبره ده. او د زوړ پرنسپل نه په دې وجه نه کول چې د کالج فرنېچر ئې د ورځې کور ته وړے وو. او جميل يوسفزی د شپې لهذا د جميل يوسفزی دا غلا ده او د پرنسپل هغه غلا نه ده. حالانکه غلا که د ورځې وی که د شپې غلا غلا ده. نو پرنسپل له پکار وو چې د زوړ پرنسپل نه ئې هم ريکوری کړی وے.

د ارمانی صېب پکښې هم مصنف څه واقعه بيان کړی ده. چې گنې د خپل کتاب "د ا کاڼی دا کوڅې" د چاپ کولو په موقع ورسره په ډگر کښې ملگرو څه گپ لگولے وو. او هغوئ پرې بد گڼلی وو. خو کله چې ما د ارمانی صېب نه د دې واقعې تپوس اوکړو نو هغوئ د دې نه انکار اوکړو. هغوئ وئيل چې داسې څه واقعه نه ده پېښه شوی.

د امتحان په موقع چرګان خوړل يو عام دستور دے. که هر څوک په عمله کښې شامل وی چرګ ئې خامخا په برخه وی. د امتحان د يو ممتحن متعلق جميل يوسفزے ليکی چې ډېر زيات چرګان ئې خوړل. چا ورته بله ورځ په دروازه ليکلی وو «چرګانودين» د دې سپرتنډنټ په نامه کښې دين لفظ راتلو. څوک چې په نقل کولو کښې د هلکانو سره مدد کوی او د نقل حوصله افزائی کوی. هغوئ هم داسې شرمول پکار دی.

د کتاب د بعضې لطيفو نۀ که يو خوا د جميل يوسفزی د علميت اوو پوهې اندازه لګېدے شی نو بل خوا ئې د خپل ذهانت او حاضر دماغۍ رعب اچولے دے. او لکه د فلمی هيرو چرته چا نه دے ملامته کړے او نه ئې ماتے خوړلے دے. په هره موقع بريالے پاتې شوے دے. د يو هلک د پروفېسر سره د مينې ذکر هم مصنف ډېر په دلچسپه طريقه کړے خو د يو پروفيسر ذکر په داسې طريقه د هغه سپکاوے دے. د کالجيټ سکول د قاضی صېب د باد مخالف خبره لږه د شرم خبره ده. خو په دې کښې هيڅ شک نشته چې دغې قاضی صېب به دا خبره پخپله کړی وی. او چې خبره دويم کس ته ورسی نو بيا څوک په چا پابندی نه شی لګولے او نه څوک په چا پرده اچوی.

د جميل يوسفزی په دې کتاب کښې دهغوئ د پيدائش تاريخ 24 جون 1960 ليکلے شوے دے. خو د هغوئ په مخکښې کتاب پشتو میں مستعمل فارسی ضرب الامثال و محاورات کښې د دوئ د زېږيدو نيټه 21 اپريل

1960 لیکلے شوی ده. دا تضاد د جمیل په مزاج او اسلوب کښې هم موجود دے. یعنې هم د باغ و بهار طبیعت خاوند دے او هم د ګرم. د چا ئې صفت کړے دے او څوک ئې شاغوت کړی دی.

په دې کتاب کښې د پروفېسرانو په حقله څنې لطیفې ډېرې مزیدارې دی. لکه په ګرلز کالج مردان کښې د یو پروفېسر په ورتلو د جینکو چغې وهل پروفېسر بستره بند په خېر اباد کالج کښې د څوکېدار نه د ځان خلاصولو د پاره د دفتر شیشه ماتول د چترال کالج نه د بدلۍ دپاره اسانه نسخه د پرنسپل سره جګړه کول. دا ټولې ډېرې د ستائینې وړ لطیفې دی.

په لطیفه نمبر 62 کښې لیکلی دی.

د طورو کالج په سټاف روم کښې یو پروفېسرمانه بال پوائنټ اوغوښتلو لږ ساعت پس هغه لېټرین ته لاړو. چې راغے نو بال پوائنټ ئې ما ته واپس کړو. ما غیر ارادی طور بال پوائنټ بوئې کړو. او بیا مې سمدستی ګذار کړو. نه پوهېږم چې بال پوائنټ سره ئې څه کړی وو. دا لطیفه هم د جمیل یوسفزی د ذهنی کج روئ یوه نمونه ده.

که دا خبره د یوماشوم یا د عام بنده وے نو خېر دے . خو د یو پروفېسر په حقله احساس داسې په جار ښکاره کول مناسب نه دی. پرده پرې اچول مناسب وو. فارسی وینا دهٔ مسردم پیش سبه مسردم محبل مکن د کتاب په کتو به ډېر پروفیسران خوشحاله شی او ډېر به خفه شی. ډېر به د حیرت ګوته په خُله پاتې شی. بهر حال د لږې ډېرې اصلاح سره دا یوه ښه تجربه ده. دوئ له پکار دی چې د پروفېسرانو

اصلي خامي لکه په امتحانونو کښې پېسې اغستل د پرچو په کتلو کښې پېسې اغستل په خريد وفروخت کښې کمېشن اغستل، په بورډونو کښې په پرچو پسې ګرځېدل او داسې نورو خامو ته هم پام را وګرځوي. او دغه خلق بې د څه پرې جنبې په ډاګه کړي. بله دا چې د خپلې برادرۍ د مسئلو نشاندهي کول په مناسب طريقه او په معاشره کښې استاذ ته خپل مقام ورکولو په لړ کښې کوششونه کول ضروري دي. د نورو محکمو خلق د خپلې محکمې د خلقو ډېر خيال ساتي. د يو بل ډېره حيا ساتي. د تدريس د پيشې سره تړلي خلق يو بل شرموي. دغه وجه ده چې عوام د نورو محکمو د اهلکارو ډېر قدرکوي خو د تعليم د محکمې د ملازمينو هغه عزت نه کوي د کوم چې دوئ حقدار دي.

د يو استاذ نه که يو لفظ غلط شي نو خبر د ے. غلطي د انسان نه کيږي په يوه معمولي غلطۍ هغه شرمول نه دي پکار . د نورو محکمو خلق که داسې غلطۍ اوکړي چې هم تري مالي نقصان وشي او هم ځاني خو چې د دغه محکمو خلق په خپله غږ نه کوي نو هر څه د وخت په ګردونو کښې پټ شي. غلطي غلطي ده که د هر چا وي د هغې نشاندهي او اصلاح پکار ده.

خلق د يو بل نه بال پوائنټ غواړي. خو چې د جميل يوسفزي نه يو پروفيسر اوغوښتو نو رسوا شو. پروفېسرانو ته خواست د ے چې هغوئ د جميل نه نه خو بال پوائنټ غواړي او نه دې ترې د څه لفظ تپوس کوي. او که نه قلاريږي نو دغسې به شرميږي.

جمیل یوسفزی په کتاب کښې ځو ځایه د طنز په طور د ځان د پاره د کمیونسټ اصطلاح استعمال کړې ده. خو د دوئ نه هېر دی چې دا ټکے د تیرې صدئ د ے. او چې څه تیر شی هغه هېر شی. دا لفظ په اویایمه او اتیایمه عشره کښې استعمالول فېشن وو. نن سبا خلق د نورو خبرو سره مخ دی ددې مقالې د لیکلو په اخر کښې زۀ په سوچ او فکر کښې لاړم. سر مې په مېز کېښودو. ما وې چې نور څه ولیکم په هره لطیفه څه لیکل غواړی. په سوچ کښې لاړم د طائر صېب خواله ، هغوئ ته مې اووې که خوښه مو وی نو چې په جمیل یوسفزی پسې غلامان کلی ته ګیلې له لاړ شو. طائر صېب سمدستی ګاډے راویستو. په لاره ما د پیر جهانزیب صېب سره رابطه وکړه. هغوئ اووې ګیله مې شته خو خُله مې بنده ده. ځکه چې زما ئې لړ پالش هم لګولی دی. خېر ځم درسره خو خبرې به ته کوې نور پروفېسران مې هم د ځان سره کړل. غلامان کلی ته ورسېدو. د چا نه مو د جمیل یوسفزی تپوس اوکړو هغه اووئیل صحرا ته تلے اوس به راشی مونږ پسې صحرا ته مخه اوکړه څه ګورو چې په یو لوړ کمر ناست د ے. څه لیکی په ښکالو پوهه شو. مونږ ته ئې اوکتل خو غږ ئې ونه کړو. ملګرو ما ته وکتل او ما هغوئ ته یو کس اووې که څه ګیله کوې نو دا وخت د ے دغه وخت ما ته یو فلمی سندره رایاده شوه. جوړ هغه مې په خوږ اواز شروع کړه.

لئے آنکھوں مــیں غــرور۔ایسے بیٹھے ہیں حضور
جیسے جــانتے نہیں۔پہچــانتے نہیں

نگاہوں میں بسا کر۔ تمہیں اپنا بنا کر
یہ شان دلربائی۔ دہائی ہے دہائی
اور اس بانکپن ہے۔ نظر توبہ شکن ہے
کر کے دل کا شیشہ چور۔ ایسے بیٹھے ہیں حضور
جیسے جانتے نہیں۔ پہچانتے نہیں

جمیل یوسفزی سمدستي مخ راواړولو او دائې اووې.

ما په پوهانو کښې حساب کړئ تاسو منئ که نه
یاد مې په خپل نوی کتاب کړئ تاسو منئ که نه
ما خو لیدلی اوریدلی او کتلی چاپ کړل
بیا مې حقدار د خپل جواب کړئ تاسو منئ کنه
زما مقصد د چا د زړهٔ ازارول خو نه وو
خبر مې تاسو په دې باب کړئ تاسو منئ که نه
دا لطیفې فقط په خیال د لطیفو اوګورئ
نور ئې په ګپ باندې حساب کړئ تاسو منئ کنه

دا ئې اووې او زمونږ په لوری را روان شو. زهٔ سمدستي د سوچ د دنیا نه رابهر شوم. د ځان سره مې اووې. هلکه دا خو روغه خبره ده. مونږ هسې ګیله من یو.

نوټ: (لوستونکو ته دې دا خبره واضحه وی چې زمونږ غلامان کلی ته دا تګ بیخی خیالی دے).

داسې هم کيږي

پروفيسر فضل کريم ناشاد



د ليکوال د قلمه نور

## چاپ آثار

☆ پئيلي ملغلرې
〈پښتو نظم〉

☆ د مشکو نافې
〈پښتو نظم〉

☆ د مينې اور
〈پښتو نظم〉

☆ ستا منزل منزلونو کښې يمه
〈پښتو نظم〉

☆ داسې هم کيږي 〈مزاح〉
هم دا کتاب

## ناچاپ آثار

☆ پخوا او اوس
〈مزاح〉

☆ د نعتونو مجموعه
〈نعتونه〉

☆ د تپو انځورونه
〈تپې تصويرونو سره〉

☆ انوکھے خواب (نثر)

جان کتاب کور